# سیاست ته کتنه

لیکوونکی:

محمد سرور حازم

کال ۱۳۷۶

Download from:aghalibrary

# سیاست ته کتنه

PROPERTY OF
ARIC
Established
1999

لیکوونکی:
محمد سرور حازم
کال ۱۳۷۶

Download from:aghalibrary

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

Download from:aghalibrary

## د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : سیاست ته کتنه

لیکونکی : محمد سرور حازم

د چاپ کال : ۱۳۷۶ لمریز کال

چاپ او کمپوز : صبور لیزیر کمپوزینگ

۱۲۲ گل حاجی پلازه ارباب رود ، تیلفون: ۴۵۳۱۸

تیراژ : ۱۰۰۰ توکه

د گل محمد صاحب څخه د کتاب چاپولو او فرهنگي مرستې په هکله مننه کوم.


زما ورونو انجینر عطا الله او حشمت الله ته.

Download from:aghalibrary

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

Download from:aghalibrary

# فهرست


| شماره | عناوین | پاڼې |
|---|---|---|
| سریزه | | الف |
| یادونه | | ز |
| لمړی برخه | | |
| | ۱- ټولنه، حکومت، او سیاست | ۱ |
| | د سیاست تاریخچه | |
| | د سیاسی علم تعریف | |
| | ۲- ځواک | ۱۸ |
| | الف- نفوذ | |
| | ب- جبر | |
| | ج- صلاحیت او واکمني | |
| | ۳- مشروعیت او صلاحیت | ۲۳ |
| | ۱- عنعنوي صلاحیت او واک | |
| | ۲- قانونی واکمني | |
| | ۳- کریزمه (جذابیت) یا محبوبیت | |
| | ٤- خپلواکی (ملي واکمني) او هیواد | ۲۷ |
| | ۵- ملت | ۳۳ |
| | ٦- قانون | ۳۸ |


Download from:aghalibrary

| شماره | عناوین | پاڼې |
|---|---|---|
| دوهمه برخه | | |
| ۷ | ایدیالوژي | ٤٣ |
| | داید یالوژي تعریف | |
| ۸ | لیبرالیزم | ٤٧ |
| | کلسیک لبرلیزم | |
| | اصلاحی لبرلیزم | |
| ۹ | محافظه کاري | ٥٠ |
| | واقعي اخلاقي نظر | |
| | اورگانیکه ټولنه | |
| | دنابرابری منل | |
| | مثبت او عملي دولت | |
| ۱۰ | سوشلیزم | ٦٣ |
| | د سوشلیزم مرنړیوال نظر: طبقه | |
| | عامه او ملي شته | |
| | عامه سوساینی چارې او آزادي | |
| | دفابین سوشلیزم له نظره تدریجي دیموکرسي | |
| | تدریجي سوشلیزم د انسان طبیعت په هکله | |
| ۱۱ | د مارکس تیوري (مارکسیسزم) | ۸۱ |
| | پوائینی لار انقلاب | |
| ۱۲ | فاشیزم | ۹۱ |


Download from:aghalibrary

| شماره | عناوین | پاڼې |
|---|---|---|


فاشیزم په تیوري او عمل کی

۱۳ - امپریلیزم ۱۰۱

دلینین نظر امپریلیزم په هکله

مارگنتا د امپرنلستي نظرېی ردلو په لته کې

۱٤ - هیجیمونی ۱۱۱

۱۵ - کلونیلیزم ۱۱۵

د مستعمرو نیونه په درې لویو وچوو کې

۱٦ - نشنلیزم ۱۲۱

دولت

ملتونه

ملت-دولتونه

وطن پالنه

۱۷ - کینې، منح، او سبنی اړخ ۱۳٤

# سـریـــزه

ځنګه چې له عنوان څخه ئی ښکاری دا کتاب د سیاست او هغو پسی ترلو مسایلو په هکله په لنډه توګه لیکل شوی او په دوو برخو ویشل شوی دی. لمړی برخه کې دسیاست، حکومت، او صلاحیت په هکله بحث شوی؛ دوهمه برخه ئی ایدیالوژیو معرفی کولو ته وقف شوي دی.

د سیاست په هکله -څه په ګروپی او یا فردی ډول- مختلف تعبیرونه موجود دی ځینی سیاست د ټولنیزو علومو یوه مثبته، ښه، او ګټوره څانګه بولی. ددی نظر په بلی خوا کې سیاست، تزویر، او دروغو سره مترادف بللل شوی دی. د دوی ترمنځ یو شمیر نوره سیاست ته نه هغه شیطانی بڼه ورکوی چې لومړی ډله ادعا کوی او نه هم سیاست پاره هغه ملکوتی مقام غواړی چې د غلومو په تخت باندی جلوس ورکی.

له هغه ځایه چې سیاست، حکومت، او صلاحیت خپل مینځ کې نږدی اړیکی لری سیاسی چارو کې مداخله کونه موږ د واک او حکومت پوښتنې سره مخامخ کوی. د حکومت کولو په هکله زموږ په ټولنی کی دوه بیل نظرونه موجود دی: یو اسلامی نظر دی چې حکومت ئی له دین سره یو ځای کړی دی. د حکومت کولو اندیښنه د افلاطون په لیکنو کې هم څرګنده شوی

ده. نوموړی دا پوښتنه د مناسب او گټور حکومت په هکله کوی یعنی څوک باید حکومت وکی؟ په اسلامی سیاسی فلسفی کې د حکومت کولو پاره مستحق سړی هغه دی چې د الله (ج) او رسول الله (ص) په لار روان وي او د پوهی او تقوی خاوند وي. پدی یو واکمن نه یوائې روحانی مقام لري بلکه هغه دنیوی امورو پرمخ بیولو پاره هم مستحق او مناسب شخص گڼل کیږی. ځکه هغه د ځان غوښتنې، مادی هوسونو، او مقام غوښتنې څخه باید منزه وي نو دا ډول وگړی کولی شي د ټولنی هیلی، ضرورتونه، او غوښتنی بی له ځانگړی ملحوظاتو وساتی او وده ورکي.

له بده مرغه دا ډول عالي ټولنی په اسلامی نړۍ کې محدود شمیر دی. د حضرت رسول اکرم (ص) او دڅلوریو راشده خلفاؤ حکومتونه ئی ښه مثالونه دي. خو وروسته له هغه داسی ایډیالو ټولنو سره نه مخامخ کیږو. مشتاق واکمنان د اسلامي ارشاداتو او دفاع کونی پلمو په بنا د قدرت په کرسی تکیه کوي او هغه ځانو ته منحصروي. خو پدی ترڅ کی هر بی مسؤلیته قدرت غوښتونکې رقیب دی ادعا د پاره هڅی کوی. که څه هم قرآن شریف کې په صراحت سره د الله تعالی، پیغمبر (ص) او د (صالح) واکمن اطاعت غوښتنه شوی خو مشتاقو حکمرانانو د اسلام په تاریخ کې خپلو ځانگړو گټو پرمخ بیولو پاره سؤ استفاده کړی او ځینو مقولو او روایاتو څخه - لکه السلطان ظل الله فی الارض - نهایی حده پورې کار اخستی. د افغانستان مجاهدینو څو تیرو کلو قدرت غوښتنی هلی ځلی سبب شوی چې پدی عصر کې زموږ هیواد بی ساری بدبختیو سره مخامخ

شی.

دوهم په غربی سیاسی فلسفی کې سیاست برعکس له خپل لاهوتی مقام ځخه ناسوتی نړی ته راټیټ شوی دی. پدی توګه هغه څوک چې د حکومت واګی په لاس کې نیسی د معنوی امتیاز درلودو په اساس حکومت نه کوي بلکه دده واک او صلاحیت د خلکو په ارادی او غوښتنی کې نغښتی دی. که چیری یو واکمن وکړای شي یوی انتخابی دوری- معمولاً له ٤ تر ٧ کلو- کې د یوه هیواد اکثریت رأی وګټی خو- د ځینو دلایلو په علت ونکړای شي- د خلکو اعتماد او ملاتړ ځان شاته وساتی نو دا فرضی شخص د حکمرانی چانس دوهمی دوری ته له لاسه ورکوی.

دی نشی کولی د هیواد پوځی قدرت ځخه د خپل حکومت ادامی پاره ناوړه استفاده وکي او یا هم جبری او قهریه وسیلی نه کار واخلي او د زرګونو او حتی لکونو- اکثراً معصومو- وطنوالو په وینو تویولو سره خپل لاسونه سره کي بلکه دا وګړی مجبور دي چې د خپل ملت ارادی او غوښتنی ته سرټیټ کړی او بل منتخب فرد- یا ډلی- ته د حکومت کولو پاره ډګر پریږدی.

پدی توګه د حکومت انتقال بی له وینو تویولو ، ګډوډی، بربادی، او بی امنیتی له یوه شخص یا ډلی ځخه بل وګړی ته سپارل کیږي. ضمناً د لمړی ډلی حکومت ګټنو لار کاملاً ندی تړلی شوی بلکه په مثبتو او مؤثرو کړو وړو خلکو ته د منلو وړ خط مشی په وړاندی کولو سره بیا هم د سیاسي واک اخستلو امید لری. که څه هم په غربی دیموکرسیو کې د قدرت واګی تل

نوی متصدی ته په کاملاً عادلانه او منصفانه توگه نه سپارل کیږی او انسانی ضعف او نقص پکې لیدل کیږی، خو د افغانستان تیرو څه کم دؤ لسیزو په عملی توگه وښوده چې غربی سیاسی سیستم عملی کیدنه زموږ په ټولنه کی ممکن ډیر لږ مضر تمام شی او له بیځایه او بی موجبه وینو تویولو څخه مخنیوی وشی. نو چر چیل بیځایه ندی ویلي چې لویدیځ دیموکراتیک نظام سره ددی چې نیمگړتیاوی لري خو پدی عصر کې یوائینی عملی سیستم په نړۍ کې شمیرل کیدلی شي. باید دا ټکی هم په نظر کې ولرو چې اسلامی حکومتونه هم د خلکو رضایت او ارادی ته ضرورت لري او پرته له ځینو غیر مشابه ټکو نور کوم تناقض د لویدیځ او اسلامی سیستم تر منځ د عامه رأی په هکله نه لیدل کیږی. هغه ډلی چې خپل قدرت ساتلو په لټه کی دي ممکن ددی ډول سیاسی نسخی تجویز رد کی.

د حکومت کولو بحث سره د ایدیالوژی او د حکومتونو متودونه هم چې د کتاب دوهمه برخه جوړوي اړیکی لری. په شلمه پیړی کی د رقیبو ایدیالوژیو مؤثریت او رقابت ادعاؤ جدی ځیره غوره کړه. که څه هم تقریباً د ټولو معاصرو ایدیالوژیو ابتدایی ریشی له ماتریالیزم څخه نیولی تر ایدیالیزم او کمونیزم... پوری د لرغونی یونان په فلسفی کی پیدا کیدلی شي خو د ټکنالوژی، ساینس، او ټولنیزو علومو پرمختگ سره ایدیالوژیو هم تقریباً موازی وده وکړه. دی پاره چې خپل حقانیت ثابت کی هره ایدیالوژی د فلسفی په راغونو، منطق او دلیل په باغونو، او د علومو په

د گروپونو کې قدم وهي او هر څه چې د دوی د لاملو پخیدو پاره گټور وي په عاریت اخلي او خپلي ایدیالوژي پاره ئي د هضمولو وړ گرځوي بیا څومره چې دوی ته ممکن وي ددی نسخي په تبلیغ او ترویجولو سره ځانو ته د زیاتو مشتریانو پیدا کولو په لټه کې دي. د هر سیاسی مکتب ملاتړ کونکی د خپلي لاری حقانیت دفاع کوی له بده مرغه د هیواد دننه او هم په نړیواله سطحه د ایدیالوژیو مباحثی کله یواځی منطق ته نه محدود یږی.

یواځی پدی پیړی کی د ایدیالوژیو حقانیت ثابتولو پاره په میلیونو معصومو انسانانو وینی توبی شوی بی له هغه چې دوی د یوی ایدیالوژی څخه دفاع کړی وی حتی ددی ناوړو پیښو زیات شمیر قربانیان شاید ددی کلمی مفهوم سره څنگه چې انتظار ویستل کیږی په پراخه او دقیقه توگه بلدیت ونلری. یوه نمونه ئی هم زموږ هیواد بیوزلی او کم بخته وطنوال دی چې خپل اولادونه ئی پدی ستونځو کی لوی کړل او په زرگونو نورو کورنیو خپل ماشومان ددی کلمو خپل منځی رقابت کولو پاره له لاسه ورکړل. یواځی د شهیدانو شمیر څه کم دوه میلونه اټکل شوی دی. سوال پیدا کیږی چې آیا پدی هکله سیاست، حکومت، او ایدیالوژی تقصیر لري؟

د پوښتنی روښانه ولو پاره به ایدیالوژی چاړې ته تشبیه کړوو. که چیری موږ خپل غرایز او ځان غوښتنی له انسانی حالت نه شیطانی وضع ته تیتی کړو نو له ایدیالوژی څخه به د چاړی په توگه ژوبلولو او وژلو پاره کار واخلو، خو که چیری مونږ د یوه نورمال انسان په توگه خپل امیال او هوسونه تر یوه حده کنترول کړو نو لدی چاړی څخه به د ول د ول د وډی خوړلو پاره استفاده وکړو نو په نهایت کې به د انسان مادی او معنوی ودی او تقویی پاره تری کار واخلو.

د هری ایډیالوژۍ پیروان له سیاسي او ټولنیزو محافلو څخه د درک او درناوي توقع لري او د ضرورت احساس په صورت کې د ممکنه وسایلو څخه د هغو تطبیقولو پاره کار اخلي. زیاتره وخت دوی دا امتیاز او تمجید ځانو پاره یوائښی ثواب لار شمیري. ځینې په دګماتیکه توګه د بشریت نیکمرغي او هوساینه او په نهایت کې د انسانانو د نجات هدف پخپلې لار کې لټوي؛ یو شمیر نور خپله ایډیالوژي ځکه معقوله ګڼي چې دوی هغه د عملي پروګرامو تطبیق، د اقتصادي ودې او ټولنیزو هوساینې اصلي، او کله هم یوائینۍ لار شمیري پدې مورد کې دوی دومره ټینګار او مبالغه کوي چې د ایډیالوژۍ پلې کولو هدف لوړ مقام ته رسیدلو سره موازي بولي.

شاید ددې سیاسي مکتبونو یوه ډله له بلې سیاسي ډلې څخه په ځینو مواردو کې مزیت ولري خو دا ګرانه دې چې یوه ایډیالوژي په مطلقه یا د منلو او یا هم د ردولو وړ وګڼو. په نسبيّ ډول او په اوږدې مودې کې ځینو ایډیالوژیو نسبت نورو ته د عمل په ډګر کې د انساني معقولو غوښتنو پاره مثبت او موثر ګامونه اخستي دي. خو سره ددې هم د دوی په نیمګړتیاؤ باندې د توجه ګوته ایښودل کیدلی شي هغه لار به ډیره مؤثره ثابته شي چې د وخت په تیریدلو او د عملي تجربو سرته رسولو سره ځینو جدي تعدیلاتو څرګندولو پاره تیاري وښیي. تراوسه اجباري او تحمیلي سلوک څخه تشویقي او ترغیبي متود زیات مؤثریت ښودلی دی. تاریخ نور هم د ایډیالوژیو دی نسبي بریالیتوبونو او ناکامیو ته انتظار باسي او ګوري چې په راتلونکي کې به دوی په سیاسي ډګر کې ځانو ته زیري ولري او که ناوړه نتایج خلکو ته ور په برخه کې- پدې هکله به زه قضاوت د لوستونکو په غاړه واچوم.

# یادونه

ددی کتاب لیکلو وخت کې ځینو سیاسی اصطلاحاتو او کلمو سره مخامخ شوم چې زموږ په ژبه کې د هغو پاره دقیقو معادلو لغاتو کمبودی احساس راته پیدا شو ځکه چې اکثر سیاسی لغات باندنی ژبو څخه پښتو ته معرفی شوی او په هغی کې په کار اچول کیږی. ددی نقصان دلیل په دؤ علتونو کې لټولی شم. یو دا چې زه هم په پښتو ژبه کې دلیکنی کافی توانایی نلرم او پدی هکله، ما د سیاسی ادب نیمگړتیاؤ احساس کړی دی. پدی منظور ما اکثراً د باندنیو ژبو هغه سیاسی لغاتونه او اصطلاحات چې په پښتو ژبه کې نسبتاً زیات مروج دی استعمال کړی. کله می د مطلب روښانولو پاره ځو مترادف یا متشابه او نسبتاً آشنا لغاتو څخه کار اخیستی تر ځو هغه درانه لوستونکي چې سیاسی اصطلاحاتو سره زیات بلدیت نلری د مطلب درکولو ستونځو سره مخامخ نشی.

بله وجه ئی دا دی چې په پښتو ژبه کې هم د ځینو سیاسی لغاتو فقدان موجود دی له نیکه مرغه دا خلا د مربوطه ځانگې پوهانو او نظر خاوندانو لخوا مخ په ډکیدو دی ما دا صلاحیت له خپل ځانه سلب کړی چې د معادلو لغاتو پیدا کولو په لټه کی شم.

که څه هم یو شمیر محدودو پښتنو ورونو لخوا دا هڅی پیل شوی دی چې په پښتو ژبه کی نوی لغات وضع کي او یا هم پکې نوښتون راولی پدی

نیت چې پښتو ژبه کې غنا راوړي. خو دا ویره شته چې ددي ډلې پښتنو ورونو خالصانه هڅې له ځانه منفي اثر پریږدي. شاید د دوی دا ابتکار د منلو او تحسین وړ وی خو موثره لار به ئی دا وی چې د ادبی پوهانو کمیټی په تائید او مشوری نوی لغات پښتو ژبی ته وړاندی شی ځکه ددی ځانگی نظر خاوندانو یا کمیټی وروسته له کلونو څیړنو دا صلاحیت حاصل کړی چې پدی هکله تصمیم ونیسی نو گټوره لار به دا وی چې دا مسؤلیت د دوی په غاړه واچوو. په تیرو څو کلونو کې څو لغات پښتو ژبه کې مروج شوي چې د ټولو پوهانو لخوا تائید وړ ندی گرځیدلی او پدی هکله داسی اندیښنه ښکاره شوی دی چې ممکن ځینی بی ریشی، بی شکله، او یا بی تناسبه نوی لغات زموږ ژبی ته معرفی شی.

نو د پښتو دقیقو لغاتو استعمال کیدو او یا د نوؤ لغاتو نه ویستلو نه ډډی کولو په عذر سره ماته دا فرصت پیدا شو چې خپل متواضع نظر هغو پښتنو ورونو ته چې دوی د پښتو ژبی ودی پاره هڅې کوی وړاندی کړم او هم د کتاب نواقصو کبله هم درنو لوستونکو ته پدی هکله خپل عرض وړاندی کم چې پدی کتاب کې به لفظی او گرامری غلطی منځ ته راغلی وی گرچې ماتر خپل وسه پوری سعی کړی چې په ساده او واضحه توگه ئی ولیکم.

ممکن دا کتاب نه یوازې د اجتماعی علومو محصیلینو پاره گټور تمام شی بلکه هغو لوستونکو ته چې غواړی د سیاست په سیمه کې د ایدیالوژیو په باغونو او راغونو کې قدم وهی هم خالی له جالبو ټکو نه وي. دوی به لدی سفر څخه کله د ایدیالوژیو بوټی، یا گلان، او یا هم نیالگي تر لاسه کي پدی امید چې د نړۍ سیاست په بازار کې هغو سره نسبی آشنایی حاصله کي.

# سیاست ته کتنه

## لمړی برخه

### ۱ - ټولنه، حکومت، او سیاست

ټولنه د انسانانو مخلوق دی. دوی (انسانان) د نورو حمایی ته ضرورت لري نه یواځی دې پاره چې ژوندی پاتی شی بلکه دې پاره چې په ښه توګه ژوند وکړی. په ځانګړی توګه د انسانانو ژوندانه آثار ندی پاتی شوی یا لږ تر لږه تراوسه پیدا شوی ندی. تر هغه پورې چې څرګنده دی انسانانو په ډله ایزه توګه د کورنی یا ډلی په شان ژوند کړی دی.

هیڅا ټولنه خلق یا ابداع نه دی کړی او د انسانانو بی شمیره عمل او عکس العمل، او معاملو نتیجه دی. ټولنه نه هغه فرد دی او نه هم هغه سازمان دی چې له خپل ځانه اراده ولری چې انسانان په هغه کې خپل ژوند ته ادامه ورکې. موږ کله پخپلو محاورو کې په مجازی توګه وایو چې ټولنه «داسی» کوی یا «داسی» غواړي. اما د داسی کلمو استعمال باید تحت اللفظی مطلب افاده نه کی.

ټولنه پيژندونکي معتقد دي چې ټولنه د انسانانو هغه ډله دی چې غړی ئی د اوامر او نواهی او قانونی انتظام او سلوک په مقابل کی ژوند کوی. د انسانانو ټولنیز فعالیتونه او کړه وړه لکه واده، کار او تفریح د پورتنی انتظام سیوری لاندی سرته رسیږی. ټولنه په هغه صورت کې خپل ژوند ته ادامه ورکوي چې انسانان د ټولنی اکثر اوامر او نواهی او تنظیم شوی سلوک او مقرراتو په واسطی قادریږی چې یوه بل سره پوه شي، د یوه بل کړه وړه درک کي، اټکل وکی، او عکس العمل وښيي. مثلاً د غربیانو په کړو وړو او مقرراتو کی مسکا د خوشحالی او لذت وړلو نمایندگی کوی، خو جاپانیان چی دی سمبول سره نا آشنا دی ممکن هغه د خطر علامه تعبیر کی. په هر صورت په خاصه توگه دا موضوع جدی او مهمه ندی چې تبسم د لذت او یا د غصی علامه دی بلکه مهمه دا دی چې په ټولنه کې له هغه څخه مشابه مطلب واخیتسل شی. پدی قوانینو پوهیدنه او د هغو په اساس افرادو ترمینځ ژوند کول د ټولنی له ضروریاتو څخه گڼل کیږي.

بی نیازی او په ځان بسیا توب Self-sufficiency یو څه مغلق او مشکل مفهوم لری. په تاریخ کې ممکن ډیری محدودی مستغنی ټولنی تیری شوي وي چې له بلی ټولنی هیڅ شی لکه واده، تجارتی اموال، او نظریه او تخنیک ترلاسه کړی نه وی او که چیری تیری شوی هم وی شمیر به یی محدود وي.

تنظیم شوی مقرراتو، کړو وړو او هم په ځان باندی اتکا کولو ته په کتنی سره داسی ښکاری چې مشکله او گرانه دی چی ننني عصری ټولنو مینځ کی

په واضحه توګه دا خط وایستل شی څکه د انسانانو په منځ کی په نړیواله سطحه دا ایډیاؤ او اموالو مبادله دومره زیاته شوی چی له یوه بله استغنا ء او بی نیازی تقریباً له مینځه لاړه دی. د 15 پنځلسمی پیړی، را پدی خوا د غربی ټولنو پرمختګ او په صعود سره ددی ټولنو کلتور لکه تحصیل، زده کړه، کالیو اغوستنه، په میز باندی ډوډی خوړنه، اقتصادی هلی ځلی، او نوره کړه وړه په نړی کې مخ په خپریدو دي. نو په یوه حساب د سیمه ایزو "Regional" توپیرونو مینځه تلو سره نړی یوه ټولنه ګرځیدلی. یو تن کولی شی بل ځای ته سفر وکی او حتی بلی لوی وچی او براعظم په ښار کې کار وکي بی له هغه چې د ټولنې د ژوندانه ژور خطونه او سر حدونو توپیرونه احساس کي. سیاسی پوهنی پیژندونکو ته یوه ټولنه په قضایی، سیاسی، او حکومتی پولو ندی ټاکل شوی مثلاً دوی ته امریکه، انګلستان، او کاناډا د ټولنی په توګه نه بلکه د سیاسی هویت په توګه چی د حکومت په واسطی پراخه شوی وی تشخیص کیږی. کاناډا په مجموع کې غربی ټولنه یا د غربی ټولنی یوه برخه یادیږی. خو په ضمن کې کاناډا خپل مینځ کې مختلفی سیمی لري چې هره یوه ئی په نسبی توګه تر حده ځانته د بیله اجرأتو او سلوکو نمونه هم ګڼل کیږی. اما دی کتاب کې ټولنه او حکومت یوه بل څخه مشخص شوی.

حکومت د هری ټولنی یوه برخه دی. ددی جریان جوړول او د تصامیمو عملی کول په ټولنه باندی په جبری توګه صورت مومی. هر مؤثر حکومت اقلاً باید لاندنی وظیفی په مؤثره توګه پرمخ یوسی: د ټولنی ساتنه باندنی

تيري او يرغل مقابل کې: د ټولنې په مينځ کې د اوامرو او نواهي اجرأت؛ مقرراتو او سلوکو تنظيمونه او تطبيقونه؛ او د ټولنې په مينځ کې د مناقشې او شخړې حل کونه ددې وظايفو عمومي مشخصه باندنې او کورنې نظم ساتل دی. ټولنه د دوام لرونکې او ثابت نظم ساتلو پاره د ټاکلې او انتخاب شوې قوې استعمال ته ضرورت احساسوي. ددې وړو وظيفو ترڅنګ حکومت د خدماتو نمايندګۍ په توګه د ټولنې غړو ته نور خدمتونه هم کوي چې عبارت له پستې رسولو، سړکونو پخول، صحي خدمتونه، او مشرانو خلکو پاره د تقاعد بيمو تهيه کول دي. البته دا وظايف چې د حکومتو په واسطې سرته رسيږي اختياري ګڼل کيږي. که څه هم صلحې ساتنه د ټولنيز نظم په چوکاټ کې د حکومتونو ضروري وظايفو څخه شميرل کيدلی شي.

داسې حدس وهو چې د حکومت پخوانی او لمړنی علاقه دا وه چې د خپل ګروپ ژوندي پاتې کيدل تأمين کړي. دا چې باندني يرغل مقابل کې دفاع کوله او يا يې چيرې ښکار کاوه يا يې چيرې آزوقه راټولوله؛ او يا يې هم بل انساني ګروپ چوروه په بالقوې توګه د ژوند او مرګ خبره او سوال مطرح ؤ. نو دې کبله همکاري او په ګډه کار کونه په کامله توګه د افرادو بلهوسې او شخصي هيلو ته نشوه پريښودلی. په ابتدايي ټولنو کې د ښکار او جګړې په هکله د توافق او مرستې نشتوالې ددې سبب کيدې چې نه يوائې ددې ډلې ټوله غړې خطر سره مخامخ کې بلکه ددې ګروپ په مينځ کې د صلحې وخت منل شوٌ قوانينو اجرأت (لکه واده او شتو لرل) په مخاطرې کې اچوي. که چيرې ددې مقرراتو څخه تخلف صورت ومومي د ګروپ له مينځه وړلو

امکاناتو زمینه برابروي. دی کبله اجباري او جزایي مقررات سر غړونکی پاره په ابتدایي -او هم په عصري تولنو کی- ضروري ښکاري.

خو ولی قانوني اجرأتو او مقرراتو تحمیل ته ضرورت پیدا کیږي؟ ولی انسانان دا مقررات نه مراعاتوي؟ نسبت حیواناتو ته د انسانانو په مینځ کې د قانون مراعاتولو او تابعیت مشکل د دوی ذهني هوښیاري او ذکاوت درلودو کبله ډیر مغلق دی. انسانان نه یوازې قانون تعقیبوي بلکه هغه باندي پوهیږي، هغه جوړوي، هغه باندي فکر کوي، او هڅې کوي چې خپلو ګټو پرمخ بیولو او خوندي ساتلو پاره په هغو تسلط پیدا کی. کله چې د قانون اجرا کولو په هکله په خاصو شرایطو کې د نظریو توپیر څرګندیږي د درستو او غلطو اصولو په هکله انسانانو په مینځ کې د نظر توپیر پیښیږي. احیاناً که مورد مطلقو مسایلو په منلو توافق ته ورسیږو بیا هم د هغو عملي کولو په هکله مشکل او د توافق نشتوالي پیدا کیږي. مثلاً یوه تولنه کې دا معمول دی چې سالم او قادر خلک باید خپل کلي او قبیلې څخه دفاع لپاره وجنګیږي. داسې قانون د دی ګروپ ژوندي پاتې کیدو پاره ضروري ګڼل کیږي. که یو تن ځان سره ووایي چې که زه جګړی کې ګډون ونه کړم نور خلک برخه اخلي او پدی توګه د ده ګروپ ممکن خپل ژوند ته ادامه ورکړي. نو د مرګ له خطر ساتلو او ژوندي پاتې کیدو پاره باید په جګړی کی له برخې اخستو پټ شم. که چیری دا فرضي سړی پوه شي چې نور هم شاید همدا نظر ولري، دی شاید ځان پټ نه کړي ځکه په هغه صورت کې به د ده تولنه له مینځه لاړه شي، همدا دلیل د غلا په هکله هم صدق کوي. غل نه

غواړي هغه مقررات چې د ده شخصي د ارايي او شته تضمينوي له مينځه لاړ شي. دي يواځې ځانته دا امتياز غواړي؛ دي خپله د ارايي غواړي خو د نورو په شتو کې هم سهم غواړي.

پدې توګه د انسان موجوديت په هکله تناقض ليدل کيږي. له يوې خوا انسان ژوندې پاتې کيدو پاره تولنې ته اړتيا لري او تولنيز ژوند هم د عمومي قانون په مراعاتولو سره تضمينيدلی شي. او له بلې خوا همدا قانون ځينې خلک دې ته تحريص او هڅوي چې خپلو خاصو ګټو پاره قانون مات کی پداسې حال کې چې بايد نور د قانون مراعاتول او اجرأت ومنې. دا کار د قانون ماتونکو پاره په اوږده موده کې په ګټه تماميږي ځکه تولنه شايد خپل ژوند ته ادامه ورکي، اما لنډې مودې کې د قانون ماتونکې په ګټه هم دې ځکه دده ګټې خوندې پاتې کيږي خو پدې شرط چې نور خلک قانون مراعات کي.

دې دوه اړخيزه مشکل ته يو ځواب اخلاقي روزنه دې او بل ځواب هم حکومت کول دي. دا هغې د هغو په مقابل کې چې قانوني مقررات پښو لاندې کوي د فشار استعمال دی او پدې توګه متخلفين دقانون منبت ته غاړه ږدي. د انسانانو دا ذکاوت او بصيرت چې په تولنيزو قوانينو باندې پوه کړی دي دې ته ئې هم هڅولي چې دا قوانين او مقررات تر پښو لاندې کي. په ضمن کې انسانان دې ته هم تشويق کړی چې حکومت ته تحول ورکي تر څو سرغړونکي تنبيه کړي. نو پدې ډول متخلفين د سرغړونې په عواقبو پوهوي.

بل تناقص هم پدې هکله موجود دی. که چیرې حکومتونه د قوانینو په عملي کولو کې بیحده بریالي وي په هغه صورت کې د پرمختګ امکانات له مینځه تلل. د ټولنو تغیر یو علت دا دی چې د یوه سلوک او یا قانوني مقرراتو پر ځای بل منځ ته راځي پدې ترتیب دوی تحول پیشقدمان او منډوهونکي قادروي چې په نوؤ طریقو سره دا کار سرته ورسوي او نوې لارې چې د پخوانې ځای ونیسي غوره کې. که چیرې ټولنې پرمختګ کوي یا باید حکومت کامل نه وي او یا هم د ټولنیز ژوند ځیني ساحې قانوني مقرراتو څخه باندې وساتل شي. وروستنۍ حالت یعنی لږ یا محدود حکومت د غربیانو لخوا حل لار ګڼل شوی. چې په خصوصي ساحو کې افرادو ته دا آزادي ورکړل شوی چې موجوده قانون او مقرراتو کې خپلو ځانونه تصمیم ونیسي پدې شرط چې د نورو په حق نه تیری وکی او یا یې نه تخریب کی.

نو د زمانې په تیریدو سره حکومتي فعالیتونه پراخه شوي دي. اوس ددې وخت را ورسیده چې د حکومت په ودانۍ او جوړښت او د هغو کسانو په هکله چې دا فعالیتونه پکې کوي او تنظیم شوي تصامیم نیسي خبرې وشي. سیاسي علم یا "Political science" یو عمده برخه د حکومت ساختمان او جوړښت تشکیلوي. که څه هم د حکومت جریان په ټولو ټولنو کې نږیوال دی خود حکومتونو ساختمان سره توپیر لري.

په قبیلوي ټولنو کې چې په اصطلاح ابتدایي حکومتونه یادیږي تخصص پکې نشته که احیاناً پکې وي ډیر لږ پکې لیدل کیږي. پداسې ټولنو کې معمولاً ضروري هڅې د مشرانو او سپین ږیرو په واسطې سرته

رسیږي، مشران خلکو د عواؤ ته غور نیسي او هغه حل کوي، تصمیم نیسي چې د ده کلیوال کله په سفر لاړ شي او څه وخت ویده شي، قانون ماتوونکو ته جزا ورکي او خپل تېر څخه دفاع وکي یو مثال به د شمالي امریکې د Great plain سیمې د تورو پښو "Black Foot" او سیوکس "Sioiux" انډین قبیلې دي. ددې قبیلو مشران د نن ورځ حکومتو په شان تولنه قدرت لاس کې نه درلود. د دوی وظیفه تشویقول وو نه په زور خپلې ارادې تحمیلول په نورو باندې. یوائینې وخت کې چې د دوی حکومت تخصصي شکل ته ورته ؤ یو عمومي عمل سرته رسولو پاره د کورنیو تولیدل وو. لکه د وحشي غویو او غژگاو ښکار کولو وخت کې وو. وروسته لدې خلکو د مشرانو څخه غوښتل چې نظامي تولنه جوړه کي چې په مؤقتي او داوطلبانه توگه ئې د پولیسو وظیفه سرته رسوله او د دعوا فیصله ئې صادروله او هم یې د ښکار کولو پاره ضروري اقدامات کول لکه د وخت حدود تاکنه.

## د سیاست تاریخچه

ښه به دا وي چې د سیاسي علم تعریفونو څخه مخکې ددې علم تاریخچه په لنډه ذکر شي. په (۱٦) شپاړسمه پیړۍ کې فرانسوي لیکوال جین بودین Jean Bodin د سیاسي علم یا . "Le Science Politique" اصطلاح لمړی ځل استعمال کړه څکه په معاصر وخت کې دا شهرت دده په برخه شو. دا اصطلاح وروسته لده د (۱۹) نونسمې پیړۍ تر پایه استعمال نشوه. لدې وخته وروسته دا اصطلاح په سیاسي ځانگه کې د علمي مضمون په توگه ظاهره شوه.

## د سیاسي علم تعریف

د سیاسي علم تعریف له هغو وظیفو څخه دی چې په ظاهر کې ساده خو په حقیقت کې مشکل او په کاملې وجهې ناممکن ښکاري. سره ددی باید تعریف له یوه ځایه پیل شي حتی که کامل تعریف هم نه وي. تیرو کلو کې ډول ډول روشونه پدې هکله پیشنهاد شوي اما ښه دی چې لمړی تعریف ئې د یکشیزې سره شروع کړو. څنګه چې له تسمیې ښکاري سیاسي علم "Political Science" له دؤ لغاتو جوړ شوی: سیاست Policatal او پوهنه Science. د یکشیزې کې دا معنی ورکوي چې سیاست دولت او حکومت سره اړیکې لري. نږدې تعریف ئې دا دی چې پوهنه "Science" هغه منظمه پوهه دی چې د کتنې، مطالعې، او تجربې څخه مینځ ته راغلې وي تر څو هغه څه چې مطالعې لاندې نیول شوي دي اصول او طبیعت ئې تعین شي. نو پدې توګه ویلی شو چې سیاسي علم "Policatal Science" په منظمه او واقعي توګه د حکومتونو مختلفو طریقو مطالعې ته وايي. د مارچ په میاشت په 1886 کال کې د "Science Quarterly" سیاسي مجله د سیاست پوهنه داسې تعریفوي: "د سیاست علم په تحت اللفظي ډول د دولت پوهنې ته وايي. پدې توګه د سیاست علم د دولت سازمانونه، وظایف، او د یوه هیواد اړیکې له بل هیواد سره هم احاطه کوي. د دیویدایستن David Easton په نظر سیاسي علم هغې منظمې مطالعې ته وايي چې د حکومتونو توله اړخونه او هغې چې د واک او صلاحیت ارزښتونه ځای په ځای کوي خوندي ساتي. د مثال په ورکولو سره به دا تعریف یو څه زیات روښانه شي.

په ۱۹۷۰ کلیزی کی د امریکی حکومت لخوا د موټرو سرعت حدود ۵۵ میله (تقریباً ۹۵ کیلو متره) په ساعت کې وټاکل شو چې دا تصمیم څه د پاسه شل کاله عملی شو. پدی هکله د حکومت لخوا د سرعت محدودول په حقیقت کې د څو نوؤ ارزښتونو معرفی کول او ټاکل وو، داسی ښکاری چې اصلاً لدی کار څخه د انرژی بیځایه مصرف کنټرولول وو. خو کله چې د ګړندیتوب حد په عملی توګه پیل شو دی اقدام کال کی (20,000) شل زره تنه له مرګه ساتل چې دا اقدام امریکایانو ته د تحسین وړ وګرځید. البته په سرکې د حکومت دا تصمیم په نورو ارزښتو باندی مداخله او تیری ښکاریده. د مثال په توګه هغو خلکو چې هیله درلوده له یوه ځایه یا ایالت نه بل ځای یا ایالت ته ځانونه وروړسوی د دولت دې قانون ویستلو څخه خپه ښکاریدل. دلته ممکن ډیرو ته سوال پیدا شی چې آیا حکومت باید د خلکو د ژوند ورځنی چارو کې مداخله کمه کړی که برعکس زیاته ئی کړی او آیا دا کار د خلکو په ګټه دی؟ دا پوښتنه دوه اړخیزه ځواب لری چې د کتاب په راتلونکو پاڼو کې د حکومت رول نسبتاً روښانه کیږی او ځینی محترم لوستونکی یو څه روښانه نظر پدی هکله پیدا کړي.

جالبه دا دی چې مغ په زیاتیدو لیکوالان نسبت سیاسی علم "Political Science" ته خپله توجه سیاست "Political" ته معطوفه کړی دی شاید دی پاره چې سیاسی علم یو څه مغلق ښکاری. په هر صورت ماته لازمه ښکاری چې د سیاست "Political" څو تعریفونه چې سیاسی پوهانو لخوا شوی وړاندی کړم دې پاره چې لوستونکو ته د سیاست مفهوم یو څه زیات روښانه

شي: «د خلکو، گروپونو، او ملتونو مینځ کې بې له وینو تویولو اختلاف او رقابت ته سیاست وایي».

څو څومره چې تولنې پرمخ ځي او مغلق کیږي په هغو مره اندازه حکومتي سازمانو کې وظایف مختص کیږي او تخصصي حالت پیدا کوي. خاص مقامونه لکه پادشاه، قاضي، پارلمان، او په مشورتي ډول اسامبلې او جرگې منځ ته راځي. د حکومت غوښتنې په اساس پولیس او اردو د دایمي قوې په توگه مقررات پرمخ وړي او پر تولنه باندې تحمیلوي؛ منظم دفترونه پیدا کیږي تر څو عمومي عواید تول کې او د هغو په مرسته تولنیز خدمات خلکو ته تیار کې. ځینې دا مقامونه او پستونه شاید مؤقتي وي خو د حکومت ساختمان دایمي حالت پیدا کوي.

د حکومت تر څنگ د سیاست Political کلمه اکثراً استعمالیږي. دا یوناني کلمه له Polis څخه اخستل شوې چې انگریزي کې "City-state" یعنې وړکی دولت (یا دولت -ښار) چې په تحت اللفظي مفهوم سره ښار- دولت ویلې کیدلی شي. ښار-دولت City - state په خاص ډول سره هغې وړې سیاسي تولنې څخه عبارت دی چې د سقراط، افلاطون، او ارسطو په غربي تولنو کې دا درې تنه د سیاسي علم بنسټ اینبودنکی په نوم یادیږي. هغه وخت کې «city-state» یا ښار - دولت او یا هم ښاري دولتونه لکه آتن او سپارت او د هغو شا او خوا کلي او وړو ښارکیو څخه عبارت وو. د Polis کلمې سره نور لغات لکه Politics، Police، Polite او Policy د عمومي ښو ایدیاؤ سره ارتباط پیدا کړي.

سیاست "Politics" د سیاسی علم په لغاتو کې د بحث او مشاجری کلمه ګڼل کیږی. تقریباً ټول خلک دا کلمه حکومت سره مترادفه استعمالوی. برسیره پدی دا کلمه په ډیره پراخه توګه استعمالیږی. فرانسوی سیاسی علم پوه برتراند دو جو وینیل Bertrand de Jonvenel سیاست داسی تعریفوی. موږ باید اجتماعی ځانګه کې هره هغه منظمه هڅه چې د نورو خلکو تحر ک او بدلون پاره جوړه شوی وی سیاست Politics وبولو.

سیاست هغه فعالیت ته وایی چې د انسان نقشو او طرحو ړاټولولو او ساتلو پاره هلی ځلی کوي. د سیاست دا تعریف ډیر پراخه ښکاری ځکه تجارت، سپورټ، مذهب، او هر هغه څه چې په ګډه سرته رسیږی سیاست په ساحی کې راځي.

په قاطع توګه د حکومت ژوند ته ادامه ورکونه سیاست پورې تړلی دی ځکه که چیری حکومت د خلکو له مرستی او ملاتړ څخه مستفید نه وی په یوازې توګه نشي کولی ټوله دندی او وظیفی پرمخ یوسی. نو که چیری حکومت دا ثابته کی چې قادر ندی کورنی او باندنی صلح وساتی او هغه عام المنفعه خدمات چې خلک غواړی ورته تهیه کی شاید د خلکو ملاتړ له لاسه ورکی. په تیره غربی دیموکرتیکو رژیمو کی حکومتونه باید خلقی او ملی حمایه ولری ځکه د انتخاباتو جریان ددی رژیمو یوه مهمه برخه تشکیلوی نو په پراخه توګه د سیاست کلمه انتخاباتو او نورو سیاسی جریانو لکه سیاسی ګوند او فعالیتونو ته هم وایی. په غرب کی په سیاست کې مداخله کونه اکثراً کوم دفتر لکه پارلمان، ښاروالی کمیتی یا... ته ځان

کاندیدولو په مفهوم استعمالیږی، خو داسی استعمال د سیاست یو اړخ تشکیلوي.

کله د سیاسی معقولیت نهایی ملاتړ د اقتصادی معقولیت نهایی مؤثریت څخه بیلي او مختلفي نتیجي ورکوی. د مثال په توگه اکثر اقتصاد پوهان موافق دی چې د دولت لخوا د کرایی کنترولول په آزاد مارکیت سیستم کی د کورونو د کرایی ټیټوالی سبب گرځی. ځکه حکومتونو لخوا د کرایی کنترول د کورو کسر او کموالی باعث کیږی پداسی حال کې چې حکومتونه تقاضا ترغیبوی او برعکس عرضه بی جرأته کوی. خو سره ددی هم په ۱۹۸۱ کال کی د کاناډا په (۸) اتو ایالاتو کې یو ډول کنترول موجود ؤ. دا پالیسی اقتصادی حیثه نا معقوله وه، اما سیاسی جهته دا پالیسی هغو خلکو ته چې غوښتل ئی انتخاباتو په واسطی دولتی پستونه تر لاسه کی په زړه پوری وه ځکه ددی پالیسی په منلو او عملی کولو سره هر گوند د بیلو خلکو او ډلو Interest groups ملاتړ تر لاسه کولو امکانات زیات او په نهایت کې د پُست گټلو امکانات زیاتول.

سیاست تر حده منفی شهرت حاصل کړی ځکه ددی ټولنیزی ځانگی معقولیت نورو فعالیتو سره توپیر لری. اکثر خلک چې په سیاسی هلو ځلو کی اخته دی په غربی ټولنو کی لږه ټولنیزه ستاینه ترلاسه کوی حتی تر دی ځایه چې دا شخص چالاک او متملق بولی او خلک فکر کوي چې نوموړی د بانفوذه خلکو او د بیلو ډلو حمایی د کسبولو پاره دا هڅی کوی. اما له بلی خوا واضح دی چې که سیاستمدار په غربی دیموکرسی کې د خلکو ملاتړونه

گټې نو ډېر اصول نه شي عملي کوی.

د سیاست بل تعریف د امکان ورکولو، عملي کولو، او د مصالحې هنر ته هم ویل شوی ځکه سیاست باید خلکو منځ کې فکری اختلاف چې د نظریاتو او تمایلاتو توپیر په علت رامینځ ته شوی حل کی. که چیری ځو ک د خشونت او جګړې مخه نیسي نو توافق او جوړښت ته ضرورت پیدا کیږی همدارنګه هغو کسانو مقابل کې چې قانون پښو لاندی کوي او د نورو په حق تیری کوی اجبار او فشار ته اړتیا ښکاری.

سیاسی مشکلاتو ته قانع کونکې حل لار په ندرت سره پیدا کیږی. نو زیاتره د معضلی حل کول د دؤ خواؤ په مینځ کې قضاوت کول او فیصلی صادرول دي چې پدی ډول یوه خوا هم په کامله توګه نه قانع کیږی او نه خوشحالیږی، خو هره خوا دومره شي ترلاسه کوی چې د هغه په لاس ته راوړلو خپل ژوند پرمخ یوسی. انګریزی سیاست پوه برنارد کریک Bernard Circk په نظر سیاست هغو فعالیتو ځخه عبارت دی چې په یوه یونټ او تولنه کې یو تن یا یوی ډلی ته د خدمت کولو او ددی ډلی ژوندی ساتلو، بهبودی، او پخلا کولو پاره ددی ډلی اهمیت په تناسب د قدرت په چارو کې برخه ورکړل شي. کریک B. Crick د ارسطو نظر مقابل کې وایی چې سیاست یو والی "Unity" ندی بلکه هماهنګی او جوړښت Narmony ته وایی یعنی د بیلو ډلو ترمینځ د تعاون او صلحی نه ډکه مرسته، یو ځای ژوند کول، او پخلا کول دی، نه د ګروپو محدودونه او منحصر کونه.

په لنډه به ذکر شي: سیاست او حکومت د انسانانو د ژوند نړیوال

فعالیتونو یوه برخه دی. حکومت هغه جریان څخه عبارت دی چې قوانین وضع کوي او ټولنې پاره دا قوانین او تصامیم عملي کوي. سیاست هغه فعالیت دی چې د حکومت کولو امکانات د خلکو حمایې او اعتبار لاس ته راوړلو په واسطې پیدا کوي. دې پاره چې انسانان په ټولنه کې ژوند وکړي حکومت او سیاست دواړو ته اړتیا احساسوي، پدې توګه عمومي قانون، سلوک او مقررات په ټولنه کې مینځ ته راځي چې د هغه په واسطې خلکو مینځ کې معضلې پداسې توګه حل کې چې د ټولنې شته والي مخاطرې سره مخامخ نشي. یو دلیل چې واکمنان زور ته متوسل کیږي هم دا دی چې د افرادو زور استعمال څخه - نورو مقابل کې - مخنیوی وکړي. نو اکثر غربي پوهان پدې عقیده دي چې د تمدن پرمختګ سره د حکومت او سیاست جلا والي نور هم کمیږي. حکومت د ثبات ساتلو لوی تضمین کونکی ګڼل کیږي او انساني هڅو ته په مذهب، هنر، علم، تجارت کې د ودې امکانات بخښي.

سره ددې چې حکومت د انساني اړیکو ساتلو پاره یو ضروري اړخ ګڼل کیږي خو ټوله پوهان دې نظر سره موافق نه ښکاري. د غربي نظریاتو په تاریخ کې یو تینګار ښکاري. وایي چې شاید داسې وخت راورسیږي چې انسان وکړای شي اختلاف او تصادم نه پرته په کامل توافق سره په آزاده توګه ژوند وکړي چې په داسې ټولنه کې به د حکومت شتوالي ته ضرورت احساس نشي. د منځنی ختیځ ادیان خدایي حکومت ته عقیده لري چې بالاخره حق به په باطل غالب شي او نړیوال حکومت به نافذ او ټوله شخړې به

له مینځه لاړې شي. عیسویان د عیسی (ع) بیرته راتګ او حکومت کولو انتظار باسی. یهودیان هم موسی (ع) راتګ ته سترګی په لار دی. اما پدی هکله غیر دینی نظریات او هیلی هم موجودی دی. فرانسوی پوه او لمړی شوشلیست سنت سیمو Henri Saint- Simon (۱۸۶۰-۱۸۱۵) نظر درلود چې انسانی اداری کولو ځای به د اشیاؤ اداری کونه ونیسی چې دا نظر وروسته نورو کیڼ اړخیزو متفکرینو لکه لینین په واسطی هم څرګند شو.

د سیاست په هکله متعدد تعریفونه د سیاسی پوهانو لخوا معرفی شوی چی هر یو یی پخپل ځای کی ارزښت وړ دی. دی پاره چی د سیاست تعریف ښه روښانه شی بیا هم نمونی به ئی ذکر شی تر څو د سیاست بیلو اړخونو ته توجه شوی وی.

یو بل نظر سیاست په هکله دا دی چې سیاست اختلاف او یا تصادم سره نږدی بولی. میلر J. D. Miller سیاست د توافق او جوړښت نشتوالی او اختلاف شمیری.

بل سیاسی پوه الن بال Alan Ball لدی هم مخکی ځی او وایي چې:
سیاست په هره سطحه کی د هغه جوړښت او توافق نشتوالی څخه عبارت دی چې له ناهماهنګی څخه منځ ته راځي. د مثال په توګه په یوه وړکتون کی کله چې دوه ماشومان یوی لانځکی لاس ته راوړلو پاره هڅه کوي سیاسی حالت منځ ته راوړي. دبال Ball او وجوینیل Jonvenel په تعریفونو کې زیات توپیر نه ښکاری -ځکه، په دواړو کې د انسان هڅه د یوی نقشی

غوښتنې او عملي کولو پاره چې په هغه کې د نظریو اختلاف او تصادم وي او په هغه فایق کیږي سیاست تعریف په څنګ کې نیسي.

خو سیاست تعریف پراخه ښکاري څکه دوی هر اختلاف او کمشکش سیاست په چوکاټ کې راوستی مثلاً که چیري یو تن د دوهم تن بکس له لاسه تیښتوی او د دوی په مینځ کې اختلاف او تصادم پیدا کیږي دا حالت سیاست نشي گڼل کیدلی څکه پدی حالت کې ډله ایز پلان او طرح ترسیم شوی ندی. لدی پاره چې پورتنی وضع سیاسی وگڼل شي باید د بکس انگیزه یواځې غلا نه وي حتی باید لمړنی منظور ئی هم غلا نه وي. په غربی دیموکرسیو کې د یوه سیاستمدار تیښتول انقلابی هدف پاره که سیاسی وی خو بیا هم جنایی شمیرل کیږي.

د سیاست بل تعریف لاسویل Harold Lasswell لخوا پیشنهاد شوی: «څوک څه شی، کله، او څرنگه لاس ته راوړي.» پدی ډول د څمکی د ښو شیانو لکه شته، آرامی، سلامتی، امنیت، مقام، اعتبار حاصلول سیاست جوړوي. ایستن David Easton (په سرکی ذکر شوی) هم سیاست په هکله مشابه نظر لري یعنی د قدرت او واک ارزښتو اختصاص ورکونه چې مطلب ئی د معنوی او اخلاقی ایدیال څخه ندی بلکه هغه مادی شیان دی چې انسان پخپل ژوند کې د هغو درلودو هیله لري. اما داسې ښکاري چې دلته هم سیاست پراخه تعریف شوی. د مثال په توگه شته د اقتصادی غیر شخصی راکړې ورکړې په واسطې هم حاصلیدلی شي. دا عملیه هغه وخت کې سیاسی بلل کیږي چې د پیسو راکړه ورکړه د یوی داعیې پرمختگ او

منظور پاره -لکه انتخاباتو سیاسی مبارزی پاره تولیدی اشیا اخستل یا دیوی ډلی اقتصادی پرمختګ او مالی ودی پاره د شی خرڅول- سیاسی ګڼل کیدلی شی. د ارزښتو تخصیص ورکونی مفهوم په یوه ټولنه کی سیاسی او ټولنیز ټوله مسایل شعاع لاندی نیسی او پدی توګه سیاسی بڼه اخلي. نو ځینی غربی پوهان پدی نظر دی چې حکومت باید محدود وساتل شی خو د حکومت شته والی هم ضروری دی خو په ضمن کې باید محدود رول په غاړه واخلی.

## ۲ - ځواک Power:

قدرت په پراخه مفهوم سره هغه ظرفیت او توانایی ته وایي چې هغه څه چې انسان غواړی سرته ئی ورسوی. دا لغت د فرانسوی کلمی "Powoir" څخه اخستل شوی چې په انګریزی ژبه کې "to be able" یعنی قادریدل دي، قدرت جسمی حالت او شکل یعنی عضلاتی توانایی ته لکه د یو شی اوچتولو او یا منډی کولو ته هم وایی، په ذهنی څانګه کې هغه څه ته وایی چې فکری مشکل او معما حل کی.

خو په سیاست کې ځواک د یوه شخص هغه صلاحیت او استعداد ته وایی چې نور خلک هغه کار او عمل ته وهڅوی چې لمړی شخص د هغه اجرا کول غواړي. قدرت په سیاست کې هغه موقف لری لکه چې پیسی د اقتصاد په برخه کې رول لوبوی. سیاسی قدرت په دری ډوله ویشل شوی.

الف- نفوذ Influence هغی توانایی ته وایی چې یو تن وکړای شی بل

شخص یا ډله هغه عمل ته تشویق کی چې لمړی تن د هغه کار سرته رسولو هیله لري. مهم دا دی چې دوهم شخص یا ډله فکر وکی چې د دوی دا عمل دا وطلبانه دی او پخپله اراده او آزاده توگه ئی سرته رسولی.

ب- جبر COERCION دا دی چې د لمړی تن هیله او غوښتنه په شعوری ډول د بل چا لخوا د ضرر او تهدید په واسطی کنترول لاندی راوستل شی. د اجبار Coercion دوه ډولونه ذکر کیږی. a په تشدد یا Violence کی فزیکی ضرر رسول لکه وهل، جزا ورکول، او مړ کول شامل دی. b دا جبار بل شکل په شلمه پیړی کی تقریباً پیدا او زیات شوی چې د یوی فابریکی کارگر اعتصاب Strike په توگه فابریکه له کاره غورځوي او یا هم د کمپنی مالک خپله کمپنی د کارگرو په مخ تړي (Lockout). پدی ډول هره خوا خپلو گټو او غوښتنو پاره په بلی خوا فشار راوړي او مالی مجازات پرې تحمیلوي په نتیجه کی دواړه خواوی د خبرو اوچنی وهلو میز ته د توافق پاره کښیني. خو غربی ټولنو ددی فشار په ترڅ کی د تشدد او خشونت استعمال څخه په بلی خوا ممانعت شوی دی. کله که ددی دوّ خواوّ مینځ کی موافقه نه حاصلیږی نو دواړه خواوی د دریم تن (حکومت) منځگړیتوب غوښتنه کوی او یا حکومت پخپله د دواړو خواوّ مشکل حلولو پاره د وساطت پیشنهاد کوی. اجبار، جزا ورکول، او ضرر رسول ډیر ډولونه لري چې استعمال ئی په نهایت کی خشونت "Violence" ته رسیږی.

اجبار "Coercion" د خلکو په سلوک باندی د قیوداتو وضع کولو یوه وسیله گڼل کیږی. عصری حکومتونه پدی لټه کی دی چې د کنترول ډیر

شکلونه په تیره د اجبار استعمال محدود او کنترول کي. دی پاره ئی پخپلو اتباعو Subjects باندی قیودات وضع کړی تر څو یوه بل باندی حمله ونه کي او یا یوه بل شته غضب نه کړي. پرته د ځان دفاع په خاطر او یا هم د اولاد تربیه کولو پاره د اتباعو هر ډول تشدد -او جګړی- څخه په قانونی توګه مخنیوی شوی دی.

ج- صلاحیت او واکمنی Anthority

صلاحیت د قدرت هغه منبع دی چې په هغه کی خلک او امرو ته غاړه ږدی نه یواځی دی پاره چې دوی عقلی او احساساتی عواملو کبله معتقد شوی او یا هم د ویری او سرغړونی جزایی عواقب په نظر کی نیسی بلکه خلک د قدرت منبع ته احترام لري. داسی توقع کیږی چی صلاحیت لرونکی د او امرو صادرولو حق لري. او د هیواد نور خلک دا وظیفه لری چی د او امرو اطاعت وکي. د والدینو او اولادو ترمنځ اړیکی د صلاحیت یوه نمونه دی. ځینی وخت مور او پلار شاید اولاد د یوه کار سرته رسولو پاره تشویق کړي؛ او کله کله هم دی ته مجبور شي چې له فشار څخه کار واخلی. خو په عادی ډول دوی تمه لری چی د دوی امر اطاعت شی.

دی پاره چی حکومتونه خپل ژوند ته ادامه ورکړی شي تو له حکومتونه -اقلاً یو څه- صلاحیت درلودو ته ضرورت لري. نو دی پاره چی اقلاً ځینی اټکل شوی نتایج تضمین کړی شي باید نفوذ څخه یو څه زیات ولري -چی هغه فشار او اجبار دی- تر څو د خلکو اجابت حاصل کي. اما یواځی فشار څخه کار اخستنه هم ډیره قیمتی وسیله دی او ددی وسیلی استعمال بیا هم

هغه وخت کی امکان لری چی د خلکو یوه مهمه برخه ددی منبعی په واسطی- یا دی مرجع پاره سره متحد شوی وي. دی کبله صلاحیت د حکومت ناگزیره ضرورت بلل کیږي.

دا چې اکثر خلک زیاتره وخت کی د حکومت صلاحیت لرنی او واکمنی "Anthority" هیلو ته غاړه ږدی سالمه نتیجه ورکوی. د مثال په توگه خلک سرو اشارو ته موټر دروي، خپلی ټکس فورمی په غربی هیوادو کی ډکوي، او طبی خدماتو Medicare ته په خوښی فیس ورکوی. داسی کارونه ټوله په رضایت سرته نه رسوي بلکه نوره انگـیزی هم پکې نغښتی دی. شاید د دوی وجدان د ناآرامی احساس وکی او فکر وکی له هغه څه چې د دوی حق ؤ دوی تخطی او تیری کړی. خو که چیری ټول خلک د واکمنی منبع ته احترام ونلری نو فشار او زور Coercion له حده زیاته گټوره وسیله دی ځکه دوی د ډار احساسولو کبله د مقرراتو اجرا کولو ته مجبوریت احساسوی.

ظاهراً داسی ښکاري چی صلاحیت او واک کله د خلکو آزادی په ضد اقدام کوي، په حقیقت کی دی نظر سؤ تفاهم منځ ته راوړي. موږ پخپل ټولنیز ژوند کی څو بعدی واکمنی او صلاحیت لکه کورنی، مکتب، مذهبی معابد، دولت، او داسی نورو سره مخامخ یوو. آزادی دا مفهوم نه رسوی چی موږ صلاحیت لرونکي اداری څخه ځان خلاص کړو. د آزادی یو نښه دا ندی چی سړی هر هغه څه چی دی، خوشحالوی سرته ورسوي ځکه تر هغه وخته چی انسانْ ټولنیز موجود گڼل کیږی دا امکان عملی کید ی نشي. په حقیقت کی ځینی غربی پوهان آزادی داسی تعبیروی چې ی ـه فشـ ـه په

داوطلبانه ډول صلاحیت لرونکو مقاماتو مقرراتو ته غاړه ږدي او دا عمل داسې ثابته تولنه منځ ته راوړي چې په هغه کې فرد د خپل ژوند په هکله پلان وضع کې.

بالاخره باید د طبیعي واکمنۍ او اختیار او د عامه او خلکو واکمنۍ په منځ کې توپیر وشي. پدې معنی چې طبیعي صلاحیت او واکمنۍ Natural authority په هغه صورت کې موجودیت پیدا کوي چې فرد په بې اختیاره او ناځاپي توګه د بل قضاوت ته غاړه کښېږدي. واړه ماشومان د لویو په تقلید پټ پټوونکې لوبه کوي؛ د منځنۍ پیړیو مکتبو په وخت کې زده کونکو د خپلو استادانو لارې پسې روانیدل؛ حواریونو دا نتیجه واخیسته چې حضرت عیسی د «صلاحیت په اساس» خبرې کوي. د طبیعي واک مثالونه هغه صورت کې تحقق مومي چې یو تن په ناځاپي او بې اختیاره توګه د بل قضاوت ته غاړه ږدي او درناوی کوي. هر انسان د زیاتو طبیعي صلاحیت منابعو لکه کورنۍ غړي، ملګري، مکتب همصفي، خپلوانو او همکارو په واسطې متأثره کیږي. په بل عبارت طبیعي واکمنۍ د انسان هغه تمایلاتو ته وایي چې غواړي د نورو لار تعقیب کړي او له هغو تقلید وکي او هم برعکس نورو ته لارښوونه وکي او ابتکار په لاس کې ونیسي همدا اړیکي دي چې ټولنه سره نږدې ساتي.

خلقي او ملي صلاحیت Public anthority برعکس په عمده توګه د انسانانو توافق په بنا منځ ته راځي. په انګلیسی ژبه کې دا توپیر په بل ډول هم درک شوی. مثلاً د باسکتبال احصائی متخصص او ماهر ته پدې برخه

کی باصلاحیته او مؤثقه منبع ویل کیږی دی پاره نه چی دی باصلاحیته او واکمنه دی بلکه دده یونیفورم ده ته د صلاحیت او اختیار رسمی یا غیر حقیقی بنه ورکوی. که چیری څوک د قدرت خاوند وی هغه باید دولتی موقف او یا پُست متصدی هم وي چی هغه سره د امر ورکولو حق ترلاسه کوی. عصری حکومتونو ته په کتنی سره ویلی شوو چی سیاسی علم په پراخه توگه ملی صلاحیت او اختیار هم مطالعه کوی، اما طبیعی واکمنی تراوسه هم مهم رول لوبوی.

## ۳-مشروعیت او صلاحیت Legitimacy Authority

د صلاحیت او قدرت کلمه کله په نادرسته او ناقصه توگه استعمالیږی که چیری په غربی ټولنه کی یو تن سره وینبتان ولری او یا دلوړ غړ خاوند وی هغه د صلاحیت منبع بولی. نو دی کبله بیځایه ندی چی صلاحیت او واکمنی Authoirty ا[illegible]روعیت او قانونیت Legitimacy په منبع کی توپیر وښو[illegible] حیت ټولنیزو اړیکو په هکله دی پدی ډول هیڅوک صلاحیت نلري او دا په هغه صورت کی پیدا کیږی چی نور خلک هغه ته احترام او اطاعت وکی، نو صلاحیت Authority د اړیکو قطب یوه خوا او بله خوا ئی مشروعیت او قانونیت Legitimacy گڼل کیږی. کله چی موږ د امر ورکولو حق تأییدو په حقیقت کی موږ د صلاحیت او واک څخه غږیږو، خو کله چی موږ یوه امر ته د ځواب په هکله خبری کوو په قانونیت Legitimacy باندی بحث کوو نو پدی توگه د دواړو شته والی یوه بل ته لازم او ملزوم

ښکاري. صلاحیت او واک په هغه چاکی متمرکز کیږي چی امر صادروي. مشروعیت او قانونیت Legitimacy هغه احساس دی چی صلاحیت لرونکی مقام ته اطاعت کیږي او پدی ډول د واک مرجع ته د ادامی امکان برابروی دا ډول اړیکی د مشر تابه او پیروانو په منځ کی لیدل کیږي. واکمنی او مشروعیت دواړه کلمی اخلاقی Ethical او یا روحی Moral مطالب افاده کوی. موږ احساس کوو چی هر هغه څوک چی د واکمنی په ساحه کی فعالیت کوی د امر ورکولو حق هم لری. همداسی موږ احساس کوو چی په ځان باندی د اوامرو اطاعت کولو دَین لرو او دا زموږ دنده دی او یا اخلاقی مجبوریت لرو چی د واکمنی منبع اوامرو ته اطاعت وکړو.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مشروعیت legitimacy (believe in right ness of government) د حکومت په حقانیت عقیده | — | تعهد یا مجبوریت obligation (Sense of duty) ددندی احساس | — | واکمنی او صلاحیت Authority (right of command) د واکمنی حق |

څنگه چی پورتنۍ شکل کی ښودل شوی مجبوریت د صلاحیت او مشروعیت ترمنځ کړی دی.

موږ د اوامرو منبع ته غاړی ږدو او مجبوریت احساس هغه وخت کوو چی موږ دی ته متقاعد شوو چی هغه کسان چی اوامر تعمیلوی په درسته روان دي او دوی ته په عادلانه توگه د واکمنی واگی ورسپال شوی.

ملی واکمنۍ او صلاحیت هغه صورت کی خپل ژوند ته ادامه ورکولی شی چی په ټولنه کی بنیادی مشروعي او قانونی وضع موجوده وی. دا

حتمي نده چي ټول خلک او یا کم تر کمه مطلق اکثریت د حکومت او واکمنی منبع ملاتړ کونکي وي نو بیا قانوني بنه ځانته نه‌نیسی، بلکه اقلاً د وفاداره او متحده اقلیت ملاتړ ولري چي د بالقوه مخالفت په ښکاره کیدو صورت کی د واکمني منبع ترخنګ ودریږي. د مشروعیت Legitimacy ساتنه د سیاست فوق العاده او مهمه دنده شمیرل کیږی. که چیری قانونیت او مشروعیت مضمحل شي نو ملي واک او اختیار هم له منځه ځي نو باید پخواني صلاحیت لرونکی منبعی ځای بله منبع او نوی مدعي ونیسي.

جرمن تولن پوه ماکس ویبر Max Weber (۱۸٦٤ - ۱۹۲۰م) صلاحیت لرونکی او واک منبع په دری ډوله ویشلي: عنعنوی او ابتدایی Traditional، قانونی Legal، او جذابیت او کریشمی صلاحیت Charismatic. د نوموړی په نظر په سیاسی سیستم کی دا دری ډوله تل سره یو ځای شوی. د دری واړو روښایندو پاره به په لنډه توګه پری رڼا واچول شي.

۱- عنعنوی صلاحیت او واک Traditional anthority میراثی موقف او شکل لری. د مثال په توګه میراثي پادشاهی عنعنوي واک او اختیار ګڼل کیږی -دا ماډل دارو پا په منځنی پیړیو فیوډالی سیستم ګروپ کې راځی. د سعوی عربستان سلطنتی کورنی او د اردن پادشاهی هم په همدی ردیف کی شمیرل کیږي.

۲- په قانونی واکمنی کی Legal anthority د ټولنی ټول غړی د قانون په رعایت او اجرأتو کی مؤظف دي (یعنی په یوه ډول ټول خلک د هیواد په

قدرت او صلاحیت کی برخه لری) . قانونی واکمنی او صلاحیت میراثی ندی بلکه هر څوک په بالقوه توګه د صلاحیت او واکمنی مقام رسیدلو ته چانس لري او د ټولنی ټول غړی په مطلقه توګه لدی مقام څخه محروم ساتل شوی ندی. غربیان دا کته ګوری مشروعی او قانونی ګنی ځکه دا ډول سیستم ظاهراً څو تنو پوری ندی تړل شوی. په عصری سیاسی تاریخ کی عمده تغیر دا دی چې عنعنوی اختیار او واک خپل ځای قانونی یا مشروع صلاحیت او اختیار "Legal authority" ته وسپاره.

۳- Charismatic authority د دوارو پورتنیو ډولو یعنی صلاحیت او قدرت سره توپیر لری ځکه دا شکل نه میراثی دی او نه هم د قانونی پُست Legal office په اساس ولاړ دی بلکه د فوق العاده شخصی او ځانګړی کیفیتو personal qualities په بنا دریدلی. پورتنی پوه، ویبر Weben (کرشمه یا محبوبیت؟) Charisma داسی تعریفوی: هغه ځانګړی خصیصتونه او صفات چی یو تن له عامو خلکو څخه بیلوی او دی د مافوقو انسانی صفاتو خاوند وی او یا اقلاً ځانګړی لوړ او مشخص خصوصیات او اوصاف ولری چی له عامو خلکو څخه ئی د لاړښود په توګه مجزا کوي. پدی ډول د کرشمی لیډر Charismatic باید پیغمبر، پیر، ولی، عابد، او یا ورته دینی شخصیت دی. د داسی شخصیت اختیار او صلاحیت د عنعنی او دو د اویا قانون په بنا ندی ولاړ بلکه دده پیروان پدی نظر دی چې د دوی مشر ته د الله (ج) اویا خپل معبود لخوا دا وظیفه ورسپارل شوی. د مثال په توګه په تورات کی ذکر شوی چی د الله تعالی لخوا بنی اسرائیلو ته

پیغامونه را تلل نو دی کبله ددی قوم قدرت او صلاحیت مرجع خلک نه وو بلکه الهی او مافوق طبیعی منبع وه.

په معاصره ژورنالیستیکی استعمال کی کرشمه Charisma هغه پخوانی لوړ مقام له لاسه ورکړی دی او د شهرت نه یو څه زیات مفهوم رسوی. کینډی Kennedy په امریکی کی او ترودو Pierre Trudeau په کاناډا کی د کرشمی خاوندان مشران Charisma leaders یاد شوی پداسی حال کی چی دوی د مقام متصدیانو څخه لوړه ادعانه درلوده او خپلی واکمنی پُستونه ئی د صلاحیت او قانون په حدودو کی په قانونی توګه تر لاسه کړی وو.

## ٤- خپلواکی (ملی واکمنی) او هیواد Sovereignty and the state

د Sovereignty کلمه له لاتین Super لوړ او عالی څخه اخستل شوی دی او په اصطلاح کی هغه چا ته ویل کیږی چی له نورو لوړ او مافوق وی. دا اصطلاح په ۱٦ پیړی کی فرانسوی لیکوال جین بودین Jean Bodin لخوا هغه وخت کی استعمال شوه چی وحشتناکی جګړی د کاتولیک او پروتستان مذهبو ترمنځ په اروپا کی جریان درلود. بودین Bodin نظر دا ؤ چی باید په هری ټولنی کی یوه مافوقه او لوړه او صلاحیت لرونکی مرجع وی چی بل چا او کومی منبعی ته تابع "Subject" نه وی. دده د ملی واکمنی "Sovereignty" نظر په ۱۷ او ۱۸ پیړی کی ثابت او پیاوړی شو. پدی وخت کی د مطلقه پادشاهان "Absolute monarehs" صلاحیت او قدرت ټینګ

شوی ؤ دی لپاره نه چې هر هغه څه چې د دوی د خوشحالی او رضایت سبب گرځي دوی ئی سر ته رسولی شي بلکه دی کبله چی د دوی وا ک او صلاحیت نه بله انسانی لوړه مرجع موجوده نه وی.

ملی حاکمیت "Sovereignty": هغه قدرت دی چی د حکومت صلاحیت لرونکو مقاماتو سره یو ځای شوی وی "Associate"- او یا نغښتی وی لدی جملی څخه یو هم قدرت دی چې قانونی مقررات عملی کوی. د مثال په توگه د محکمو تأسیساتو قربانیانو ته د غراماتو او تاوان برابرول، متخلفینو او سر غړونکو او مرتکبینو ته جزا (لکه اعدام او حبس) تاکل لدی جملی څخه شمیرل کیږی. بل ډول قدرت هغه دی چې قانون وضع کوی دا قانون ممکن د نؤ قوانینو منځ ته راوړل او یا په قانون کی ځینی تعدیلاتو معرفی کول دی؛ ملي واکمنی هغه قدرت څخه عبارت دی چې ټوله حکومتی عادی اجرایی وظیفی هم کنترولوی. مثلاً: د مالیی ټولول او لوړول، د هیواد اردو ساتل، د پیسو سِکی وهل، او ټولنی ته د عام المنفعه خدماتو وړاندی کول دی. بالاخره خپلواکی او ملی حاکمیت Sovereignty هغه قدرت معنی ورکوي چې د نورو ټولنو (واکمنو هیوادو) Sovereigns سره ارتباط او اړیکی ساتي او په ضمن کی دا حق ئی ځانته ساتلی دی چې خپلو کورنیو چارو کی بی له باندنی مداخلی په آزاده توگه اجرأت سرته رسوي.

په غربی دیموکرسیو کی دری ډوله دیموکرتیک بدیلونه جریآن لری چې هغه فردی Personal، پارلمانی Parliamentary، او ولسی حاکمیت

Popular Sovereignty څخه عبارت دی. دا دري حالتونه یو بل نه نفي کوي، او دا دري تر زیاته حده غربي دیموکرتیک سیستم بیانوي. د مثال په توگه په انگلستان کې ملکه په سمبولیک ډول د هیواد واکمنه ده ځکه د خپل هیواد قدرت نمایندگي کوي خو په عمل کې د صلاحیت تمرین او اجرأت ددې اسلافوله لاسه ورکړی. په قانوني توگه پارلمان House of Commons ټولې حکومتي او قانوني چارې په اختیار کې لري. د کابینې غړي هم د پارلماني اکثریت ډلې لخوا معرفي کیږي؛ پارلماني زیاتې کرسي هغه گوند پورې تړل کیږي چې په انتخاباتو کې زیاتې رأی وړي وي. پدې ډول په حقیقت کې د خلکو واک او نظر Popular sovereignty په پارلمان کې منعکس کیږي.

په انگلستان کې (۱٦۸۸م) د ستورات Stuart په نوم مطلقه ځانگړې حاکمیت د پارلمان لخوا په یوې جگړې کې چې Glorious Revolution په نوم یادیږي ماتې وخوړه او له منځه لاړ او په نتیجه کې پارلماني حاکمیت Parliamentary sovereignty نافذ شو چې تر نن ورځ پورې ادامه لري. پدې ترتیب پارلمان قانون جوړوي او یا ئې ردوي او د هغه هیواد لوړه صلاحیتي مرجع گڼل کیږي.

کله چې په انگلستان کې بلک ستون William Blackstone د پارلماني نظریې حاکمیت Parliamentary ته (۱۷٦۵ - ۱۷٦۹) وده ورکوله وئې ویل چې پارلمان هغه لوړ مقام دی چې کومې منبعې ته منقاد ندی، په فرانسې کې بل فیلسوف ژان ژاک روسو Jean Jacques Rousseau

(۱۷٦۲م) پخپل کتاب کی تولنیز قرار داد "Social contract" کی ددی نظریی بدیل وړاندی که چی په هغه کی ده ولیکل چی: مافوق اختیار او صلاحیت Superme authority پخپله خلکو کی متمرکز شوی نو باید پارلماني وکیلانو او نمایندگانو ته صلاحیت ورنکړل شی. قوانین باید په دیموکراتیک او مستقیم ډول د خلکو په ګډون سره په لویو غونډو او محضرو کی جوړ شي نه دا چې د انتخابی نمایندګانو په واسطی ولیکل شي. په لویو هیوادونو کی روستیو مستقیمی دیموکرسی ایدیال Popular sovereignty جریان عملی کول مشکل ښکاري. ګر چی د عصری تکنالوجی په معرفی سره دا معضله مخ په حل کیدو ښکاری.

په امریکی کی چې فدرالی سیستم دی خپلواک او واکمن Sovereign قدرت ایالتی حکومتونو منځ کی ویشل شوی دی خو د امریکی په قانون کی د جمهور رئیس (اجرایی قوی اصلی متصدی) په واسطی ابهام پیښ شوی دی ځکه دا اداره نه د انګلستان ملکی په شان سمبولیک شکل لری او نه هم د ۱۷ پیړی ربښتنی واکمنانو Sovereigns په شان حکومت کوی. د امریکی واکمنی د جمهور رئیس او کانګرس په منځ کی ویشل شوی. نو دی پاره چې قانون جوړکي، جګړه اعلان کي، او یا بل حکومتی عمل سرته ورسوی دواړه قوی باید توافق ته ورسیږي.

واکمنی او صلاحیت Sovereignty په هکله بحث کول د دولت "State" مفهوم رابرسیره کوی. دولت د دری متحدو فکتورو شته والی او موجودیت په صورت کی تعینیدلی شی چې عبارت له نفوس Population، سیمه -Ter

ritory، او واکمنی او اختیار Sovereignty دی. دولت هغه وخت کی خپلی بقا ته ادامه ورکوي چی د واکمن قدرت د معینو پولو په سیمه کی په خلکو باندی اجرا کیږی. د مثال په توگه کاناډا، انگلستان، او فرانسه بیل دولتونه دی، خو کوبیک Quebec چې د کاناډا فیدرالی سیستم یو ایالت دی او په محدوده توگه نورو ایالتو سره شریکه واکمنی او صلاحیت لری دولت نه حسابیږی. ځکه کوبیک Quebec هم نفوس او خلک لری او هم معینه سیمه، خو حکومت نلری.

پدی نوی عصر کی دولت یو نړیوال سیاسی سازمان دی چې پرته له انترکتیکا Antractica د نړی ټولی ځمکی څه د پاسه په ۱۸۷ هیوادو منځ کی ویشل شوی. په حقیقت کی نفوس، خاوره، او واکمنی یعنی دری واړو یو ځای شوی حالت ته دولت ویل کیږی. تاریخی حیثه دولت ډیره پخوانی اختراع ندی. دی کلمی د ماکیاوُلی (Machiavelli) کتاب د شهزاده "The Prince" (۱۵۱۳م) په نوم څخه مخکی پراخه استعمال نه درلود.

په قبیلوی ټولنو کی حکومتی جریان بی له دولتی سازمان سرته رسیده. داروپایانو مهاجرت نه پخوا کاناډا ته سیوکس Sioux او یا کری Cree بومی ډلو ټاکل شوی سیمه په ثابته توگه سرحدونه منځ کی نه درلودل. په عنعنوی ځمکو کی دوی ښکاره کاوه او ځانو ته ئی غذا ټولوله نو د ځمکو محدود والی کله ددی سبب کیده چې د گاونډیو سیمو او ځمکو ته د ښکار او آذوقی ټولولو پاره ننوځي. دا خلک تل په تگ او مهاجرت کی وو. قبیلوی حکومتونو پولیس او اردو نه درلود. دا وظیفی د قبیلو سړیو په

واسطې چې کله جګړو کې برخه اخلي دکیدی. دا خلک کله قانون جوړونکو Legislative غونډو په توګه فعالیت کوی. د بحث کولو او توافق څخه وروسته تصمیم د دوی لخوا نیول کیږي؛ دا خلک کله هم د محکمو پر ځای د مشاجرو حل کیدو پاره تصمیمونه نیسی او فیصلې اعلانوی ځینی وخت دا کار د دوی مشر چې معمولاً سړی وي پر مخ وړی.

د ښکار ټولنو په شان د کرهنې لمړنی ټولنی هم بې د دولت موجودیت څخه اجرأت سرته رسول. کروندی په آزادو کلیو Villages کی بې له تخصصی حکومتی ماشین شته والی پیل شوی. نو سوال پیدا کیږی چې دولت څنګه منځ ته راغی؟ ځواب په جګړه ماروا ړیکو کی پیدا کیدلی شی. د ښکاری قبیلو په مینځ کی مسلحانه تصادمات او جګړی Armed clash-es د دولت ظهور سبب شوی ځکه جګړو کی مغلوبې قبیلې مجبوری وی چې د ښکار پیدا کولو پاره بل ځای پیدا کی. د لمړنیو کروند ګرو په هکله هم همدا خبره تقریباً صدق کوی. تر هغه وخته چې د بلې کرهنی ځمکی لاس ته راوړل مسیر وو خو که چیری د نوی ځمکی امکانات موجود نه وو په جګړو کی د غالبو او مغلبو قبیلو په منځ کی د مراتبو سلسله Hierarchy په زور منځ ته راتله. په دولت کی د حکومتی ماشین په ظهور سره د تخصصی نظامی سیستم، محاکمو، مالیی ټولولو او نورو رسمی مسایلو وده وکړه په تیره کلې چې فاتحان د ماتی خوړونکو خلکو په قیمت شته مند شول. د مغلو بینو سیمی د قوی پادشاهانو ادارو لاس ته راوړلو کبله ددی سبب شو چې غښتلی دولتی سازمانونه منځ ته راشی.

کله چې دولت تشکیل شو وروسته له هغه په یوه پیاوړې پراخونکې قوې بدل شو او په آسانۍ سره پخپلو زراعتی گاونډیو تولنو باندی مسلط شو پدی شرط چې ددی هیواد گاونډیو مخکې دولتونه نه وو تشکیل کړی. د یوریشیا لوړو څخه په سلگونو کلونه بربریانو Barbarians یوه قبیله وروسته له بلې قبیلې د چین، هند، اروپا، او منځنی ختیځ په امپراطوریو یرغلونه وکړل. دی مهاجمو اکثراً مفتوحه هیوادونه ړنگ او ویجاړ نکړل بلکه ددی هیوادونو چارې په اختیار کې ونیوی او ددی هیوادو مشرانو په توگه ئی د مفتوحه هیوادو سیمو ته نوره هم پراختیا ورکړه، خو ځینی وخت ددی قبیلو تسخیر د حیرانتیا سبب شوی، پدی معنی چې د مفتوحه هیوادو سازمانو ماشینونه ئی داسی خراب کړل چې ډیری اوږدی مودی ونیوی تر څو د دوی په خرابیو بیرته خپل هیوادونه او امپراطوری ودانی کی.

## ٥ – ملت The Nation

اکثراً لیکوالان عصری، قانونی، او واکمن دولت State پر ځای "Nation- state" ملت– دولت تسمیی ته ترجیح ورکوی. د ملت Nation کلمه دولت State باندی ضمیمه شوی تر څو وښودل شی چې د هیواد یا دولت State په تصمیم نیولو کې (ټول) خلک برخه اخلی "Participatory" او قدرت په اتباعو باندی تحمیل شوی نه وی.

کله ملت Nation تقریباً هیواد State سره مترادفه معنی ورکوی. ملگری ملتونه "UN" هغه سازمان دی چې یواځې دولتونه پکې غړیتوب لری.

فلسطین تراوسه دولت په توګه پیژندل شوی ندی او پدی لته کی نه ښکاری چې د امریکی او اسرائیلو توافق پرته د حق درلودو سره د یوه مستقل دولت اعلان وکی نو دی کبله ملګرو ملتو کې یوائحی ناظر لري. ممکن دا وضع راتلونکی کی تغیر وکی او دا ملت هلته خپل استازی ولری. آیا که چیری امریکی د متحدو ایالتو .U.S نوم انتخاب کړی نه وی ملګرو ملتو کولی شول دا نوم یعنی "United states" ځانته غوره کی؟ ممکن نه، ځکه دولت د قدرت او واکمنی Sovereignty مفهوم هم رسوی، پداسی حال کی چې ملګری ملتونه د نړی ټولو ملتو غونډه او اتحادیه دی.

اما په ملت باندی بحث کونه مهمه مسئله وړاندی کوي هغه دا چی ملتونه له دولتو او هیوادو څخه توپیر لري. مثلاً جرمنیان، فرانسویان، او امریکایان ملتونه ګڼل کیږي. خو که پوښتنه وشی چې په خاصه توګه جرمنیان څوک دی؟ جرمنیان یوائحی هغه څوک نشی حسابیدلی چې جرمنی وایی ځکه د اطریش خلک او هم د سویس یوه برخه خلک په جرمنی ژبه خبری کوی. دین هم د جرمن توب یوائحنی دلیل نشی کیدلی ځکه د جرمنی خلک مذهبی حیثه په دوو برخو یعنی د کاتو لیک او پروتستان په پیروانو ویشل شوی دی. نو جرمن توب د خاص هویت شعور او یو ډول خاصه درکونه دی. فرانسوی لیکوال رینان Ernest Renan (۱۸۸۲) پدی هکله وایی: ملت روح دی، یعنی یو ډول معنوی اصول... په معاصره ژبه کی ملت Nation هغه هویت ته وایی چی یو شمیر زیاتو خلکو په منځ کی ځینی عوامل لکه نژاد، ژبه، مذهب، دودونو او یا حکومت کی یوه بل سره

شریکوی.

ملت په یوه دولت کې د خلکو ګډې برخې اخستنې په مفهوم د اروپایي معاصر تاریخ محصول دی. د اروپا په منځنۍ پیړیو کې ملت (په پورتني مفهوم) موجودیت نه درلود. هغه وخت کې اروپایانو ځانونه دوه مشخصه ډوله هویت ورکوه: له یوې خوا د یوه مسیحي په توګه ځانونه د روم مقدسي امپراطورۍ اتباع ګڼل، له بلې خوا ئې ځانونه محدودو سیمې پورې تړل.

د فرانسې انقلاب په اروپا کې د ملیت روح په پیدا کولو او ظهور کې لوی عامل ګڼل کیږي. نورو میلتونو هم دا روحیه تعقیب کړه او یوه ملت پسې ئې ځانونه مربوطول ګرچې اکثر نور اروپایي ملتونه تر نونسمې پیړۍ پورې د فرانسې او انګلستان په شان سره متحد او یو موټي شوي نه وو. د مثال په توګه د ایټالي او جرمني خلکو په وړو ایالتو او دولتو کې خپل سیاسي ژوند ته ادامه ورکوله تر څو په ۱۸۷۰ کې د جرمني او ایټالي پادشاهي تأسیس شوي خو له ۱۷۸۹م وروسته د اروپایانو یوه مهمه تاریخي موضوع د ملتونو ظهور او څرګندیدنه وه چې غوښتل ئې ملت - دولت Nation-state یا ملي دولت په جوړولو سره خپلو ځانو ته سیاسي هویت ورکي. ددې ارمان لاس ته راوړلو پاره د پخواني یو ګوسلاویا مختلفو ملتو هلې ځلې او پخپل منځ کې شخړې یو غمناکه مثال دی. دا جریان په اروپا کې تقریباً تکمیل شوی پرته له څو وړو ملیتو او ګروپو لکه باسک Basques ، سکات Scots ، او برتون Bretons چې خپلو غوښتنو پاره مبارزه کوي. خو په عمومي توګه په امریکې، آسیا او افریقا کې دا هڅې

جریان لری.

په شلمه پیړی کی یو عمده تحول هم چې له اروپا څخه پاتی نړۍ ته پراختیا وموندہ د نشنلزم مفکوری Nationalism خپرونه دی. پدی پیړی کی د عصری کیدو انقلاب The Wold revolution of modernization سبب شو چې ملت لرغونی عنعنوی سازمانونه لکه کورنی، ټبر او قوم سیاسی قانونیت او مشروعیت ضعیف کی. دی تحول پخوانیو لویو امپراطوریو لکه د ترکانو امپراطوری بنسټ رانسکور که او د هغی خرابیو څخه ترکانو، عراقیانو، سوریانو، یهودیانو، فلسطینیانو، او نورو ملتونو سرونه راپورته کړل. په حقیقت کی دا هم د ډیرو لویو قبیلو انتشار او پراختیا وه چې د ملتو په څیری کی نوی او عصری هویت څرگند که. له هغه ځایه چې د افریقی وچه هم اروپایی ځواکو خپلو منځو کی ویشلی وه ددی وچی قبیلی د سپینو فاتحانو په خوښی سره او د دوی نسبی قدرت په تناسب ویشل شوی او یا هم دا قبیلی د اروپایی ملحوظاتو او گټو په اساس په جبری او مصنوعی توگه سره یو ځای شوی وی. باید وویل شی چی غربی امپریلیزم او کلو نیلزم دا ډول پالیسی په نورو وچو کی هم سرته رسولی.

کله چې د اروپایی استعمار دوره پای ته ورسیده او لمن ئی مخ په ټولیدو شوه د قبیلو او سیمو مصنوعی او جبری ویش معضله ئی خپلو مستعمرو ته په ارث پریښوده. خو تر اوسه هم ځینی افریقایانو مثلاً د کینیا او زمبیا خلکو ته قبیلوی هویت نسبت د هیواد هویت ته مهم شمیرل کیږی.

ددی عصر نه پنځه- شپږ پیړی پخوا انگریزانو او فرانسویانو هم د

خپلو ملي هويتونو په هکله عنعنوي نظر درلود او ځانونه ئې خاصو قبيلو ته منسوب ګڼل، د وخت په تيريدو سره ځيني افريقايي هيوادونه شايد قوي ملي روحيه پيدا کي. اما په فعلي حالت کي ځيني افريقايي قبيلو ترمنځ شخړي او دردونکي جګړي رواني دي چي په ۱۹۷۵ کال کي رو وندا Rowanda د قبيلو اختلاف کبله د نيم مليون معصومو خلکو وژني شاهده وه.

په افغانستان کي د هيواد په عصري کيدو سره د داود خان جمهوريت آخرو وختو پوري پښتنو منځ کي قبيلوي هويت په منځه تلو ؤ، خو د کمونستو قدرت لاس ته راوړلو سره او وروسته له هغي ددي احساس راژوندي کيدل پيل شوي په تيره ځينو منورو پښتنو ته ددي احساس بيداريدل په زړه پوري او ګټور ښکاري ممکن يو مهم علت ئې دا وي چي د خپلو نيکونو تاريخي او لرغوني وياړ باندي له نورو قبيلو څخه ځانونه مشخص کي.

په هر صورت ملت (يا مليت) Nation يو ځانګړي هدف نه تعقيبوي بلکه د نژاد، مذهب، ژبي، او حکومت ترکيب دي چي لدي عواملو څخه يو عامل په ځانګړي توګه نه کافي او نه هم ضروري دي. مثلاً سويس د يوه ملت په توګه له پروتستان Proteston او کاتوليک Cathelic مذهبو څخه جوړ شوي او ددي هيواد خلک په جرمني، فرانسوي، ايتالوي، او رومانيايي ژبو مطالعه کوي. هر ملت ځانګړي خصوصيات او عوامل لري نو دي کبله د يوه

ملت جوړولو او موجودیت ادامی پاره کومه خاصه قاعده او قانون نشته.
ملت د یوه هویت په توګه روحی Psychological او یا ذهنی Subjective واقعیت دی چې په عینی او واقعی اهدافو غلبه حاصلوی.

## ٦- قانون Law

قانون په پراخه توګه کایناتو کی د هر عنصر د روش او سلوک نظم او قاعدی ته ویل کیږی. له خارجی فضا د لویو دبرو لویدل په ځمکه باندی د جاذبی قانون په واسطی توجیه کیږي. منظم قواعد او قوانین کاینات او توله هستی د درکولو وړ ګرځوي. د قانون نشتوالی په صورت کی به د ژوند، حرکت، درک او راتلونکی په هکله اټکل تصادفی وی. نو د قانون نشتوالی د تولنی په هکله هم صدق کوي پدی معنی چې په یوه تولنه کی انسانان د یوه قانون تر سیوری لاندی ژوند کوی.

د انسان په سلوک کی تنوع سبب کیږي چې د قانون تعمیمولو پاره ستونځی ایجاد کی. دا مشکل په بی ځانه اشیا او ابتدایی ژوندی موجوداتو کی نه لیدل کیږی خو په انسانی تولنو کی قانون دی پاره جوړیږی چې د انسانانو اعمال محدود او تنظیم کی تر څو قانونی مقررات اجرا او تطبیق شی. د قانون نه سر غړونی په صورت کی متخلفینو مقابل کی له -جبر -که ضرورت احساس شی- خشونت څخه استفاده کیږی.

د انسان څو ډولیزه سلوک او رویی څخه یو هم قانون دی چې خلک ئی تعقیبوی. زموږ روش د غریزوپه واسطی رهبری کیږي چې موږ کله تری بی

خبره او یا ورته متوجه هم نه یوو. د انسان جبلی تمایل ویده کیدني، غذا خوړني، او زیږولو ته سبب کیږي چې د انسان سلوک په تنظیمولو کې ونډه واخلي گرچې دا لمړني انگیزی او ناڅاپي میلانونه د قانون لوړو اشکالو په واسطې تعدیلیږي. دوامداره ځاني خالص کړو وړو ته عادت وائي. د مثال په توگه خلک باید څه وڅښي ځیني عادت په توگه چای څښي، یو شمیر نور هم ورځي څو ځلي په معین وخت کې کافي څښي. عادت په تدریج سره د یوی تولنې دودو په شکل څرگندیږي. بالغ خلک د چای یا کافي څکلو عادت له نورو نه په لیدو او تقلید سره اخلي.

عادت او دودونه د جبری قانون تعمیلولو پرته په انساني سلوک کې د نظم سبب گرځي ځکه د دودونو او نارمو څخه عدول ځیني مجازات او فشار سبب کیږي. د مثال په توگه که یو تن د ورځي مندی وهلو عادت اخستی وی او که چیری خپل تمرین پریږدی په اتومات ډول او پخپل سر په ځان باندی روحي فشار تحمیلوی.

خو د ټولني لخوا د صلحي او همکاری ساتلو پاره په افرادو باندی څلور ډوله قوانین تحمیلیږي.

۱- مکافات یا کیفر "Retribution" هغو خلکو ته جزا ورکول کیږي چې د ټولنې نارمو څخه تخلف او تیری کوی.

۲- تاوان او غرامت "Restitution" هغو خلکو ته تاوان ورکول دی چې د قانون ماتونکو لخوا ضرر وررسیدلی وی.

۳- تجدید او احیأ "Rehabilitation" د هغو خلکو په سلوک کې تجدید

راوړل دی چی په راتلونکی کی د قانون سرغړونکی مخنیوی وشي.

٤- واگی نیول او محدودول "Restraint" د هغه ویرونکی حالت وضع کول دی چې قانون ماتونکی نورو -مادی یا غیر مادی- وسایلو په واسطی تحریص او ترغیب شي پدی هکله دوه مهم تکی د پاملرنی وړ دی.

١- موږ دی ته ضرورت نلرو چې باید څه ډول مقررات تعقیب کړو بلکه دی ته اړتیا لرو چې څه ډول عمل سرته ورسوو. مثلاً ژبه یو څه مغلق قواعد لری چې گرامری کتابو کی لیکل شوی. موږ خبری په تقلید سره زده کوو مخکی له هغه چې دا توان پیدا کړو چې په گرامری قوانینو باندی پوه شوو. همدا ډول ماشومان مناسب سلوک او درست کړه وړه سرته رسوي مخکې لدی چې د عدالت او انصاف په قوانینو او مفهوم پوه شی. دوه- دری کلن ماشوم د عدالت په مفهوم نه پوهیږي خو پدی پوهیږي چې د بل ماشوم لانځکه اخستل په زور مناسب عمل ندی. ٢- قوانین په حتمی توگه په شعوری ډول په بصیرت او فهم سره طرح او تنظیم شوي ندي بلکه د وخت په تیریدو سره ئی تحول موندلی او ځینی اشتباهات په تدریج تری حذف شوی دی.

پورتنی تشریح موږ سره دا مرسته کوي چې دوه ډوله قانون وپیژنوو.

١- لرغونی قانون هغه دی چې په ټولنه کی په تدریجی شکل تحول موندلی بی لدی چې په کوم خاص او معین وخت کی جوړ شی چی دی ته دود یا مروج قانون Customary law وایی. ٢- دا ډول قانون چی "Legislation" وایی نوی دی او په شعوری او عمدی توگه ټولنی پاره تنظیم او ترتیب شوی. دواړه ډوله مقررات دا جباری تعمیل توانایی لری ځکه دواړو ته په یوه

اندازه اعتبار ورکړل شوی دی. پخوانی تنظیم شوي اولیږل شوي قوانین هغه دی چې یوی ټولنی ته د پیغمبر په واسطی معرفی شوی دی مثلاً یهودیان عقیده لري چې د دوی موسوی قانون وحی په واسطی نازل شوی نو خپلی ټولنی ژوند او ادامی پاره پدی قانون ټینګار کوی.

هر انسان ټولنه کی هر څومره وروسته پاتی هم وی د قوانینو اجباری تعمیلولو او اجرأتو پاره مقررات وضع کړي. شاید دا قوانین لیکل شوی نه وی او شاید هم هیڅوک پدی قادر نه وی چې ټوله وشمیری خو بیا هم موجودیت لری او اجرا لاندی نیول کیږي. دا قوانین د وخت په تیریدو د تجربو تر لاسه کولو سره د ژوند چارو پرمخ بیولو پاره وضع شوی. هغه قوانین او مقررات چې د ژوند ادامی او هوساینی فراهمولو پاره مرسته کړی د وخت په تیریدلو سره د منلو وړ ګرځی او په ټولنه کی پاتی کیږي. دا ډول قوانین دلیل یا منطق "Reason" ګڼل کیږی نه امر، ځکه هیڅا په ښکاره توګه دا اوامر صادر کړي ندي.

د انګلستان قانون چې عُرفی یا غیر مدنی "Common law" په نوم یادیږی د امریکی قانون په څیر لیکل شوی ندی بلکه د منځنی پیړیو راپدی خوا د هغو بی شمیره دوسیو مجموعه دی چې د انګلستان محکمو لخوا پری فیصلی شوی چی ددی فیصلو مرجع لیکل شوی قانون نه بلکه د منطق او دلیل ـ ړیان دی. ځینی غربی سیاسی پوهان عقیده لری چې ددی عمومی قانون "Common law یوه عمده ګټه ددی تغیر منل Flexibility دی. دا ډول قانون د انګلستان ځینی پخوانیو مستعمرو لکه کانادا، آسترلیا،

نیوزیلند، او حتی تر حده امریکی کی جاری دی.

د عُرف -یا عُرفی قانون- "Common law او وضع شوی قانون -Legis-lation ترمنځ د توپیر روښانولو پاره لنده رڼا اچونه د ارزښت وړ دی. لمړنی قانون د اختلاف او دعوا پیدا کیدو وروسته لیکل شوی او نافذ شوی خو دوهم قانون په عمدی توګه سنجول شوی او په شعوری ډول وضع شوی دی. په حقیقت کی دواړه قوانین پدی ملحوظ منځ ته راغلی چې خلک عدالت څخه څه ډول مفهوم اخلی. په بل عبارت دواړو قوانینو په تولنه کی د عدالت مفهوم منعکس کړی. اما Legal positivism (قانونی یا حقوقی قاطعیت-چې جرمی بنتام Jermy Bentham او جان آنستین J. Anstin لخوا معرفی شو- د پورتنیو تعبیر برعکس دولت یا تولواک -که پادشاه، پارلمان، یا هم پخپله خلک وی- له تولنی مافوق او اوچت ګنی. یعنی دولت په یوه تولنه کی یوه خاصه اداره او نمایندګی Agency نه بولي بلکه هغه په تولنه باندی حاکمه شمیري، نو پدی صورت کی قانون په تولنه باندی په زور تحمیل شوی. په عملی توګه دا وضع په هغه صورت کی عملی کیږی چې دولت (تولواک) په خلکو باندی بی د دوی له رضایته په زور حکومت سرته رسوي چې ددی ډول حکومتونو مثالونه په دریمه نړی کی زیات دي.

# دوهمه - برخه

## ایډیالوژی Ideology

په تیره برخه کی د سیاست او سیاسی علم تعریف، حکومت ... واک او صلاحیت او قانونیت او مشروعیت په هکله بحث وشو، د کتاب پدی برخه کی سیاسی نظریاتو په هکله چې افلاطون او ارسط ... څخه پیل شوی بحث ته به ادامه ورکړل شی.

افلاطون ۴۲۹-۳۴۷ میلاد نه پخوا ... سیاسی عقیدو په هکله نظریات څرګند کړی. نوموړی د بنیادی ... د اساسي پوهې "Episteme" او نظریی "Dogma" منځ کی توپیر قایل شو. د "Episteme" یا علم لمړی اصل دا دی چې د منطقی جریان او بحث په بنا ولاړ دي، اما "Doxa" مغه نظر ته وایی چې ممکن تر حده درست وی خو یو غقیده مند تشی کولی خپل نظر په کامله توګه توضیح کي. پدې هکله یو غیر سیاسی مثال دا دی چې تقریباً تول خلک پوهیږي چې ځمکه لمر څخه تاویږي خو ډیر محدود خلک کولی شي دی ادعا ته حقیقي بڼه ورکی او یواځی محدوده تو لنه کولی شي د فیزیک لمړی اصل په بنا دا فرضیه پرمخ یوسي، نوره پاتی اکثریت پدې

عقیدی doxa یا علمی نظریی په توګه اتکا کوي.

د سیاسي فلسفي څانګه دواړو یعنی نظریی doxa او پوهنی Episteme سره سر او کار لري. دا څانګه هڅه کوي چې پوهنه Episteme د لمړي معتبره قیاسي اصولو په بنا کشف کي او له هغه څخه نتیجه استنباط کیږي. همدا ډول نظریه او فرضیه doxa په یوي تولنه کی مطالعی لاندی نیسی او ګوری چې آیا فرضیه او نظریه Doxa او پوهنه Episteme په منطقی توګه سره تړلي او هم ګوري چې آیا دا دوه د تنظیم شوي پوهې شکل وړاندي کوي، Doxa او Episteme په کلی توګه سره بیل ندی بلکه د تیوری تحلیل پاره یو بل تأکیدوی او دا کار د لوړی سطحی پوهنی ادامی پاره د فیلسوفانو لمړی ګام حسابیږي.

## ۷- د ایدیالوژی تعریف:

ایدیالوژي د ارزښتو هغه سیستم دی چې د حقیقت او واقعیت په توګه د یوې ډلې لخوا منل شوي وي. ایدیالوژي د یو شمیر هغو انګیزو او تلقیناتو څخه عبارت دی چې د بیلو سازمانو او ټولنیزو جریانونو مقابل کي جوړ شوي وي. د ایدیالوژی خاوند ځان سره د نړی څیره ترسیموي چې څرنګه دی او هم باید څرنګه وي، او هم ډیره مغلقه نړی ځان پاره په ساده توګه د تفاهم وړ ګرځوي دې کبله د ایدیالوژی څو اړخو ذکرول خالی له ګټې ندی.

۱- ایدیالوژي یوائې ځانی نظر ندی بلکه یو لوی ګروپ یا ټولنیزه

منل شوې عقیده دی او نورو ته د معمولی کلتوری لاری او وسایلو په واسطی نقل کیږی.

۲- ایدیالوژي د حقایقو او واقعیتونو او اخلاقی عقیدو ترکیب دی.

۳- ایدیالوژي د نړی نا محدوده مغلق مسایل په ډیر ساده شکل تعبیروی.

٤- ایدیالوژي د نظریو یو ځای کول په تصادفی توګه ندی بلکه ترحده تنظیم شوي عقاید دي چې په منطقي ډول یو بل سره ربط ورکړل شوی او سره سمون خوری. موږ خپلو نظریاتو کی تضادونه او تناقضونه لرو اما د تنظیم شوی او مرتبطو ایدیالوژیو اوبی ربطه نظریاتو ترمنځ توپیر شته.

پدی توګه په سیاست کی ایدیالوژی د منوری طبقی لکه حقوق پوهانو، استادانو، ژورنلستو او سیاستمدارانو په واسطی ترتیبیږی. دا طبقه اکثراً عام او ملی بحثونه د ایدیالوژیکی لغاتو او اصطلاحاتو په مرستې سرته رسوي. اما عامو خلکو او حتی تحصیل کړو خلکو په هکله شک دی چې د ایدیالوژی خاوندان وي. دا خلک زیاتره د مخالفو ایدیالوجیکی برخو په ترتیب او جوړولو عقیده لري. مثلا: یو تن په ځینو مواردو کی لیبرال، او په یوه برخه کی سوشلیست او په ځینو نورو ټکو کی محافظه کار وي. دوی خپلو فکری تناقضاتو په هکله پدی مورد کی اندیښنه نه څرګندوي. یو علت ئی شاید دا وی چې دوی خپلو تناقضاتو ته سیاسی او ټولنیزو مسایلو توپیر په هکله سوالو ته توجه نه کوی او ی یی بی اهمیت ګوري. د مثال په توګه، خلک د مالیی جګیدو نه په غربی نړی کی

گیله کوي خو په ضمن کی د عامه خدماتو مصارفو زیاتوالی، د سړکو جوړلو، مکتبو جوړولو، او متقاعدینو معاش زیاتولو تقاضا لري.

د ایدیالوجی کلمه کله په منفی تعبیر هم استعمالیږي. دا لغت اکثراً د مخالف نظر خاوندانو په ضد د اسلحی په توګه د هغو نظریو تحقیر او ټیټولو پاره په کار لویږي. په تیره په مباحثو او مناقشو لږ کی د مخالف نظر ردولو پاره لدی تکتیک څخه استفاده کیږي. ددی دلیل څرګندیدو پاره پدی هکله معلومات ارزښتناکه ښکاری.

د ایدیالوژی کلمه په ۱۷۹۷ میلادی کال کی د فرانسوی فیلسوف تریسی Antione Destutt de Tracy په واسطی د نوی ساینس پاره استعمال شوه. که مارکس او انګلس دا مفهوم استعمال کړی نه وی شاید دا لغت له منځه لاړ وی. په حقیقت کی مارکس دا لغت ژوندی کړ لدی کلمی څخه ډیری مودی پوری استهزا پاره کار اخیستل کیده. تریسی Tracy یو وخت د ناپلیون ملاتړ کوونکی ؤ، خو کله ئی چې ناپلیون باندی په انتقادو پیل وکه، ناپلیون دده نوی ایدیالوجی علم Science of ideology تحقیر که او هغه ئی مبهم دکترین Doctrine وباله او هغه خلک چې ددی کار ملاتړونکي وو د ایدیالوګ Ideologues په نوم یاد کړل. مارکس او انګلس دا کلمه بیرته انتخاب کړه او هغه ئی دوهم ځلی صیقل او تعریف کړه تر څو خلک وکړای شی چی خپلې مهمی نظریی پخپل سیستم کی تنظیم کي، دوی پدی دلیل دا لغت په کار واچوه چې د دوی په نظر د انسانانو ټول افکار په اقتصاد باندی تکیه لری او هنر، علم، ادبیات، قانون، او سیاسی افکار

تولنه د اقتصاد مخلوق او پدی ډول اقتصادی وضع منعکسوی. مارکس ولیکل چې باید د «تولید اقتصادی شرایط» چې د طبقاتی اختلاف او خصومت ضرورت دی له قانونی، دینی، سیاسی، فلسفی شکلو څخه چې ایدیالوجیکی بڼه لری توپیر وشی. یعنی دا تول په اقتصادی اړیکو چې زیربنا "Foundation" دی قانونی او سیاسی ودانی "Superstructures" چې تولنیز شعور جوړوي دریږي.

مارکس هم ایدیالوجیکی مفهوم تحقیر او تیټونکی هدف پاره استعمال که ځکه ده خپله نظریه ایدیالوجی نه شمیرله بلکه خپله تیوری ئی علمی سوشیلزم Scientific socialism وباله.

## ۸- لیبرلیزم Liberalism

ویل کیږي چې هره ایدیالوژی د خپلې بقا او ادامی پاره ځینی تعدیلات او نوي نظریات د شرایطو او وخت په ایجابولو او یا سیاسی ملحوظاتو پاره معرفي کوي او یا هم له نورو ایډیالوجیو څخه ځینی مطالب په عاریت اخلی او ځینی نامطلوبه، بی وخته، او بی ضرورته نظریی صیقل او حذ فوی. د وخت په تیریدو سره د لیبرلیزم په ایدیالوژی کی یو لړ بدلونونه پیښ شول. پدی برخه کي به د کلسیک او اصلاحی لیبرلیزم تشابه او تضاد تکو ته لنډه کتنه وشی.

د لیبرلیزم کلمه په سیاسي ډگر کی لمړی ځل ناپلیونی جگړو کی استعمال شوه، او په نونسمه (۱۹) پیړی کی د انگلستان لیبرال گوند په

جوړولو سره دی نوم عمومیت پیدا که. په پراخه توګه که وویل شي د لیبرلیزم کلمه په حقیقت کی د غرب قانوني عنعنې محصول دی. په خاص ډول لیبرلیزم د انګلستان د ویګ Whig ګوند د قانوني آزادی پرمختګ نتیجه دی. د نونسمی (۱۹) پیړی کلسیک لیبرلیزم Classic Liberalism او د (۲۰) شلمی پیړی اصلاح غوښتونکی لیبرلیزم Reform Liberalism ترمنځ په ځینو مواردو کی ښکاره توپیر لیدل کیږي.

الف کلیسک لیبرلیزم

که څه هم جان ستورات میل John Stuart Mill د کلسیک لیبرلیزم Classic Liberalism حامیانو او مشرانو څخه شمیرل کیږی خو د اصلاحی لیبرلیزم Reform Liberalism د لاری پرانیستونکو څخه هم ګڼل شوی دی، سره د دی چې نوموړی د دیموکرسی (دلته رأی ورکولو حق) زیات مشتاق نه ښکاریده خو دی ته ئی څه تمایل درلود چې رأی ورکولو حق زیاتو خلکو ته ورکړل شي. اما دی په ضمن کی متوجه ؤ او حتی اندیښنه ئی درلوده چې ممکن بی کنتروله عام خلک د رأی ورکولو حق نه د ځان غوښتنی پاره ناوړه استفاده وکي او د خلکو شتو او ملکیت نه د شخصي مقاصدو پاره یعنی د رأی ورکولو حق په اساس ضبط او مصادره کی. نو دې کبله ده پیشنهاد وکه چې تحصیل کړي پوه خلک باید د یوې رأيې پر ځای د څو رایو ورکولو حق ولري. دی نسبت خپل پلار (James Mill) ته محافظه کار ګڼل کیږی. ځکه جیمز میل لمړی مشهور متفکر ؤ

چې په ښکاره توګه ئې د نمایندګانو دیموکرتیک سیستم د منلو وړ وباله.

ب- اصلاحی لیبرلیزم

اصلاحی لیبرلیزم Reform Liberalism په بنیادی توګه کلیسک لیبرلیزم Classic Liberalism سره په څلورو مواردو کې موافق غږونه لوړوي. سره ددی چې اصلاحی لیبرلیزم دا کاملاً نه ردوی چې آزادی د فشار او اضطرار غیبت دی خو د توانایی بُعد هم نشی پکی لیدل کیدلی د یوه کاناډایی ژورنالیست او لیکوال پییر برتون Pierre Berton په نظر بیوزلی خلک په واقعي او رښتنی توګه آزاد ندي ګر چې دوی په فعاله توګه اجبار او فشار لاندی ندي اما په ژوند کی مالی نشتوالی توان او قدرت دوی پاره په ژوند کی فرصتونه ډیر محدود کړي او داسی ښکاری لکه چې دوی په فعاله توګه فشار لاندی راغلي وي. کلسیک لیبرلیزم ډیر محدود او بی وسه حکومت تجویزوي، پداسی حال کي چې اصلاحي لیبرلیزم حکومت څخه غواړي چې د ټولنی ناظروی او د خلکو په چارو کی مثبته مداخله وکي؛ همدا ډول اصلاحی لیبرلیزم د کلیسک لیبرلیزم برعکس د خلکو ترمنځ د فرصتونو تساوې ته هم تر یوه حده متعقد دی؛ د کلسیک لیبرلیزم برعکس اصلاحی لیبرلیزم په ټولنه کی د رأی ورکولو حق ټولو غړو- نر او ښځی او بی شتو ته هم -تعمیم او پراختیا وړ بولی؛ اصلاحی لیبرلیزم نسبت کلسیک لیبرلیزم ته زیات دیموکرتیک اړخ لري ګرچی توپیر ئی زیاتره په درجې کی دی نسبت شکل او رقم ته پرته لدی چې په اقتصادی برخه کی دواړه سره څه توپیر لری یعنی اصلاحی لیبرلیزم دشته مندو پاره د

زياتو ماليي او تکس تجويز کوي او هم د دولت مثبته پراختيا غواړي ترڅو د خلکو ترمنځ د شرايطو نابرابري محدوده شي او بيوزلو ته د حد اقل ژوند معيار تضمين شي؛ خلکو ته د آزادي په ورکولو کې نوي او اصلاحي ليبرليزم د کليسک په شان معتقد دي او حتی آزادي ته نور وده هم ورکوي.

## ۹- محافظه کاري Conservatism

محافظه کاري يعنی د يوه شی ساتنه. نو په سياسی اصطلاح کی محافظه کار هغه سړي ته ويل کيږي چې ټولنه پخپل شکل او حالت وساتي او هر ډول تغير او بدلون ته د شک او ترديد په سترګه ګوري. د انګلستان يو سياسی تيوريسن په نظر پدی توګه «محافظه کار نسبت نا آشنا او نه پيژندل شوي وضعي ته آشنا او پيژندل شوی وضع، نه آزمويل شوی وضع ته امتحان شوی وضع، اسرارو په نسبت حقايقوته، ناممکنو په نسبت واقعيتونو ته، نامحدود په نسبت محدودو ته، لری په نسبت نږدی ته، پريمانی او خورا ډيروالی په نسبت کافی او بسيا ته، کامل په نسبت هوسا او مناسب ته، او خيالی اجندا په نسبت واقعی اجندا ته ترجيح ورکول دي.» هر نوی نوښتون څه په پوهنه او ساينس، ايډيا، هنر، او يا تجارت کی وی بايد د بی شميره مستقلو خلکو نقد لاندی راشی او دوی ټول بايد د هغه په منلو، اخستلو، يا تقليد کی تصميم ونيسي ځکه هر يو په ځانګړې توګه ممکن په يوه نوښتون کی غلط او ناقصه قضاوت وکي، په کلی توګه دوی دا وايې چې د وخت په تيريدو سره درست تصميم او معقول عمل منځ ته راځي.

داسې ښکاري چې يو محافظه کار د خپل سرى بدلون پاره له حده زياته حوصله او صبر تجويزوي او له خلکو غواړي چې يوه بدلون ته په هره برخه کی چې وی منتظر ووسی تر څو هغه د ټولو -یا تقریباً ټولو- لخوا د منلو وړ وګرځی، خو بیا هم دی په دقیقه توګه نه څرګندوي چې یوه بدلون پاره څرنګه او په کوم وخت کی شرایط محدود او وتاکل شي او پدی هکله ځینی سؤالونه مطرح کیږي. د مثال په توګه که چیری د یوی کمپنی کار ګران غواړي د خپلو نسبی حقوقو غوښتنو پاره د کمپنی خاوند یا خاوندانو څخه د کارګرو اتحادیی جوړولو غوښتنه او تقاضا کوي یو محافظ کار په مقابل کی شاید ورته ووایی چې د اتحایی جوړولو وخت ندی رارسیدلی، او څو لسیزی وروسته بیا هم د اتحادیی جوړولو وخت ورته معین نه کی. د محافظه کار دلیل د کارګرو د اتحادیی جوړلو مقابل کی شاید دا وي چې باید د ټولنی ټول خلک د کارګرو سره پدی هکله موافق وي. داسی دلیل د کارګرو غوښتنو مقابل کی نوری ستونځی او خنډونه پیدا کوی ځکه شاید کار کوونکی د محدودو او ساده وسایلو لکه پرمختللی مخابراتی وسایلو، کافی بودجی نشتوالي له کبله ټولو خلکو سره په سختی تماس ونیسی او خپل غړونه او غوښتنی دوی ته ورسوی او د ټولنی افکار خپلو ځانو په ګټی د فابریکی خاوندانو مقابل کی جلب کی او ضمنا ټولنه قانع کړي چې د دوی غوښتنی د ټولنی ګټو سره تناقض نلري بلکه یوازی د پانګه والو ګټو سره په تضاد کی دي.

په ۱۷۹۱م کی د آیرلند پارلمانی محافظه کار غړی، لیکوال او

سیاستمدار، ادموند بورک Edmund Burke د چټک بدلون مخالفت وښوده او د فرانسي انقلاب په هکله ئې ولیکل چې خپل سری او ګډوډی او استبداد Turmoil and despotism به د پخوانیو دودنو او کلتورو سره د مقاطعي کبله منځ ته راشي. د ده په نظر خلک دومره هوښیار ندي چې په یو ځلي ټولنه جوړه کې. نو لدی کبله خلک باید خپلو پخوانیو ټولشوی تعقل، هوښیاری او بصیرت باندی چې په هغه کی عنعنی، دودونه، او تجربی یو ځای شوی اتکا وکی. د بورک E. Burke په نظر له سیاسی حیثه محافظه کاری هغه تعصب ګڼل کیږي چې د دولت هغو اجباری هڅو او غوښتنو مقابل کی چې غواړی په ټولنه کی بدلون راولي په غاړه نیولي او هغه پرمخ بیایي نو محافظه کار ئی مخنیوی کوي. د سیاسي حیثه بورک د Whig ویګ ګوند (د هغه وخت لیبرل ګوند) پوری تړلی ؤ چې په عمومی توګه د پارلمان پاره ئی زیات حق او صلاحیت غوښتنه کوله اما اقتصادی پلوه لیبرل او ټولنیز حیثه محافظه کار ؤ خو ایدیالوژیکی حیثه ده اقلاً ځینو ټکو کی د توریزم Toryism نمایندګی کوله.

په بین المللی ساحی کی محافظه کاران د خپلو هیوادو ګټو مخته بیولو هڅی کی دي. دوی نظر لری چې پدی خصمانه نړۍ کی باید د خپلو هیوادو نظامی پیاوړتیا د نورو هیوادو مقابل کی زیاته کړی. د امریکی جمهور رئیس رونالد ایګن خیریه او عام المنفعه پروګرامونه د پوځی بودجی زیاتوالی په قیمت کم کړل چې پدی توګه ددی هیواد بیوزلی خلک زیات متأثره شول. د انګلستان صدراعظمی مارګریت تا چر هم د خپل

هیواد پوځي پیاوړتیا ته پاملرنه وکړه او په هغې کې زیاتوالی راوست په تیره د ارجنتین ماتی وروسته د فاک لند په جګړې کې خپلي ملاتړونکو هیوادوالو ته وښوده چې هغې د هیواد ملي حیثیت او تقویي سمه لار پرمخ وړی دی.

عصري محافظه کار دوه اړخیزه مشکل سره مخامخ دی. ځکه له یوی خوا ئی نا آرامه ائتلاف د عنعنوی اخلاقو ځمکو خاوندانو، اشرافی طبقی، محافظه کار فیوډال -چی شمالی امریکی کی توریزم Toryism په نوم یادیږی-، او د کلسیک لیزه فیرلیبرلیزم Laissez- Faire عناصرو سره یو ځای شوی؛ له بلی خوا محافظه کارو ځینی هغه خلک چې د پخوانی ځمکو خاوندانو اشرافی طبقی څخه ندی هم غیړی کی نیولي. له هغه ځایه چې اقتصادی لیبرلیزم او سیاسی او فلسفی توریزم Toryism د انسانی نا موافقه تولنیز طبیعت اوریښی څخه اخستل شوی، نو ددی ډلی هر ډغه څوک که هڅه کوی چې دا دواړه غیر متجانس ارزښتونه سره ګډ او یو ځای کی ممکن یونه درک شوی تشنج او خړپړ تیا په حالت سره ئی پای ته ورسوي.

## واقعي اخلاقی نظم An objective moral order

د توری محافظه کار د نظر اصلی جوهر Quintessestial شاید د نړیوال موجودیت او شتوالی اخلاقی نظم او دایمی او تلنی، لکه صحیح او غلط، باندی اتکا او د هغو منل وي. یعنی هغه څه چی درست دي ځکه مهم دی چې تل پاره صحیح وو او د تل د پاره به همداسی وي. یو تالیتریانیزم

د Utalitarianism نسبي ارزښت هغه سیستم دی چې په هغه کې د یو عمل ارزښت نتیجه د ځای او وخت او هم د خپلي خوښي -Do- you- own "thing" په اساس تاکل کیږي، محافظه کار ته دواړه باندني او پردي ښکاري. محافظه کار علاقه لري چې طبیعي قانون ومني دي پاره نه چې د تولني پرمنځ ته راتلو سره د افرادو حق غواړي بلکه هغه (طبیعي قانون) د نړیوالو ارزښتو تحمیلي وظایفو سرته رسولو په شکل ګڼلوي.

د محافظه کارو یو مهم شخصیت لارډهاګ سیسیل Lord Hugh cecil بلدي او آشنا لاري ته د انسان تمایل په هکله وایي: طبیعي محافظه کاري Natural conservatism د انسان فکري تمایل دی او انسان د بدلون نه بیزار دي دا تر یوه حده دي کیله دي چې انسان ناپیژندل شوي پدیدي باندي بی اعتماده دي او نسبت تیوریکي دلیل ته په پیژندل شوي او تجربه شوي مسئلي باندي اتکا کوي. د انسان فکري توانایي توافق تر یوه حده خپل محیط او چاپیریال سره دي. پدي دول بلدیت نسبت نابلدته زیات د زغملو وړ ګرځي. په نا آشنا او نامأنوسه باندي اعتماد نشتوالي او نسبت تیوري ته د تجربي ترجیح ورکونه د انسانانو په شعور او ذهنیت کي ژور ځای نیولي.

دا نظر داسي افاده کیدلی شي چې خلک خپلو محافظه کاري پاره شاید بیلي انګیزي ولري- شته مند او قدرتمند خلک شاید دي پاره محافظه کاري ته تمایل ولري چې هغه څه چې دوی په اختیار کي لري وساتي. دوی شاید لدي ودار شي چې هغه شته او امتیازات چې دوی په

اختیار کې لري په تغیر کې له لاسه ورکې. له بلې خوا د یر بیوزلي هم شاید لدې په ویره کې وي چې بدلون سره ممکن د دوی وضع نوره هم خرابه شي-ځکه تجربو داسې ښودلي. نو هغه یې ارزښته لې شته له لاسه ورنکې ځکه د نور لې شي له لاسه ورکولو عهدې څخه نشي وتلی.

داسې باید تعبیر نشي چې محافظه کاران اصلاً د بدلون سره مخالف دي، حتی افراطي محافظه کاران هم تر حده په ټولنې کې تغیر ته عقیده لري. خو بدلون باید د نوښتون او تعهد ثابتونه په غاړه واخلي ځکه تغیر د منل شوي او تأسیس شوي نظم څخه عدول ته وایي. هغه څوک چې غواړي هر څه ځرنګه چې دي باید همغه دول پاتې شي د خپلو ادعا توجیه کولو پاره ستونځې نلري بلکه هغه څوک چې بدلون په لټه کې وي باید ثابته کې چې موجوده نظام د فساد او شر په رنګ لړل شوی نو اصلاحات او تحول د جل یوه مهمه لار ګڼل کیږي. محافظه کاره ایدیالوژی د دې مشکل څخه دومره نه خبریږي تر څو پاندنې مبارزې او اعتراض Challenge سره مخامخ شي. له هغه ځایه چې محافظه کاري Conservatism د بدلون او ابتکار مخالف دې نو د یر ورو بدلون ته غاړه ږدي پدې شرط چې اشد ضرورت ور ته احساس شي.

د دودونو اخلاقي قوه او روحیه د عمومي او ملي قانون Common law په مفهوم کې هم منعکس شوې چې اساس ئې په دواړو هیوادو یعنې انګلستان او کاناډا کې ایښودل شوی دی. عمومي یا ملي قانون Com-mon law د قضایي سیستم ستون فقرات ګڼل کیدلې شي او د انګلو

ساکسون Anglo-Saxon د قبیلو له دودونو څخه ریښې اخلی. دی قبیلو ته قانون د خلکو د رسمونو او کلتور مقدس شته شمیرل کیدل چې په هغه کی د یو لړ دایمی حقوقو اصول او ظایف پکی وو چې دا قبیلی ئی سره یو ځای ساتلې وي. د دوی په نظر دا قانون جوړ شوی نه ؤ بلکه په کامله توگه تل موجود ؤ. د وخت په تیریدو سره او په خاصو مواقعو کی د ځینو وظیفه دا وه چې دا قوانین کشف، تعبیر، او تفسیر کي او په خاصو مواردو کی په کار واچوی. شاید د قضا مجریانو سره دا اندیښنه او شک ؤ چې که دا قوانین ونه لیکي په راتلونکي کې به خلک د ابهام سره مخامخ شي نو ځکه د پخوانیو محکمو دنده دا وه چې هغه ولیکي او راتلونکی نسل له ابهام څخه خلاص کی ځکه کامل قانون موجود وو. پدی ډول د قانون اهمیت د پارلمانی فیصلی Act of parliment او یا لیکل شوی قانون Written code څخه زیات ؤ. دا وروستني قوانین د پخواني قانون په اساس منځ ته راغلل او حقیقت کی د تیر حالت او وخت او هم د حال پاره لارښود ؤ پدې ډول د تیری زمانی اثر په موجوده زمانی کی پروت دی او د ماضي اثرات په حال باندی د توري"Tory" محافظه کاره نظریه دی.

## اورگانیکه ټولنه Organic society

که لیبرال فردی اصل Individnalism ته معتقد دی، محافظه کار توری "Tory" برعکس ارگانیکی ټولنی -د ژوندی عضوی موجود په شکل عقیده درلودل- ته متعقد دی. ددی ډلی په نظر ټولنه یو بشپړ ترکیب دی چې له ځانه خپل ژوند لري او افراد ئی د خپل غړی په توگه پدی کی

وظایف سرته رسوي. دا نظر د وسطی پیړیو فیلسوفانو چې ټول کاینات د جنت او دوزخ په ګډون دالله تعالی د لوی ارګان جز باله، وړکی او نړیوال ارګان یعنی کلیسا او د کلیسا هیواد د دی لوی ارګان یوه برخه وه. ددی واړه نړیوال ارګان یعنی کلیسا وړی برخی لاس لاندی هیوادونه او نوری کلیسا وی وی د هر قسمت برخه د بلی لوی متحدی برخی او هغه بیا پخپل ځای کی د نورو وړو برخو لوی جز شمیرل کیده. دا یو والی یواځی په مکان کی نه محدودیږي بلکه زمان ته هم غزیږي. د بورک Burke په نظر: «دولت د ادامی هغه ایډیادی چې په مکان، شمیر، او فضا کی پراخه کیږي. » ټولنه هغه یو ژوندی هویت دی چې ماضی، حال، او راتلونکی سره وصلوی او نښلوی.د هغی ټولنی چې زه ئی د ژوند برخه یم مخکی له هغه چې زه تولد شم پخوا موجوده وه او خپل شته والی ته ادامه ورکړی او په ډیر لری راتلونکی کی چې زه مړ هم شم ادامه ورکوي. پدی ډول د بورک په نظر ټولنه د اتومونو مؤقتی تنظیم شوی ودانی څخه زیات مفهوم رسوي.

له هغه ځایه چې ټولنه عضوی سازمان Organic organization دی باید ټولنه یواځی د اجزاؤ ترکیب نه بلکه له هغه زیات وی او هم باید ددی برخو یو ځای کیدنه پر مختللی شکل او تنظیم شوی ودانی ولری. باید د مراتبو سلسله، طبقه، مرکز، او ؛اسي نوری برخې لکه تیتمي او لوړې طبقی ولری. په بل عبات مح فظه کار د طبیعت نابرابری او ناسمون ته په ټولنه کی عقیده لری. په عنو. توري "Tory" نظریی کی د متحدی ټولنی معنی دا وه چې صنی په - کی ؛ وه اړخیزه اړیکی موجودی دی. هغه

ځوک چې تیت او بې ارزښته کارونه کوي مسؤلیت او مشکل هم په غاړه نلري، برعکس هغه طبقه چې د امتیازاتو څخه مستفید دي ډېرې لوړې او درنې وظیفې پرمخ بیایي او پدې توګه زیات مسؤلیتونه په اوږو کش کوي.
د نولسمې(۱۹) پیړۍ په آخرو کې بردلي F.H.Bradley (۱۸٤٦-۱۹۲٤م) د «زما مرکز او د هغه وظایف» یا "MY Station And Its Duties" نظر وړاندې کړه چې په هغه کې د فردیت اصل Indi-vidnalism بې مفهومه بولي ځکه ټوله افراد د یوې ټولنې غړي دي او یوه بل سره اړیکې لري او پرته له ټولنې د دوی شتوالی بې معنی دی او د ټولنې هر غړی د خپل موجودیت دَین ټولنې څخه په غاړه لري او د ټولنې په شتوالي یوه بل سره روابط ساتلې او ټینګولی شي. توري Tory د وظیفې "Duty" په لغت باندې تأکید کوي خو لیبرالان خپله توجه د افرادو په حقوقو "Rights" باندې د ټولنې په مقابل کې متمرکز وي یعنې د افرادو حق څخه د ټولنې په ضد بحث کوي.

## د نابرابرۍ منل The acceptance of inequality

توري Tory د نابرابرۍ حقیقت مني او حتی تمایل لري چې نه یوازې د تساوي نشتوالي په عاید کې ونګوري بلکه په ټولنه کې د قدرت او رتبې توپیر ته هم معتقد دي. د محافظه کارو ټولنه د تساوي ټولنه نشي حسابیدلی ځکه دوی برابري او یو شانته والی د سیاسي او ټولنیز هدف په توګه ردوي، حتی دوی یو ګام مخکې اخلي او وایي د یو شانته والي امکانات په ټولنه کې نه لیدل کیږي پدې دول د طبیعي نشتوالي تساوي ته

عقيده لري او هغې ته قانوني بڼه ورکوي. په انګلستان کې د عامو خلکو او لاردانو Lords ترمنځ توپير او د اشرافو ميراثي القابو ساتنه د طبيعي تګ لاري منل دي چې په نهايت کې د ټولنې مجموع ته ګټور ګڼل کيږي. توري "Tory" محافظه کار دې واقعيت ته بې توجه دي چې هغه خلک چې ټولنيز عالي موقفونه ئې په ارثي توګه حاصل کړي په حقيقت کې د ا امتيازونه دوی ته اختصاص شوي بې لدې چې دوی خپل ځوند کې هغو مقاماتو او موقفونو پاره هلې ځلې وکړې او يا ددې کار پاره ذاتي استعداد ښکاره کي.

سوشلستان پدې هکله توري سره په پوره ټکې کې يو نظر لري. دوی معتقد دي چې د طبقاتي مراتبو سيستم په ټولنو کې موجود دي او په نړۍ کې ادامه لري. خو د توري سره دا نظر نه مني چې ددې سيستم وداني مطلوبه او يا دايمي دي. دوی د موجوده طبقاتي سيستم وداني نړولو په فکر او لټه کې دي.

## مثبت او عملي دولت The Positive state

د دولتي پلان او د اقتصاد مرکزي لارښودنه، او د اقتصادي او ټولنيزو ستونځو حلولو پاره حکومت ته مراجعه کول د نړۍ ارګانيکي نظريې Organic world view سره بې ربطه ندي. نو دې پاره د توري "Tory" ايديالوژي خاوندان نسبت محافظه کارو ليبرالانو ته زيات متمايل دي چې د دولت مثبت رول د هيواد په چارو کې ومني. يو مهم او عمده اختلاف د محافظه کارو ګوندو په منځ کې همدا موضوع تشکيلوي. هغه محافظه کاران چې په واقعيت کې کلسيک ليبرالان Classical Liberals

او یا پانگه وال Capitalists دی اقتصادی لیزه فیر Laissez-faire دُ کترین ته معتقد دی حتی که ټولنی ته، په لوړه بیه هم تمامیږي. د توری محافظه کارو دا ډله په آسانی دی ته معتقد شوی چې اخلاقی او ټولنیز تعهدات کله کله باید د پانگه والو او لویو خاوندانو اقتصادی گټو او ملاحظاتو ته ارجحیت ورکی.

که چیری ټولنه یو ارگانیکی جوړښت لري نو باید په منځ کی داخلی تضاد ونلری یعنی د افرادو او د ټولنی گټو ترمنځ توپیر نه وی ځکه دواړه د یو والی برخه جوړوی. توری Toryد دولت قدرت څخه نه ویریږی ځکه د دوی په نظر همدا خلک د دولت مالکان حسابیږی. د طبیعی مشر تابه په قانون کی دوی د (لویو) کمپنیو ظرفیت پاره تر خپل وس پوری د خپل ملت هدف پرمخ وړي. د سوشلستو په شان دوی هم دا نظر مني چې دولت درسته جمعی او ټولنیز هدف پرمختگ پاره ښه وسیله دی. خو پدی ټکی کی له سوشلستو سره توافق نلری چې ټولنیز هدف کومی خوا ته او په څه سلوک او کړو وړو سره وټاکل شي. دوی (توري) علاقه لري چې ټول فعالیتونه د خصوصی پانگه والو او بزنس خلکو په ابتکار پرمخ لاړ شي خو که چیری هغوی د هیواد پرمختیایی پروژو کی برخه نه اخلی نو بیا باید حکومت دا کار په غاړه ونیسی.

توریزم Toryism چې د پخوانیو فیوډالو نظر څخه چینه اخلی د ټولنی د هوساینی او رفاه پاره زیات مسؤلیت په غاړه نیسی. گر چی د فیو ډالیزم په دوران کی د بیوزلو ژوند ډیر خراب ؤ خو دوی د بیوسه او بیوزلو

ژوند اخلاقی مسؤلیت منی، پدی هکله څو پیړی پخوا اقدامات شوی چی بی کوره خلکو ته الماستی (ویده کیدو) ځای او لوږو ته ئی خواړه تهیه کول. البته د هستوګنی ژوند ډیر سخت ؤ خو بیا هم د ویده کیدلو ځای ګڼل کیده او هغو بی وسه لوږو پاره چې ئی نشول کولی ځانو ته ډوډی پیدا کي غم خوړل کیده. البته څنګه چې ذکر شوه دا غمخوری ډیر نا آرامونکی او سخته وه خو اقلاً داسی ټولنی اخلاقي حیثه ناجایزه ګڼله چې خلک له لوږی مړه شی.

محافظه کارو ته د عامه هوساینی خدمتونه پلرنی لطف او پاملرنه تعبیر کیږي. یعنی دوی د تساوی او عدالت نظر ته معتقد ندي. پدی هکله کوم اصل نشته چې ټول خلک په متساوی توګه د ځنیی مادی معیارونو مستحق دی. د دوی پاره لارښودونکی او مهم اصل دا دی چې ممتازه طبقه چې خپلی ګټې او امتیازات خوندي ساتي دا مسؤلیت هم لري چې بی وسه او بی امتیازه طبقو ته د ژوند او معیشت حد اقل شرایط برابر کي، ددی پر ځای چې محرومو خلکو او طبقو ژوند معیار تر هغه ځایه لوړ کی چې دا خلک وکړای شي خپل مقدرات په خپل لاس کی ونیسي او پدی ډول خپل سیاسی اقتصادی امنیت تأمین کی. توری Tory شاید ووائي چې: «هغه څه چې له پخوا په ژوند کی درته مقدر شوی ومنه، او موږ -په طبیعی توګه له تاسو مافوق- به د تاسو غم وخورو. پدی هکله یو توری شاعر او لیکوال کولیریج Samuel T. Coleridge د توری دیموکرسی "Tory democracy" په هکله وائي: «د حکومت کولو بصیرت او توانایی

د محدودو خلکو ملکیت دی؛ خو دا محدود کسان باید خپل قدرت داسې په کار واچوي چې د زیاتو (خلکو) مشقت او نا آرامي کمه کړي. »

لیبرلیزم د مسؤلیت پخوانی نظریه یعنی د ارګانیکی ټولنې Organic community عامه رفاه اصل پریښووده. د لاک J. Locke دلایلو په تعقیب پانګه والو فابریکو خاوندانو خپل دلیل داسې وښووده چې دوی د کارګرو کار چې د دوی لخوا په خپل رضایت پیشنهاد شوی اخلی. هغه څه چې مالکان اخلي یوائې کار دی نو دی پاره خاوندان د کارګرو مقابل کی کوم اضافی مجبوریت او تعهد په غاړه ندی اخستی. پدی توګه لیبرلیزم Liberalism د خلکو ترمنځ د معاملی کولو او چنې وهلو نظریې وړاندی کولو سره د یوی ارګانیکی ټولنی نظریه چې په هغې کی د ټولنی غړو یوه بل مقابل کی ځینی مجبوریتونه او تعهدات درلودل نسکوره کړه. دا موضوع هم بله مسئله دی چې په غربی نړی کی د محافظه کارو ګوندو ترمنځ څه توپیر پیدا کړی. یوی خوا لیزه فیر لیبرالان Laissez-faire liberals دی چې غواړي د دولت مداخله په اقتصادی چارو کی محدوده کړي، له بلی خوا ، Paternalistic, welfare - oriented tories (پلرنی توجه او لطف په عامه رفاه نظر مزین شوی محافظه کار توری) دی چې علاقه لری د دولت مداخله د ټولنی په مسایلو کی زیاته او پراخه کی تر څو د ټولنی بی عدالتی او بی رحمی اړخ ملایم کي. په کاناډا کی هغه توری خلک چې پلار د ولیزه سلوک Paternalisticد بیوزلو خلکو مقابل کی لري د سره توری "Red tories" په نوم یادیږي.

## ۱۰- سوشلیزم Socialism

دا ښکاره او واضحه ندی چې لمړی ځل سوشلزم کله ځرګند شو. ځینې د افلاطون په«جمهوریت» کې لمړی ځل لپاره لولی چې په هغه کی واکمنانو او پوځی مشرانو شته نه درلودل او د دوی ټول شته سره شریک وو. سره ددې چې ځینی غربیان سوشلستی قانون تورات ته رسوي، خو اکثرو غربی فیلسوفانو د افلاطون Plato لیکنو سره زیاته علاقه ښودلی ځکه د لرغونی یونان فیلسوفانو په تیره سقراط Socrates افلاطون Plato او ارسطو Aristotle څخه معاصر سیاسی نظریات متأثر شوی نو ځکه دا دری فیلسوفان د دوی په لیکنو کی ذکر او مؤثر ښکاری. د رونسانس او اصلاحاتو The Renaisance & the Reformation په دوره کی د شتو او تساوی نشته والی په ضد اعتراضونه لوړ شول. په ۱۵۱٦ میلادی کی د تامس مور Thomas more په فاضلی مدینی کتاب "Utopia" کی د مادی عقیدی سره نوی تعقل Rationalism یو ځای شو.

نو که په دقیقه او خاصه توګه د ټولنیزو بی عدالتیو مقابل کی اعتراض لټوو نو سوشلیزم د مؤثر او منظم جریان په توګه د صنعتی انقلاب مولود دی. سوشلیزم د سیاسی عمده ځواک په توګه د عصری صنعتی کپتلیزم Capitalism په نتیجی کی منځ ته راغی. کمونیزم Communism په هغو هیوادو کی سر راښکاره که چې د کامل صنعتی انقلاب اثراتو کبله ښکاره کیدل ئی ممکن نه وو. سوشلیزم Socialism برعکس زیاتره په هغو ټولنو کی معرفی شوی دی چې په هغو کی صنعت د

توجه وړ مرحلو کی گام اخسته. مثلاً په پخوانی شوروی اتحاد او چین کی چې صنعتی وده نسبتاً کمه وه کمونیزم سر څرگند که، پداسی حال کی چې انگلستان، جرمنی، جاپان، او ځینو نورو هیوادو صنعت نسبت لمړنیو دؤ هیوادو ته زیات پرمختګ وکه او بیا ئی ځینی عام المنفعه پروگرامونه او اصلاحات خپلو ملکو ته راوستل. البته په غربی اروپا باندی رونسانس، صنعتی انقلاب، د فرانسی انقلاب، او نورو سیاسی جریاناتو هم د سوشلیزم په څرگندیدو کی اثر درلود.

سوشلیزم او کپتلیزم ځینو مهمو ټکو باندی توافق نلری چې له هغی جملی څخه یو هم خلکو ته له حده زیاتو رفاهی سهولتو تیارولو متود او لار دی. سوشلیزم عمومی او ټولنیز شته او ملکیت او هڅی تائیدوی پدی مفهوم چې باید ټولنه د ټولو خلکو هوساینی او نیکمرغی لور ته گام واخلی نو پدې توگه افراد هوساینی لورته یو قدم پرمخ ځي. کپلیزم برعکس فرد ته اصالت ورکوي او غواړی چې د هر وگړي او یا کورنی شته او تولیدی وسایل وساتل شي نو پدی توگه ټولنه په نهایت کی نیکمرغی خواته گام اخلي.

خو دواړه سیستمونه Systems یعنی کلسیک لیبرل کپتلیزم Classic liberal capitalism او دیموکرتیک سوشلیزم Democratic socialism دی ته معتقد دي چې باید په نهایی توگه دشتو حق په کار، هڅی، او زیار باندی لاس ته راوړل شی نه د زیږیدلو امتیاز، رسمی قانون، او یا هم دود په اساس.

## د سوشلیزم نړیوال نظر: طبقه

د سوشلست نړی یوه ارگانیکی ټولنه چې یوه او متحده دی او خپل ځان پاره ژوند لری مفهوم ورکوی. د ځانگړو او افرادو معاشرت او گډون چې د لیبرلیزم ملا تیر جوړوي د سوشلستو نظر برعکس لیدل کیږی. د سوشلستو دا نظر د ژوند په هکله توری Tory سره د ارگانیکی ټولنی په هکله شریک دی او د توری عنعنوی نظرئی پدی هکله اخستی. دیموکرتیک سوشلیزم د یووالی نظر چې د اصلاحی توریزم ReformToryism څخه ریشه اخلی د انسان غوښتنی عدالت عناصر چې د وروستنی حمایوی لیبرلیزم برخه دی سره یو ځای کړي. دیموکرتیک سوشلیزم هڅه کوي چې د انسان غوښتونکو او خیر خواهو اندیښنه د مادی رفاه او ټولنیزی تساوی خلکو ترمنځ د لیبرال نظر نه پخوا د متحدی ارگانیکی ټولنی په هکله په متناسبه توگه سره یو ځای کي. د یوه سوشلست نظر خاوند ته د ملي او خصوصي گټو ترمنځ طبیعی او یا حتمی تضاد اړیکی نه لیدل کیږی ځکه د افرادو گټی هغه وخت کی په ښه توگه خوندی کیږی چې د ټولنې غړیتوب ولري. د افرادو ځان غوښتنې اندیښنه د ټولنې عمومي گټو مقابل کی تابع کوي ځکه ټولنه د افرادو ډله ایزو اعمالو او هڅو کبله د ځانگړو افرادو حد اکثر گټو ښه وسیله شمیري. افراد ټولنی پاره او هم په ټولنه کی کار کوی ځکه ټولنه افرادو پاره خپل موجودیت ته ادامه ورکوي.

خو د ټولنیز یو والی په جوړښت کی اکثر سوشلستان د طبقاتی

موجودیت کبله حساس دی دوی دا لغت کله په غیر دقیق ډول استعمال کړی. داسی ښکاری چې د هرې طبقی په منځ کی ګتی درګ کیدلی شی خو د څو بیلو طبقو او ډلو ترمنځ نه جوړیدونکی او حتی خصمانه اختلافات او اړیکی موجودی دي. د دوی په نظر د دوو لویو طبقو یعنی شته مندو او بورژوازي طبقې Bourgeoises او زیار کښو Proletariate طبقی په منځ کی نه پخلا کیدونکی اختلاف دی. دا نظر چې د دی دواړو طبقو اتحاد دوه اړخیزه ګټی لری د سوشلستو لخوا رد شوی او هغه ئی د بورژوازی طبقی یوه تبلیغا تی وسیله ګڼلی چې پدی توګه غواړي خپل تسلط او کنترول ته ادامه ورکی. دا د مارکس ادعا ده چې هر څومره زیارکښ تولیدات زیاتوي په همغه اندازه بورژوازي Borgeoisise زیاته ګټه تر لاسه کوي نو د کارګر غربت او فقر په نسبی توګه زیاتیږي.

مارکس پدی هکله وائی: یقیناً چې زیارکښ او مزدور شته مندو پاره عجایب تولیدوي، خو ځان پاره فقر جوړوي، خاوندانو ته ماڼې ودانوي، خو ځانته جونګړې جوړوي، خپل کار په نتیجه کی ښکلا رابرسیره کوي، اما ځان پاره بد ډولی خلقوي، د کارګر هځی ماشین معرفی کوي، خو خپل ځان بیا بیرته پخوانیو شاقه کارو ته غورځوي، او بالاخره ذکاوت او پوهه تولیدوي، خو کارګرو پاره حماقت او نقص وړاندی کوي.

تر څو یوه ډله بله طبقه استثماروي د ټولنیز توافق او سموالی منځ ته راتلل ناممکن ښکاري. محافظه کار برعکس چې د طبقو شته والی یو عینی واقعیت بولی موجوده سیستم چې په هغه کی امتیازات او قدرت د

شتو خاوندانو ته منسوب شوی طبیعي او عادي او د منلو وړ گڼي. خو سوشلستو ته چې خپل پام او د عدالت غوښتنی هڅی تیتی طبقی په تیره ښاری کارگرو ته وقف کړی د موجوده طبقاتی سیستم ادامی قطع کیدو په لته کی دی. دی کبله دوی غواړی د طبقی پیاوړی لوړه شوی ودانی له بیخه ونړوي او پدې توگه ټولنیز اقتصادي اتکامحو او ټولنیز تحرک منځ ته راوړی، د سوشلستو په نظر تساوی د طبقو برابریو ته وایی چې بالاخره د بی طبقی ټولنی "Classless societyt" په څرگندیدو سره پای ته رسیږي. مستضعفه طبقه د طبقاتی سیستم قربانی دی او په بی طبقی ټولنې کی دا ډله خپل مقررات چې پخوا تری اخستل شوي وو بیرته حاصلوي او دشتو هغه حق چې دوی خلق کړی او تری سپمول شوی ؤ بیرته لاس ته راوړي.

سوشلستان خلکو ته د خدمت او کار کولو په مقابل د ټولنیزو بیلو انعاماتو او مکافاتو لاس ته راوړو په هکله اعتراض نلري. شوشلزم په نظر Doctrinاو یا عمل کی پدی هکله چې ځینی خلک چې کار کوی ممکن له ځینو نورو کارگرو زیاد عاید حاصل کی د ردولو وړ نه بولی. دوی له مارکس څخه دا لاربښوونه چې هر څوک خپل وس په اندازی کاروکی او هر چاته د خپلی اړتیا په نسبت ورکړل شی اخستی دی. خو دا چې کاملی تساوی حالت ته رسیدل ممکن نه ښکاری دا مفهوم نه ورکوي چې سړی باید د موجوده نا برابریو کمیدو پاره هڅه ونکي. هر ډول سوشلستان پدی ټکی کی سره موافق دی چې په یوی ټولنه کې پرته له افراطی نابرابریو منځه وړلو د وروړگلوی تصور امکانات نه ښکاری. د دوی عمده اعتراض دا دی

چې ارثي طبقي شته والی، پانګې اچونې او سرمایه ګذارۍ، او ټولنيز موقف امتيازات او مکافات بې له هڅو او زيار يوې طبقې ته اختصاص شوي چې دا بيعدالتي د کپتلستي او پانګه والو ټولنو يوه بې انصافه خصيصه دی.

## عام يا ملي شته Public ownership

یو سوشلست ته دا تيرې ښکاري چې يو تن د بل کار د زيات زيار حاصل څخه ګټه واخلی. د دوی اعتراض پدی هکله ندی چې پانګه لرونکي لدی شتو لذت وړي بلکه دا دی چې دا شته ئی څه ډول لاس ته راوړي. سوشليستان د کپتليزم بنيادي او مهم اصلونه ردوی او هغه عبارت دی د صنعتي ظرفيت قانوني او رسمي شته والی په خصوصي ملکيت کی او د زيار کښو سره د خرڅونکی امتعی په ډول سلوک کول دی. کپتليزم تل تر تله په حتمي توګه د کارګرو د زيار حاصل په ارزښت باندی سترګی پټوي.

دوی ته په ټولنه کی د ملي ملکيت بحث مؤثريت په خاصه توګه د فردي مالکيت په مقابل کی بې ربطه ښکاري ځکه د احصائيو په اساس سوشليستان پدی کاملاً ندی قانع شوي چې خصوصي کمپنی او پروژی تل مؤثري او په ګټه کی دی، او برعکس ملي پروژی او سکتورونه Sectors تل د نواقصو او بی کفايتي کبله په ضرر کی دی. دا هم درسته ښکاري چې ملي پروژی Enterprises نسبت خصوصي پروژو ته په نامؤثره توګه اداره کيږي او د بودجې يوه مهمه برخه بې مورده ضايع کيږي. په ځينو عامو او ملي

خدماتو برخه کی لکه د نقلیې وسایلو تهیه کونه، روغتیایي خدمات، ځینې علمي او تحقیقاتي څیړنې چې بالفعله او آني گټې پکې نه لیدل کیږي خصوصي کمپني هغو ته زړونه نه ښه کوي او علاقه نه ښیي چې پکې پانگه واچوي. خو د معاصرو دولتو څخه دا توقع کیږي چې پدې ډول عام المنفعه بې گټو پروژو جوړولو پاره گام اوچت کي او مثبت اقدامات لاس لاندې ونیسي.

په هر صورت د عامه او یا خصوصي ملکیت په هکله د مؤثریت او مادي منابعو اتلاف بحث گټور او کاملاً دقیق مطلب نه څرگندوي. ځکه چې سوشلیستان د عامه ملکیت دفاع د اقتصادي مؤثري اداري کبله نه کوي بلکه دوی پدې عقیده دي چې ځانگړې ملکیت اساساً نادرسته اصل دی. نو دوی له ټولنې څخه غواړي چې په چټکتیا سره دولتي ملکیت ته کم تر کمه په تولیدي، توزیعي، او تبادلي عمده وسایلو برخه کې پراختیا ورکي. دیموکرات سوشلیستان د عمده وسایلو په ملي کولو باندې ځکه تأکید کوي چې په ځینو نورو برخو کې خصوصي ملکیت ادامي ته معتقد دي. دوی د غربي دولتو کلونو تجربو په اساس گډ اقتصاد Mixed economy کولو ور او ټولې ټولنیزې هڅې او اقتصادي هلې ځلې غیر عملي او نامطلوبه نه بولي. په عمومي توگه دیموکرات سوشلیستان د صنعت ملي کونه یوه وسیله گڼي نه هدف. سره د دې چې ځینې سوشلیستان د دولتي ملکیت کلکه دفاع کوي اما سوشلیزم یوائې دی ته نه وایي. دا اقدام سوشلیزم پاره ضروري خو کافي ندی. دفابین سوشلیست Fabian

لیکوال هېو برت بلند Hubert Bland عمومي تولیدي او تبادلوی وسایلو کنترول چې د ټولنې ټول غړي په مساوي توګه تري استفاده وکړای شي ګټور بولي. خو بیا هم یوازې پدې اصرار نه کوي ځکه د نړیوالو دښمنو موانع او ستونځو ایجادول سوشلیستو پاره لوی خطر شمیري.

د شملې پیړی په آخرو کې شرایطو ته په کتنې سره ډیر دیموکرات سوشلیست دی ته معتقد شوي چې د زیاتو لویو صنایعو او تولیدي وسایلو ملي کول نا مطلوبه او نامرغوبه دی. هغه زیاته پخواني خوش بیني د منتخبو لویو صنعتي پروژو او کمپنیو ملي کیدو په هکله چې عامو خلکو ته به ګټور تمام شي نن ورځ سوشل دیموکراتو لخوا ورته په شک لیدل کیږي. د ټولو وسایلو او یا کم تر کمه د یوي مهمې برخې وسایلو ملي کونه برسیره پردې چې سیاسي حیثه بې شهرته او نامحبوبه ښکاره شوي د هغو اداره او بیوروکرسي Bureaucracy له هغه څه چې دوی اټکل کاوه اضافي او بې کفایته ثابته شوي تر هغه ځایه چې د زیار کښو اقتصادي او ټولنیز حالت پوري اړه درلوده، د دوی په ژوند کې هم د صنایعو ملي کولو مهم او د پاملرنې وړ بدلون راښکاره نه که. خو په عمومي ډول د شلمې پیړی په آخرو کې -نسبت ددې پیړی لمړیو وختو ته -د کارګرو شرایط په دواړو سکتورو (شخصي او ملي) کې ګټور بدلون حاصل که. د صنایعو ملي کولو سره د زیار کښو او اداري آمرانو په منځ کې د توافق او جوړتیا فضا څرنګه چې د سوشلستو لخوا اټکل او تصور کیده برسیره نشوه. د مثال په توګه په (۱۹۸۴-۱۹۸۵م کال) په انګلستان کې د ملي سکتور په یوی

برخه کې د کارکوونکو او مینجرانو منځ کې اړیکې خړې شوې. منیجرانو بیا هم کنترول په لاس کې درلود او د نورو غربي ملکو په شان ئې خپلو کارګرو سره په آمرانه او پوارخیزه توګه سلوک وکه.

ګرچې د تولیدي وسایلو ملي کولو اتکل او خوشبینی چې د منیجرانو او زیارکښو په منځ کې به تعاون راولي حاصل نشو، خو د ملي کولو ضد ادعا هم تر یوه حده خپل پخوانی شوق او وجدله لاسه ورکه. د وروستني نظر ځینو پلویانو دا ادعا کوله او دار ئې خپروه چې ملي کولو جریان به یو بشپړ اقتصادي او تولنیز مصیبت سبب وګرځي. د دې ادعا ملاتړکونکی په انګلستان کې تولو محافظه کارو حکومتونه تر مارګریت تاچر Margret Tather پورې پدې لته کې وو چې لوی صنایع او پروژې خصوصي پانګه والو ته وړیه غاړه کې. تاچر د اورګاډو، کانونو، او ځینو نورو عمده وسایلو او کار پورشنو خصوصي کولو باندې پیل وکه. ګرچې پخوانیو محافظه کارو حکومتو هم د صنعت په خصوصي کولو کې ونډه اخستې وه خو تاچر پدې هکله دومره ګامونه پرمخ واخیستل چې د اوبو خرځلا پروګرامونه ئې د ګتې کولو انګیزې په اساس خصوصي برخې ته سپارلو پاره طرح کړل.

خو د صنایعو خصوصي کول انګلستان ته محدود نشول. په ۱۹۸۰ او پدې لسیزې کې د نورو هیوادو محافظه کارو ګوندو په جدي ډول د تاچر اقتصادي پالیسي تعقیب کړه. تر دې حده چې حتی په فرانسې کې د شیراک دوه کلن صدارت دوره کې هغه ملي کمپنۍ چې مالي ماتې سره هم

مخامخ نه وي په پانګه والو خرڅې شوی. مثلاً د دوسالت کمپنی په شخصي پانګه والو باندي وپلورله.

محافظه کار حکومتونه په انګلستان کی کم تر کمه د میرمن تاچر وخت پوري سره ددی چي د معدنو ، رېل پټليو ، او نورو عمده وسايلو ملی او عامه کيدو په ضد وو ، خو بيا هم ددی نه پخواني محافظه کار حکومتونه مترددوو چي لويو ملی کار پورشنو Public corporations په ضد اقدام وکي او هغه خصوصي پانګه والو ته منتقل کي. ددی خبری اصلی مانع داؤ چي خصوصی پانګه وال او ځانګړی سکتور Sector د بيا پانګی اچونی په هکله پدی برخو کی بی میله وو. تراوسه ډير دقيق څرګندونی چي د خصوصی پانګو ګټورتيا پدی برخو کی ثابته کي او ټول مشکلات ئی حل کړی وي نه ليدل کيږی. څنګه چي پخوا ذکر شوه په ۱۹۸۰ لسيزی کی ښی اړخی حکومتونو په انګلستان، امريکی، کانادا ، نيوزيلند او په ۱۹۹۰ لسيزی کی حتی ځينو کيڼ اړخيزه حکومتو هم د دوی په تعقيب او تقليد تقريباً ورته اقتصادی پاليسو باندی پيل وکه. که څه هم ددی هيوادو په کلنيو ملی بودجو کی مثبت بدلونونه ځينی برخو کی ليدل شوي خو بيا هم په اوږدی مودی کی به د هغو پاليسو اثرات ددی ټولنو د اکثرو خلکو په اقتصادی ژوندی باندی په ښه وضاحت سره برسيره کي. او ضمناً به دا ښکاره شئ چي په راتلونکی کی به په غربی ديموکرسيو کی اکثر رأی ورکونکی به ددی پاليسو څخه تر کومه حده ملاتړ وکی خو يو ټکی نسبتاً

زیات جوت شوی چې د دی تولنو پانګه والو او کارګرو په منځ کی اقتصادی بی ساری تاریخی توپیر نور هم مخ په زیاتیدو دی.

عامه خیریه او هوساینی چاری او آزادی Welfare and liberty

د دیموکراتو سوشلیستو بیکاری بیمی یوائی، د سیاسی ملحوظاتو، او د هغو عواقبو، او یا هم دی پاره چې د دوی کورنی اود نورو بی کاره خلکو رأی ترلاسه کی نه تجویزوي بلکه د دوی په نظر په عادلانه تولنه کی باید دولتي خدمات خلکو ته وراندی شي او هیڅوک لدی امله چې په هیواد کی وزګار دی نو دی پاره بیکاره فرد هم باید رنځ متحمل شی بی مورده او نامعقوله ګڼي. سوشلیستان خپل دا نظر اخلاقی روحیه بولي چې په عمومی توګه یوه تولنه باید د تولو غړو نیکمرغی او هوساینه په نظر کی ونیسی. د انګریزانو د لاردانو یو غړی لارد بیوریج Lord Beveredge چت نه بلکه د فرش نظر "A floor not a ceiling" دا ؤ چې په هره متمدنه تولنه کی باید د ژوندانه معیشت حد اقل شرایط مهیا وي تر څو خلک د وقار، عزت نفس احساس وکی او هیڅ فرد پری نه بنودل شي چې ځینی له چت څخه فرش ته په حقیرانه توګه لاندی ولویږی بلکه توله -کم تر کمه اکثریت- په فرش باندی ژوند وکي.

نو د دیموکراتو سوشلستو له نظره دولت اقلاً له یوه حیثه د خلکو د آزادی دښمن نښی ګڼل کیدی، بلکه دوی د خپل هدف عملی کولو پاره په یوه تولنه کی د خلکو د واقعی آزادی مصؤنولو په فکر کی دي. یعنی د عام

المنفعه او عمومي هوساینی Welfare state پروګرام څخه د دولت هدف باید دا وي چې په ټولنه کې اکثریت د جهل، بیوزلی، او بې امنیتی فشار او استبداد څخه آزاد وی، پدی ډول دوی آزادی ته پراخ او نړیوال مفهوم ورکوي.

پدی هکله مشابه نظر د کار Edwand H. carr په واسطې وړاندی شوی او پدی برخه کی د دولت مثبته مداخله Positive intervention تجویز کړې دې. دی د میل Mill سره پدې هکله چې پدی عصر کی باید ټولو پاره آزادی د سیاسی عمل او د سیاسی هڅو هدف وګرځي موافق نه ښکاری. میل Mill پخپل نامتو فارمول کی آزادی ټولو پاره غوښتي. نو وائی چې آزادی له تساوي او برابري نه منځ ته راغلی. د کار په نظر د میل آزادی سیاسی او منوری طبقی ته محدوده شوی. هغه څوک چې آزادی ټولو پاره غواړی -څرنګه چې میل وایی- په حقیقت کی آزادی ځینو پاره غواړي.

کله چې میل د لویو تولیدی وسایلو کنترول او منابعو ځیره کونه، او رشن Ration، او مالیاتو غوښتنه کوی نو په حقیقت کی دا ضرورت احساسوي چې ټوله د احتیاج څخه آزاد وي او ځینی چې د آزادی له نعمت نه مستفید وي په طبیعی توګه دی تجویز سره دا احساس ورته پیدا کیږي چې دا نوی آزادې د دوی پخوانیو آزادیو ته پراختیا نه ورکوي بلکه برعکس د دوی آزادی کمه شوی نو د کار په نظر د آزادی پراخول ټولو خلکو ته باید ځینو ته د آزادی محدودولو په بیه تمام شي نو پدی ډول د زیاتی آزادی

اجرأت میسر کیږي.

## د فابین سوشلیزم له نظره تدریجي دیموکرسي

## Democratic grandualism

د فابین Fabian سوشلیزم نورو دیموکراتو سوشلیستو په شان نظر دا دی چې د ټولنې بدلون باید دیموکرتیکي او د خلکو په خوښه وي او پدې ډول د خلکو د منلو وړ وګرځي. یعنی تغیرات د عامه افکارو څخه ډیر مخکې ګامونه اوچت نه کي ځکه دوام لرونکی او مؤثر ټولنیز بدلون هغه صورت کی راتللی شي چې ټولنه د تغیر منلو پاره چمتو شوی وي. ددی اصل په اساس دیموکرات سوشلستان له انقلابی سوشلیستو څخه جلا کیږي. د فابین په اساس هغه بدلون چې د انقلاب په واسطی منځ ته راغلی وی بی اخلاقه ګڼل کیږی. هغه انقلاب چې د آزادی غوښتنی او آزادولو په نوم په هغو خلکو باندی چې بدلون ته چمتو نه وي او پر دوی باندی تحمیل کیږی په حقیقت کی د یوه مستبد پر ځای د بل مطلق العنان راتلو پر ته بل څه ندي. تغیر د خلکو وینو تویولو او ډله ایزو وژنی په واسطی منځ ته نشي راتلی بلکه دایو تدریجی جریان دی چې د خلکو روزنی او د دیموکرتیکو اورګانو په واسطی ټولنی ته وراندی کیږی. هغه نا آشنا او پر دې سوشیلزم چې په خلکو باندی په زور تحمیل او منل شوی وي د ادامی امکان ئی نه لیدل کیږي. افراطی تغیراتو عملی کونه په هغو ټولنو کی چې بد اخلاقی او فساد ګڼل کیږي نشي بریالی کیدلی. پورتنی نظر په افغانستان باندی د پخوانی شوروی اتحاد تحمیلی سوشلیزم ناکامیدل تر ډیره حده ددی

نظریی عواقبو اهمیت ونبوده.

دا ډیره آسانه ښکاری چې په یوه ټولنه کی تغیر راشي بی لدی چې انقلاب وشي او په نتیجه کی د هغی ټولنی رژیم نسکور شی نسبت دی ته چې یو نوی ثابت او دوام لرونکی انقلابی نظام چې د هغه په اصولو نوی ټولنه را برسیره کی منځ ته راشي. دا هم درسته معلومیږي چې تدریجي بدلونونه حتی که په ټیټه سطح کی هم وی ډیره هڅه او زیار غواړي چې محلي دولتونه هغه ټولنی ته معرفی او بیایی پری وپلوري. د غربي هیوادو په ولس والیو کی د ریل پټلی غزولو پاره خورا وخت مصرفیږي چې له کومه ځایه پیل شی، او څرنګه، او په کومو شرایطو، او په څومره بودجی جوړه شي. شاید د هری وړی سیمی خلک ترجیح ورکي چې دا پټلی دوی پاره ودانه شی چې د دوی ستونځی په ښه وجه د امکان حده پوری رفع شي. عمده او مهم تغیرات خو لا پریږده چې ډیره فکری انرژی، مادی وسایل، او زیات وخت مصرفیدل غواړي. ...دیموکرتیک سوشلیزم د موجوده سازمانو او قوانینو په چوکاټ کی د بدلونو منځ ته راوړلو پاره هڅې کوي. نو د غیر دیموکرتیک او جابرانه بدلونو مخالف دی ځکه د دوی په نظر په اوږده موده کی هغه بیرته ناکامیږي- د شوروی تجزیی ونبوده چې د کمونستو (سوشلستو) هیوادو په خلکو باندی جبری عملی کول له ۷۵ کلو وروسته خلکو ته د نسبی اختیار ورکولو سره ناکام اورد شو.

په دیموکرتیکو او [illegible]جي بدلونو باندی اصرار او ټینګار کونه یعنی تغیرات باید د [illegible]لکو پاره منلو وړ وي. اصلاحی سوشلیزم او

انقلابی سوشلیزم نه یوائې د وسایلو په هکله اختلاف پیدا کوي بلکه لدې ژور بحث ته داخلیږي. د دوی بحث د ښې ټولنې څرنګوالی او هدف او طبیعت په هکله پیل کیږي. انقلابی سوشلیستان د اصلاح غوښتونکو تدریجی نسخه د کارګرو پاره ګمراه کونکي بولي ځکه دا نسخه د زیار کښو اوږدې مودې ګټې د لنډې مودې منافعو پاره قربانوي. اصلاح غوښتونکي سوشلیستان په غیر شعوری توګه د پانګه والو امپریلیستو پرمخ وړلو وسیله شمیرل شوی چې پدې توګه تدریجی سوشلیستان د کپتلیستی نظام ژوندی ساتلو یعنی ادامی پاره زمینه جوړوي او په مقابل کی د زیار کښو په طبقی فشار کموی او په نتیجه کی کارګري انقلاب وروسته غورځوي. دوی کارګري طبقی ته په ځینو محدودو او سطحی امتیازاتو ورکولو سره- لکه د دوی اقتصادی سطحی نسبی معیار لوړول او یا بیکاری او تقاعدی بیمی ورکول- ددی سبب ګرځی چې د کارګرو کامل حق واخیستل شي. د مارکسیستو په نظر دیموکرات سوشلیستان د پانګه والو Capitalists متحدین او ملاتړونکی دي نو دی کبله د زیار کښو Proletariat دښمنان شمیرل کیږي. نو پدی ډول عامه او رفاهی خدمتونه ددی پر ځای چې سوشلیزم پرمخ یوسي په حقیقت کی کپتلیزم غښتلی کوي او د هغی ادامی ته خدمت کوي. نو دیموکرات سوشلیست ګوندونه تل باید دی موضوع سره مخامخ شي چې یا د دوی هدف کپتلیستیی ټولنې پراخیدل وي چې په هغی کی تولیدی محصولات په پراخه توګه ټولنې منځ کی شریک وي، او یا دا چې انقلابي سوشلیزم سختو او افراطی خط باندی پل کښیږدی او ټولنه له

سره جوړه کي.

د دیموکرات سوشلیزم دوهم عنصر چې باید تدریجي وي سبب شوی چې انقلابي او تدریجي فاصله نور هم زیاته کي. تدریجي سوشلیزم غواړي واړه اصلاحات ورو ورو او بې مقاومته معرفي کي. د سیدني ویب Sidney webb په نظر لوی بدلون باید د وړو او تدریجي اصلاحاتو یو ځای کیدو په نتیجه کې منځ ته راشي تر څو خلک وکړای شي چې هغه درک کي. که چیرې څوک دا غواړي چې د ټولنې بدلون د خلکو په خوی او عاداتو کې په مؤثره او دوام لرونکي توګه پاتې شي نو باید هر نوی بدلون د راتلونکي تغیر پاره زمینه، ذهنیتونه، منطق او توضیحات برابر کي. نو دا اقدام باید ورو او ګام په ګام پرمخ لاړ شي. ټولنې له هغه څه چې افراد ئې آماده نه وي زیات پرمخ نشي تللی او دې پرمختګ پاره باید قانع شوې وي. پداسي شرایطو کې د حکومت وظیفه دا دی چې خلکو ته لارښودنه وکي، ابتکار په لاس کې واخلي، پیشنهادونه وړاندې کي، خوله هغه څه چې عام خلک ئې نشي تحملولی مخکې لاړ نشي. یو دیموکرات سوشلیست حکومت باید خپل تشریحات، راپورونه ، یادداشتونه په دومداره توګه مخکې کړي او خپل پیشنهادونه رأی ورکونکو ته وړاندې کي. پدې ډول تدریجي اصول "Gradualism" مصلحتي "Tactical" بڼه نلري بلکه د بدلون اړیکو څخه نیولې تر اورګانیکي یو والي پورې اخلاقي پایه لري.

د تدریجي اصولو په بنا یو تن کولی شي توافق وکي، د خپلو سهوؤ څخه انتباه واخلي، د شرایطو غوښتنو سره ځیني تعدیلات راولي، او که

ضروري وی شاته گام واخلی. تدریجی بدلون نسبت خشونت او انقلابی تغیر ته زیات ثابت او دوام لرونکی دی. د ویب S. webb دکترین تدریجی اصلاحات تجویزوي بی له انقلابه او بی له هغه چې څوک ئی درک کړي. دده په نظر په ټولنه کې د بدلون منځ ته راوړلو آسانه لار دا دي چې د موجوده وضع ملاتړ کوونکي قانع کي چې دا ټول نوښتونه په حقیقت کی پرته د موجوده نظام له ادامې څخه بل څه ندي.

## تدریجی سوشلیزم د انسان طبیعت په هکله

د تدریجی سوشلیزم عمده ترکیب دا دی چې تمایل لري د رقابتی فردی اصل Competative individnalism په ځای تعاونی ټولنه Co-operative community معرفي کي. د فرانسې انقلاب پخوانی الهامی شعار - آزادی! برابری! وروروگلوی! - چیغه تراوسه ډیره وهل شوی دی. وروروگلوی چې د آزاد ملګریتوب او معاشرت او یا د انسان غوښتنی الهام په توګه پیشنهاد شوی په ښایسته او مناسبه ډول د سوشلیزم ساه پوری اړه لري.

دا عقیده چې د رقابت اود شتو ټولنو، Acquisitiveness اکتساب، او فطری طمع د انسان تغیر نه منونکی طبیعت او فطرت دی د سوشلیستو لخوا رد شوی. د لیبرلیزم دا ادعا چې ټول انسانان یواځې د ځان غوښتنی او خودخواهی غریزی په اساس تحریک شوي تر څو خپلی ګټې او ملحوظات پرمخ یوسي د طبقې تعصب حد نه زیات ساده کولو په نوم رد شوی. پدې

کی شک نشته چې ډیر خلک د ځان غوښتنې پاره د ګټې حاصلولو په لټه کی دي خو دا ادعا نه ثابتوي چې د ځینو خلکو کړو وړو ته په کتلو سره هغه د انسان ذاتي اعمالو او غریزو ته نسبت ورکي. په بل عبارت دا چې ډیر خلک اکثر وخت د خودخواهی په توګه هلې ځلې کوي دا نه ثابتوي چې ټول انسانان باید هرومرو ځان غوښتونکي وي. سوشلستان د انسان په پروګرام او تنظیم شوي طبیعت باندی عقیده نلري په تیره هغو خصوصیاتو باندی چې د انسان ځان غوښتنی هڅی Egoistic اکتسابی سلوک ته محدودوي، دوی یواځی د بیولوژیکي په محدود مفهوم انسانی تنظیم شوی طبیعت ته معتقد دي. ددی پر ځای چې د کپتلیزم اقتصادی او سیاسی نظر چې په تیره د انسان طبیعی خود خواهی په غریزو ځواب د پاره په مناسب ډول تنظیم او ترتیب شوي نو یواځی په هغه صورت کی باید تغیر ورکړل شي چې ټولنه خطر سره مخامخ وي، د سوشلیستو په نظر کپتلیستی سازمانونه او مؤسسی داسی طرح شوي چې رقابتی سلوک Competitive behaniour ته انعام او مکافات ورکول کیږي نو پدی توګه خلک تشویقیږي چې دا ډول سلوک ځانو ته غوره کي. که چیری داسی مقرره شوی وی چې بل ډول خوی او سلوک ته انعام مختص شوی وي، خلکو به بل ډول کړه وړه او خصلت زده کړی وی. د ټولنیز ساختمان Structure په بدلون سره به خلک همدومره د تعاونی او مرستې روحیی څخه راضي وی لکه نن ورځ دوی یوه بل سره له رقابت نه خوشحال دي او دوی به ټولنیز او سیکالوجیکی قناعت پدی هکله حاصل کړی وی. لکه نن ورځ دوی زده کړی په اساس معتقد شوي چې باید

له نورو څخه د رقابتي اجرأتو او وړنی په واسطې هر څه ترلاسه کي. په ښه نیت سره یو تن کولی شي چې د خالصي وروړگلوی احساس په ټولني کی ایجاد کي. لیبرالان فکر کوي چې ټولنیز مقررات د انساني طبیعت عکس العمل ښکارندوی دی، پداسی حال کی چې د سوشلیستو په نظر انسانی سلوک د ټولنیزو مقرراتو نتیجه دی.

په پای کی د سوشلیزم مهمو ټکو ته پدی برخه کی په لنډه کتنه کیږي:

سوشلیزم قانوني او مشروعی Institutonalized, legitimized procedure جریان ته معتقد دی؛ انقلاب د تدریجي تغیر پاره ردوي؛ اقتصادی تساوی ته عقیده لري؛ تعاون ته د رقابت په ځای ترجیح ورکوی؛ د شخصی ملکیت پر ځای، په تیره، عمده تولیدی، توزیعي، او تبادلي وسایلو ملکیت استقرار غواړي؛ او له هغه ځایه چې ټولنه اورگانیکی سازمان بولي نو دی پاره په مجموع کی ټولنه د خپلو غړو هوساینی مسؤله گنی.

## ۱۱-مارکسیزم Marxism

تاریخ د مارکس څخه پخوا په څو ډوله تفسیر شوی ؤ. ددین Religion تعبیر دا ؤ چې تاریخ د پروردگار مشیت دی او په کایناتو کی هم تاریخ د الهی نقشی Design یوه برخه شمیرل کیږي. ځینی غربی ټولن پوهو ته یوه ستونځه دادی چې هم د تاریخ تعبیر په هکله د الله (ج) اراده

نامعلومه او هم د تجربی جهت نامعلوم دی او د خدای (ج) نقشو په هکله انسانانو پاره مخالف او متضاد نظرونه موجود دي. یعنی هر سیاسي او فلسفي اړخ کولی شي هغه د خپلو گټو او ملحوظاتو پاره تفسیر او د مخالفو او متضادو مفکورو ردولو او تکولو پاره تعبیر کړي.

د مارکس څخه پخوا د انسانی تاریخ پوهیدو په هکله دوهم مسلط نظرسیاسی ؤ پدی معنی چې لوی امپراطوران، پادشاهان، قانون جوړونکي، اونظامیان د تاریخ په جوړولو کی قاطع او مؤثری قوی گڼل شوي دي. پدی نظریی کی د سیاسی کړو وړو په هکله له حده زیات تأکید شوی دی. نو دا غیر معمول ندی چې پدی نظریی کی د سیاسی مشرانو او سیاسی فیلسوفانو رول د انسانانو په اړیکو کی له ټولو مهم عنصر یاد شوی دی، ځکه د انسانانو د ستونځو حل او جوړولو پاره سیاست له ټولو مهم او لوړ درمان شمیرل شوی. خو په دقیقی کتنی سره داسی ښکاري چې د انسانی طبیعت، اړیکی، او ستونځې د سیاسي یوائینی نسخي له تجویز څخه ډیر مغلقی او کړکیچنی دي، او سیاست د ډیرې و حل لارو څخه یوه وسیله بلل کیدلی شي.

د تاریخ دریمه حل وسیله هم اتل توب "Heroism" چې د کارلایل Carlyle په واسطی شهرت پیدا که شمیرل شوی دی. او دا تفسیر سیاسی اړخ سره نږدی اړیکی لري چې ددی مفکوری په اساس اکثر اتلان او قهرمانانٌ د لویو امپراطورانو، پادشاهانو، جنرالانو، قانون لیکونکو، د نؤ دولتو تأسیس کونکی، د اصلاحاتو منډوهونکی Poineers او انقلابیونو

ځخه رامنځ ته شوي دي. د تاریخ نه د اتل والی تعبیر سبب شوی چې په یوی ټولنه کی د کلتور، دین، ټولنیز، او اقتصادی شرایطو په بیه د قهرمانې په رول باندی زیات تأکید او ټینګار شوی دی. دا چې لیډران د تاریخ پیښو ته شکل ورکوي ممکن هغومره صحت ولري څومره چې تاریخي پیښې د لیډرانو او مشرانو په کړو وړو او مقدراتو کی رول لوبوي.

د مارکس څخه پخوا د تاریخ څخه مفهوم اخستنه د ایډیا Idea تأثیر او نفوذ باندی اتکا درلوده. د هګل Hegel په نظر ایډیاوې (اندیشی او تصورات) د تاریخی جریان اصلی عوامل بلل کیږي. د ټولنی مادی شرایط (لکه: ټولنیز، اقتصادي، تکنالوجیکي، او نظامي) اصلاً د ایډیا څخه مشتق او هم د لویو ایډیاوٗ نتیجه دی. په ایډیاوٗ باندی تر زیاته حده تأکید پدی دلالت کوي چې د تاریخ تحول د اصلي او مهمو ایډیاوٗ (لکه آزادی او دیموکرسی) درکول دي. دا نظریه معتبر اړخ لري، خو په ایډیاوٗ باندی کامل ټینګار یعنی ایډیاوې د تاریخ اصلی تاوونکي قوی په ټوګه داسی ښیي چې ایډیاوې نه یواځې پیښې خلقوي بلکه هغه منعکسوي. دا چې ایډیاوی په منفرده توګه د انسانی اعمالو اصلی محرک ګڼل شوی د شرایطو قالب ته پاملرنه ندی شوی. شرایط د ځینو ایډیاوٗ معرفی کولو پاره زمینه میسروي او یا ئی له ځینو حذفوي، او کله هم ایډیاوی شرایطو څخه خپل پیاوړتیا او صلابت اخلي.

د تاریخ مطالعه کله هم په جګړی باندی متمرکز شوی. د پیښو اصابت پدیده The phenomenon of conflict د انسان ژوند د تحول په

هر پړاؤ کی موجوده دی د هیوادو زیږیدنه، لوړیدنه، او ټیټیدنه اکثر وخت په مستقیمه توګه جګړو سره اړیکی لري. پوځی تعبیر له تاریخ څخه دا نیمګړتیا برسیره کوي چې جګړې ئې د پیښو نتیجې پر ځای د هغو علتونه ذکر کړی دي. دا څرګنده دی چې جګړه زیاتره وخت د ملتو او تمدنو په ژوند کی بدلون او عطف ټکی دی. خو بیا هم د جګړې قاطع او چټک نتایج باید زمونږ توجه د دی موضوع څو بُعدی اړخ -سیکالوجیکی، ایدیالوجیکی، او مادی عوامل- څخه چې جګړې او مغلقی وضعی منځ ته راوړي یوی ورې خوا ته ونه ګرځوی.

د مارکس تحلیل د ټولنی تاریخ څخه په اقتصادی تعبیر کی نغښتی دی. تولیدی او خدمتی محصولات goods and services چې د انسان ژوند حمایه کوي د ټولو سازمانو او جریانو بنا او اساس ګڼل شوی. نوموړی دا ادعا نه کوي چې یواځی اقتصادی عامل تاریخ جوړوي، خو له ټولو ډیر مهم عامل اقتصاد یعنی زیر بنا او بنسټ Foundation دی چې په هغه باندی د کلتور، قانون، او حکومت ودانی Superstructure دریدلی ده او د سیاسی، ټولنیز، دیني، ادبي، او هنري موافقو ایدیالوجیو په واسطی حمایه کیږي.

مارکس د خلکو مادی ژوند شرایط او د دوی ایډیاؤ په هکله وائي چې: دا د انسانانو شعور Conscionsness ندی چې د دوی ژوند تعینوي، بلکه د دوی ټولنیز ژوند دی چې د دوی وجدان Consciousness ټاکي. د مثال په توګه د کوچیانو ډلو په منځ کی هغه څوک چې ډیر آسان لري د ډیرو

شتو او نورو وسایلو لاس ته راوړلو اصلي منبع شمیرل کیږي. نو د کوچیانو ژوند دا بنسټ Foundation د حکومت، قانون، او مسلطو ایډیاؤ سربنا او ودانی Superstructure پاره کلید (کیلی) حسابیږي. هغه څوک چې پداسي ټولنه کی د ډیرو آسانو خاوند وي په همدی ټولنه کی به هغه سیاسي مشر ګڼل کیږي چې ټولنی پاره قانون تعبیروي او پدی ترڅ کی دا مشر له بل هر هغه چا چې لږ یا هیڅ آسان نلري زیات درناوی او تعظیم حاصلوي.

د زیاتو آسانو خاوندانو مسلط موقف به د دوی په ټولنیز او کلتوری مفاهیمو او تصوراتو Concepts کی منعکس شي تر دی حده چې حتی په دین کی به هم د مسلطی اقتصادي طبقې ټولنیز موقف مشهود او ښکاره وي. خدای د یوه چتک او با قدرته سپور په توګه تصور کیږي او الهی عدالت او حکومت کونه به د انساني عدالت او یووالي مفهوم ته چې د آسانو خاوندانو قبیلی مشرانو په واسطی مشخیص شوی وی پراختیا ورکوي. همدا ډول په یوی متوطنی او ځای په ځای شوی کروند ګری ټولنه کی د زیاتی ځمکی ملکیت به سیاسي، قانوني، ټولنیز، او کلتوري سا ازمانو او مفاهیمو ته شواهد او کلید تهیه کوی. د مارکس په نظر په داسی ټولنه کی د ځمکو خاوندانو طبقه په ملت او ټولنه باندي حکومت کوي حتی که بل قانونی او رسمی مرجع هم موجودیت ولري. ضمناً د ځمکو خاوندانو طبقه ټولنی پاره مسلط ټولنیز معیارونه او ارزښتونه ټاکي.

د مارکس په نظر بالاخره په تیرو دوه سوه کلو کې په عصری صنعتی ټولنه کی عصري صنعتي تولیدی وسایلو او صنعتی تولیداتو ملکیت د

برتری کلید او عامل گڼل کیږي. پدی عصر کی پانگه وال نه یواځی د ټولنی اقتصادي مقدرات ټاکي، بلکه په ټولنه حکومت هم چلوی، او برسیره پدی ټولنی پاره معیارونه او اخلاقي ارزښتونه وضع او معرفي کوي. د قانون، روزنی، مطبوعاتو، هنري، او ادبي آثارو خلقونو څخه د دوی نهایي هدف دا دی چې داسی ایدیالوژي جوړه او د ټولنی په منځ کی وروزي چې په هغه کی د پانگی لرلو او شتو ملکیت مناسب، عادلانه، او مقدس ښکاره شي.

په شلمه (۲۰) پیړی کی د تاریخ په پیژندنه کی د مارکس اقتصادي تعبیر او تفسیر ډیر ژور اثر درلود. تر دی حده چې، سیاسی او پوځي شخړو او نړیوالو مسئلو ته د اقتصادي قواؤ پیوند ورکولو پرته تاریخ لیکنه ناممکنه ښکاري. د غربی زیاتو سیاسي او اقتصادي پوهانو په نظر مارکس اقتصادي قواؤ باندی له حد نه زیات ټینگار کوي. د مارکس نظریه انسان د ځمکی یو حیوان او ځناور ته چې د الهی لوړوالی پکی نشته را ټیټوي. د مارکس ځینی مخالفین برعکس انسان د آسمانی پریښتو څخه هم لوړوي چې ښه والی ئی الوهیت حده پوری پورته وړي. د نورو په عقیده انسان اکثره وخت کله چې اخلاقي لوړ غړونه او دینی جملی اوري نو خپله خود خواهي پټوي.

د دی پوهانو په نظر د مارکس اقتصادي تعبیر له تاریخ څخه تقریباً هغه کمزوری سره مخامخ شوی دی کوم چې نورو نظریو د تاریخ اصلی، عامل په یوی پدیدی کی گڼلی، یعنی له حده زیات تعمیمولو او یا ساده

کولو "Excessive generalization and simplification" څخه کار اخستی هر ځانګړی عامل (اتل توب، جګړه، دین، اقلیم، نژاد، جغرافیه، او (... نورو) لپاره دا کار له حده زیات لوی بار ښکاری چې په یواځې توګه ئی په اوږو نقل کړي. نو مشکل او تقریباً ناممکن ښکاري چې یوه عامل په ځانګړې توګه تاریخ تاکلی وي.

په هر صورت د څو عواملو یو ځای کوته چې د تاریخ په جوړلو کی په مختلفو درجو برخه اخستی سخته دی چې هغه په د قیقه توګه سره بیل شی او په یوه تن باندی ددی اجزاؤ ترکیبی عوامل په دقیقه مشخص شي، ځکه دا عوامل اکثراً متضاد او د منطق له حیثه بی ربطه ښکاري. حتی لدی هم ګرانه دا دی چې د مشخصو او مسلطو اجزاؤ ترکیب په یوه ګروپ کی سره بیل شی، همدا رنګه مشکله ښکاری چې لویو عمومی اعمالو او جریانوته تاریخی عمومیت ورکړل شي.

د مطلب روښانولو پاره د مارکس تعبیر د تاریخ څخه پدی عصر کی دا دی چې امپریلیزم imperialism د اقتصادی ګټو او رقابتو نتیجه دی او په کپتلستی مرحلی کی جګړې ددی هیوادو ترمنځ د ځانګړو امپریلستي رقابتونو او ګټو کبله ضروری ښکاري. څو پیړیو شاته په کتنی سره دا څرګندیږي چې د هغه وخت استعماری ځواکو لکه هالینډ، هسپانیه، پرتګال، برتانیې، او فرانسی رقابتو عمده علت اقتصادی عواملو کی پیدا کیږي او د مارکس نظر تر ډیره حده پدی هکله صدق کوی. خو د شلمی پیړی دوهمی نیمایی ته که کتنه وکړو کپتلستی «امپریلستی» هیوادو ترمنځ

اړیکې نسبت پخوانی وخت ته ډیري دوستانه ښکاري. برعکس که چیری د پخوانی شوروی اتحاد او چین چې دواړه کمونست هیوادونه شمیرل کیدل په نظر کی ونیسو ددی دو هیوادو خصمانه اړیکی بالاخره په ۱۹۶۹ کال سرحدی جګړې ته ورسیدی. سره ددی چې د کپتلستی هیوادو په منځ کی د ۱۹۶۰ کلیزو په شان اړیکی ګرمی ندي خو د اړیکو خرابیدو تیا نشانی زیاتی نشي پکی لیدلی. حتی دا ادعا هم کیدلی شی چې د شوروی له تجزیی وروسته د ناتو (NATO) تړون غړو شمیر -د پولنډ، چک جمهوریت، او هنګری په یو ځای کیدو -نور هم زیات شو او په راتلونکي کی د روسیی په ګډون د څو نورو هیوادو یو ځای کیدو توقع لیدل کیږي. باید وویل شی چې د ناتو اجندا یوازی پوځی موضوعاتو ته نه محدودیږی؛ د ناتو وده د غربی نړی نژادی او دینی تشخیص یعنی سپین نژاد او د عیسویت دین او کلتور مشترکی وجهی هم د دی هیوادو نږدی کیدو عاملو څخه ګڼل کیدلی شي.

یوائینی لار: انقلاب

مارکس د کمونیست په مانیفیست Manifesto کی وائي چې شدید او قاهر انقلاب Violent revolution د تولنیز بدلون یوائینی اساسی لار دی. کله چې تخنیکی پوهې "Techonological know-how" یعنی تولیدی قواوی "Force of production" غواړي د موجوده تولنیزو، سیاسي، قانونی سازمانو یعنی تولیدی اړیکو "Relations of produc-tion" بنسټ ونړوي، دی کبله د تولیدی وسایلو خاوندان آرامه نه کښیني چې تاریخ خپل عادی او بدلون نه منونکی مسیر ته ادامه ورکي نو دوی

تاریخ د خپلو گتو خوندي ساتلو پاره پرمخ بیایی. دده په نظر له هغه ځایه چې موجوده اقتصادی سیستم د حاکمی طبقی ایډیالوژی تمثیلوي، د تولیدی وسایلو خاوندان په ربښتیا او ټینگه عقیده مند دي چې د طبیعت قانون او د الله (ج) رضا په اساس موجوده نظام اقتصادی حیثه مؤثر ترین، ټولنیزو اړیکو جهته مساویانه ترینو، او فلسفی پلوه له هر بله نظام څخه متوافق او مطابق ترین سیستم دی.

مارکس عقیده لري چې د حاکمی طبقی مقاومت د ټولنیز بدلون په مقابل کی دومره غښتلی دی چې بالاخره د انقلاب منځ ته راوړل په مسلم واقعیت باندی بدلیږي ځکه دا طبقه خپل ارزښتونه د نړی ارزښتو سره یو او مطابق بولي. نو دا طبقه خپل ټول قانونی، سیاسي، او قضایی و دانی او سربنا Superstructure په تحرک اچوی تر څو هغی قوی چې په بالقوه توگه د پرمختللی اقتصادی سی[illegible]م نمایندگی کوی مخنیوی وکی. دی کبله د ټولو ټولنو موجوده تاریخ د طبقاتي مبارزی څخه جوړ شوی دی. نو داسی عمده تاریخی نمونه نه لیدل کیږي چې په هغه کی ټولنیز او اقتصادي سیستم بدلون په آزاده او د اوطلبانه توگه راتلونکو ته وسپارل شی.

مارکس کاملاً په و[illegible]ضحه توگه نه څرگندوي چې له کپتل[illegible]م څخه په کمو[illegible]یزم ته سیاسي انتقال په څه ډول صورت مومی خو په ۱۸۷۲ میلادي کال کی د امسټردام په غونډه کی اعتراف کوي چې د قدرت واگو ترلاسه کولو پاره کارگره طبقه کولی شي بیله لاره غوره کي. با ید د بیلو سازمانونو شتوالی، د خلکو عادات، او د هرن[illegible]یمی دودونو ته توجه وشي مثلاً په

ځینو هیوادو لکه امریکه، انګلستان، او هالیند کې کارکونکې ممکن وکړای شي صلحې نه دکو او غیر مسلحانه وسیلو سره خپل اهداف حاصل کې خو دا ډول فعالیتونه په ټولو هیوادو کې میسر ندي.

خو دا تشخیصونه په کامله توګه تعقیب شوي ندي. نو د مارکیسزم- کمونیزم ارتودوکسی او بنیادی نظر پدی هکله پاتی او ثابت دی چې په ټولنه کی د اقتصادي اساسي بدلون پرته او د طبقاتی جګړی، اخ ډب، او انقلاب څخه ناممکنه دی پدی هکله ثابت پاتی شوی وی.

د مارکس تأکید په طبقاتی جګړی او اخ ډب نه ډ ک انقلاب باندی د څو تیرو لسیزو را پدی خوا په کمونیستی او غیر کمونیستی هیوادو کی سبب شوی چې دی ایدیالوژی ته په پراخه توګه تاوان ورسوي. په کمونیستی هیوادو کی د ستالینستی دیکتاتوری تجاربو حساسو او انسان دوستو خلکو په تیره نوي نسل ته دا وښوده چې هغه دکترین چې نفرت پکی ځای شوی وي په آسانی کیدلی شي په نفرت او بربریت بدل شي او داسې واقعي ټولنه چې په هغې کی دښمني او خشونت دومداره وی انسان دوستی او صلح منځ ته نشي راتلی. څو پر مختللو کمونستو هیوادو کی پرمختګ د ډیرو زیاتو انساني او مالی تلفاتو په بیه ترلاسه شو. له بلی خوا دا تکی هم د پاملرنی وړ دی چې په بوې ټولنی کی د ځینیو وراستو او وروستبه پاتی کونکو دودونو په شته والی سره مهم ټولنیز بدلونونه چې د یوی ټولنی پرمختګ پاره ضروری ګڼل کیږي نشي عملی کیدلی. په تیره محافظه کاری ټولنې د خپلو زړو دودونو ساتلو پاره د هر تحول مغرفی کولو مقابل کی جدی مقاومت ښیی.

## ۱۲- فاشیزم Fascism

## د فاشیزم سابقه

کمونیزم چې د شلمې (۲۰) پیړی یو عمده کارگری دیکتاتوري انقلاب د غربی کپتلیزم په ضد یادیږي، فاشیزم هم دوهم عمده جریان بلل شوی دی. فاشیزم حکومتی دیکتاتوری، یو گوندی افراطی نشنلستی، نژادی تفوق، پوځی کونی، او امپریلیزم ته عقیده لري. په اروپا کی ایتالیه لمړی هیواد ؤ چې فاشیستی کړن لارئی په ۱۹۲۲ میلادي کې غوره کړه؛ جرمنی دا بهیر په ۱۹۳۳ کال کی تعقیب که. ځینو نورو هیوادو لکه هسپانیه، جاپان، او لاتینو هیوادو کی هم فاشیستی حکومتونو د قدرت واگی په لاس کی ونیوی.

په ښکاره او نمونه ئی توگه د کمونیزم ظهور وروسته پاتی او بی شتو هیوادو (لکه روسیه په اروپا، او چین په آسیا کی) سره نږدی اړیکی لري فاشیزم برعکس په مقایسوی ډول صنعتی حیثه په پرمختللو او شته مندو هیوادو کی (لکه اروپا کی جرمنی، آسیا کی جاپان) وده وکړه. په لاتینی امریکی کی گواتیمالا Guatemala چې له ډیرو بی شتو او وروسته پاتی هیوادو ځخه شمیرل کیږي کلونه ئی د کمونیزم پرمختگ تشویقوه تر ځو د جمهور رئیس آربنز President Arbenz کمونیزم ملاتړونکی رژیم د جون په ۱۹۵٤م کی د امریکی مداخلی او نظامی کودتا په واسطی نسکور شو. کیوبا هم بل مثال گڼل کیږي چې د بی شته والی او وروسته پاتی کیدو

کبله‌ئی کمونیزم ته مخ واړوه.

البته باید وویل شي چې یوائې وروسته پاتې کیدنه او اقتصادي کمزوري او بې وسې کمونیزم خپریدو پاره لاتینو هیوادو کې لاره تیاره نکړه، بلکه د امریکې یو اړخیزه او استثماري پالیسي ددې هیوادو په مقابل کې سبب شوي چې دا هیوادونه د نړۍ نورو بې شتو هیوادو په نسبت د کمونیزم راتګ پاره زیات چمتو والي ښکاره کې. د امریکې پرله پسې سیاسي، نظامي، اقتصادي، او کلتوري مداخلې پدې هیوادو کې دوی ته داسې ښکاره کړې چې کپتلیزم استثمار سره نږدې اړیکې لري او پدې هکله یې د مارکس په نظریې د صحت ګوته کیښوده. د امریکې پرله پسې لاس وهنې او تیرې په لاتیني امریکې کې تر دې حده دې چې د پانامې پخواني جمهور رئیس نورئیګا د یوه جنایي محبوس په توګه د امریکې په سیاسي محبس کې د ۱۵۰ کاله قید فتوا کبله شپې او ورځې سبا کوي. د امریکې دې عمل نه یوائې لاتیني امریکې هیوادونه نا آرامه کړل بلکه امریکې ته نږدې هیوادو لکه کاناډا هم دا عمل تقبیح که.

په هر صورت فاشیزم هغو هیوادو کې سرپورته کړې چې دیموکرسۍ سره ئې یو څه آشنایي درلوده. پداسې تولنو کې دیکتاتوري په پوځې، دفتري، او یا هم کله دیکتاتور د ځانګړې پرستیز Prestige، په اتکاء نفوذ، او اعتبار منځ ته راغلې. اما په فاشیزم کې عمومي ملاتړ او عموي اشتیاق عناصر لې لیدل کیږي. د فاشیزم ودې پاره بل ضروري شرط هم تر حده صنعتي پرمختګ بلل شوي. کم تر کمه دوه عمده تکي دي چې فاشیزم او یو

څه پرمختللی صنعت سره نږدی تماس نیسی. لومړی، فاشیزم د کنترول پاره د پروپاګندو تخنیکی سازمانو او پوهې ته ضرورت لری. دوهم، دایمی جګړی تیار سی، او تحرک پاره بې له کافی صنعتی مهارت او صنعتی منابعو درلودو بریالیتوب هیلی نشی تر سره کولی.

فاشیزم مرستی غوښتلو پاره دوه ډلو ته مخ اړوي. چې هغوی عبارت له صنایعو خاوندان او د ځمکو مالکان دي. دا دوی طبقی هم پدی هیلی فاشیزم سره مرسته کوي چې د کارګرو آزادې اتحادیی د حکومت په واسطی منع او له منځه یوسي. په هغو هیوادو لکه جاپان، جرمنی، او ایټالیی کی چې غربی دیموکرسی نسبتاً ضعیفه وه د (صنایعو) ځینو مالکانو او ځمکو خاوندانو د فاشیزم بهیر پرمختګ پاره کافي مرستی وړاندی کړی.

## فاشیزم په تیوری او عمل کی

سره ددی چې فاشیزم د کمونیزم په شان یو پاڅون دی چې په ډیرو هیوادو کی موجود دی، خو د کمونیزم په شان مشخصه با قدرته اصول او مرجع Autoratative نلري، او هم په ټ ی کی هیڅ هیواد د فاشیزم پالیسی په ډاګه پرمخ نه بیایی. که څه هم په فاشیزم کی کومه خاصه اعلامیه چې د ټولو فاشیستو منلو وړ وي نشته خو بنیادی ټکي به ئی په لنډه ذکر شي:

۱ – منطق او استدلال باندی اعتماد نه کول Distrust of reason دي پداسی حال کې چې غربی عنعنه چې له لرغونی یونان څخه اخستل شوی دی په استدلال باندی اتکا ء کونه د غربی کلتور یوه برخه ګرځیدلی دی. فاشیزم

برعکس انساني اړیکو کې د تعقل او استدلال پر ځای غیر تعقلي او احساساتی نه کنترولیدونکو عناصرو باندی اتکاء لري.

۲- د انسان اساسی تساوی ردونه The demial of basic human equality د فاشیستو جریانو او هیوادو ګډ مشخص کرکتر بلل کیږی. سره ددی چې غربی دیموکرسی د انسان د تساوی ایډیال او ارمان په عملی توګه سرته ندی رسولی، خو اقلاً په ظاهر کی دا هیله څرګندوي چې په لری اوږدی مودی کی هغه عملی شي، او د سیاسی آزادی په برخه کی د منلو وړ ګامونه اېښی دی. پدی مفهوم چې د رأی ورکولو حق بیوزلی طبقی ته هم ورپه برخه شوی دی.

۳- فاشیزم په عمومی ډول انسانی اړیکو کی او په تېره هیوادو ترمنځ تشدد او دروغ Violence and lies نه ردوی. فاشیزم سیاست د دوست - دښمن اړیکو په توګه تعریف کړی. سیاست پیل او پای لری. پدی توګه د دښمن کاملی نابودی، امکانات نه ردوي.

٤- یو فاشیست معتقد دی چې باید حکومت د نُخبه ګانو Elites په واسطی اداره او کنترول شی پدی ډول د غربی د دیموکرتیکی سهوی او غلطیو Democratic fallacy پیښبیدلو او سرته رسولو مخالف دی. یوازی د خلکو کوچنی ګروپ چې زیږیدونه، یا د ښوونی، او یا هم تولنیز حیثه ښایسته او مستحق وی کولی شی حکومت وکي ځکه دوی پوهیږی چې د تولنی په خیر او صلاح کوم پروګرامونه اجرا کولو وړ دي، نو هغو ته د عمل کالی ورواغوندي. د مشر تابه Leadership Principle نظر په فاشیزم کی په

افراطی توګه ښکاره کیږي چی د فاشیزم غیر تعقلی تأکید ښکارندوی دی. په فاشیزم کی لیډر او مشر له سهوی نه مبرا دی ځکه لیډر ته په مرموزه توګه بصیرت هدیه شوی.

٥- په انسانی اړیکو کی تو تالیتاریانیزم (د دولت اختیار په ملی شتو او د ژوند په ټولنیزو چارو کی) Totalitarianism د حکومت یواځینی سیستم په توګه نه بلکه د ژوند تګ لاری په ډول ګڼل شوی دی. دا اصل په تیره د لاتینی امریکی په مطلقه رژیمو کی توجه او پاملرنی وړ ګرځیدلی دی. ددی سیمی زیاتو مطلق العنانو رژیمو دا منله چې که چیری خلک سیاسی پلوه د دوی حکومتو ته سر خوږ نه پیدا کوی او د حکومت او دولت په چارو کی لاس نه وهی، د دی رژیم خلک کولی شی نسبتاً په آزاده توګه خپله زده کړه، مذهب، تجارت، او کرهنه په خپلی خوښی پرمخ یوسي.

٦- اړ ټرلیزم او نژادی توپیر racism and imperialism د فاشیست د نابرابری او تشدد inequ ality & violence -چی د فاشیزم دوه بنیادی اړخونه بلل شوي- عملی کول غواړي. د فاشیست دکترین په اساس د یوه ملت په منځ کی نُخبه په خلکو باندی لوړ او برتر دی او کولی شی چې په خلکو باندی حتی په زور خپله غوښتنه او اراده تحمیل کی. همدارنګه د ملتونو په منځ کی نُخبه ملت The elite nation نسبت نورو ټولو ملتو ته لوړ اوفوق دی نو کولی شی په نورو حکومت وکي. د جرمنی نژادی برتری نظریات جرمن نوردیک German Nordic تفوق او لوړوالی ته رسیږي چی په هغه کی حتی د ځینو وروسته پاتی ملتو نابودی هم ځای په ځای شوی وه.

د جاپان نژادي تفوق نظریه په عملي توګه ددی هیواد امپریلستی سیاست کی د دوهمی جګړی نه پخوا د یو ځای شته مند کیدو "Coprosperity" په نوم پرمخ تله چې د هغی په اساس ئی د لری ختیځ هیوادونه خپلی ګټی پاره تسخیرول. د نژادي نظریی تعلیم ته معتقدو جاپانیانو فکر کاوه چې د ایشیا او اطلس بحر په استشمار سره د دوی هیواد نور هم پرمخ ځي.

جالبه دا دی چې د ایتالیی فاشیزم (۱۹۲۲-۱۹۳۸م) د نژادي نظریو مبالغو څخه آزاد ؤ: په ابتدا کی ایتالوی تبلیغات د لرغونی روم امپراطوری ایډیا ژوندی او احیاء کولو باندی معطوف کړې وه خو په (۱۹۳۸) کی موسولیني Mussolini دا په ډاګه کړه چې ایتالویان د خالص ږلوړ نژاد څخه دي او ده د هیټلر Hitler سره اړیکی نږدی کړې.

د نژادي تفوق نظر یوازی فاشیزم ته نه محدودیږي. دا نظریه یو شمیر توجه وړ هیوادو کی په عملي ډول -نه یوازې په نظریاتی توګه- لیدل کیږی. په آسترلیاکی تر ۱۹۶۰ لسیزی آخرو پوری ددی هیواد بومي او اصلي اوسیدونکی د رأی ورکولو حق څخه محروم شوی وو. بالاخره نړیوال انتقادو ددی هیواد سپین پوټکی واکمنان دی ته مجبور کړل چې د نړیوالو سیاسی انتقادونو څخه خلاصولو پاره دی خلکو ته د رأی حق ورکي؛ د پخوانی شوروی اتحاد کمونیست رژیم چې په ظاهر کی د نژادي تبعیض سره زیات مخالفت ښوده خو په عملي توګه په نورو جمهوریتونو باندی د مسکو واکمنان د روسی کلتور تسلط په پالیسی باندی بوخت وو؛ حتی

کاناډا ته تر ۱۹۷۰ لسیزو پورې په لمړي ګام کې سپین پټکي انګلو-ساکسون نژادي خلک او یهودیان مهاجرت پاره په پراخه توګه منل کیدل. دې اولویت اقتصادي اړخ ته هم لار ورکړې. یعنې هغه څوک چې په معینه اندازه شته ولري کاناډا او امریکې ویزې اخستلو ستونځو سره نه مخامخ کیږي البته یو څه محدود شمیر خلک سیاسي ملحوظاتو پاره پدې هیوادو کې منل کیږي.

د دریمې نړۍ په ځینې هیوادو کې هم نژادي تبعیض لړ او ډیر په جوته توګه لیدل کیږي. مثلاً ترکان د نړۍ په هر ګوډ کې باید د خپل تُرک څخه که په نادرسته د غیر تُرک په مقابل کې ادعا لرې هم دفاع وکړي. د ترکانو امپراطورې په آخرو کې د ضعف یو علت هم همدا ؤ چې ځینو بانفوده اقلیتونو لکه یهودیان، ارمنیان، یونانیان، او وروسته عرب ددوی (ترکانو) پالیسي څخه بیزاره شول. ایرانیان خپل لرغوني تاریخ په هکله دومره مبالغه کړې او پخپل تاریخي ویاړنې کې دومره ډوب شوې چې هڅه کوي د خپلو ګاونډیو هیوادو څخه ځانونه متمایز کې. نو د توپیر پیدا کولو پاره په ترکانو، عربو، او افغانانو تحقیرونکې تسمیې او نومونه ایښي دي.

په غربي دیموکرسیو کې عنعنوي تبعیض او نژادي تفوق مسئله متداوله وه. د مثال په توګه نژادي تبعیض د امریکې دیموکرسي ایډیال ته جدي ستونځه پیدا کړې وه. سویډني سیاسي پوه میر ډال Gunnar Myrdal دا مسئله د امریکې ستونځې "The American dilemma" په نوم یادوي.

یعنی د نژاد مسئله په نهایي توګه د امریکي دیموکرسي مقدرات ټاکي . تر (۱۹۵۰) نونس سوه پنځوسو لسیزو پورې د امریکې ځینو سپین پوټکو اوسیدونکو په ډاګه د سپین نژاد تفوق څخه ملاتړ کاوه او د ورکتون نه نیولې تر دفتره پورې د سپین او تور نژاد بیلتون غوښتنه ئې کوله.

۷- فاشیزم نړیوال قانون او نظم ته -چې زیاتره غربي انګلو- ساکسن ریښې لري- جدي اعتنا نلري او ددې کار پر ځای جګړې، خشونت، د تساوي نشتوالي، دنُخبه توب اصل، نژادي توپیر، او امپریلیزم ته عقیده لري. البته پرته له فاشیزم نوره ځینې ایدیالوژۍ هم جګړه تل نه ردوي او د خپلو ځانګړو هیوادو پاره حتی کله مصلحت بولي او هغه باندې تر ښه واقعیت نوم ږدي، خو فاشیزم په ډاګه پدې هکله خپل نظر څرګندوي. موسولیني Mussolini وائي چې: یوائې جګړه په هیجاني او تشخص حالت کې د انسان ټوله انرژۍ راباسي او په هغو خلکو باندې د اشرافیت او نجابت مهر وهي چې پداسې حالاتو کې له خپل ځان نه جرأت او شهامت ښکاره کي. فاشیزم له یوې خوا نړیوال معیارونه او قوانین د ضعیفو نژادو او نسلونو په ګټه بولي، له بلې خوا هم هغه د نورو امپریلیستي لویو قدرتو لکه انګریزانو، امریکایانو فرانسویانو، او روسانو په ګټه شمیري.

نو د ایټالیې او جرمنې فاشیستو رژیمو د ملتونو ټرون او اتحاد "The League of Nations" بې ثمره او بې ګټې وباله. په نتیجه کې په ۱۹۳۳ م کې جرمني او په ۱۹۳۷ م کې ایټالیې خپل غړیتوبونه له هغه سازمان څخه واخیستل. ایټالیې پدې پلمې لدې سازمان سره مقاطعه وکړه

كله چې دى هيواد حبشه ونيوه د دى سازمان ځواكمندو هيوادو د ايتاليى په تيرى انتقاد وكه او ايتالى هم د دوى په ځواب كى دا سازمان پريښود. د ايتاليى، جرمنى، او جاپان دليل هم يو داؤ چې نورو قدرتونو لكه انگلستان، فرانسه، روسيه، امريكه... هم و اړه او كمزورى هيوادونه او ملتونه په مستقيمه يا غير مستقيمه توگه خپل توان حده پورى كنترول او استشمار لاندى راوستى دي او دا -"امپريلستى"- هيوادونه د فاشيستى هيوادو سره په استشمارى لوبه كى مخكى او په گټه كى دى نو، ځكه امپريلستى هيوادونه فاشيستى ملكونه په تبليغاتى ډگر كى ردوي.

مثلاً امريكى متحده ايالاتو خپل هيواد د بډيا په زور او په جگړى سره ننى جغرافياي او اقتصادى پراختيا ته ورسوه. تقريباً پوه نيمه پيړى پخوا دى هيواد په مكسيكو يرغل وكه او د مكسيكو ځينو ايالتونو په نيولو سره ئى خپل هيواد ساحه په يوى مياشتى كى تقريباً دوه چنده پراخه كړه؛ فرانسى هم د لاتينى امريكى براعظم څخه نيولى تر افريقى، آسيا، او الكاهل بحر پورى په استشمارى پاليسى تعقيب سره خپله امپراطوري وغزوله؛ انگريزانو د خپلو نورو سپينو اروپايى رقيبانو په شان خپله امپراطورى ته دومره پراختيا وركړه چې دوى به په وياړ سره ويل چې د انگلستان په امپراطورى كى لمر نه لويږى. دا جمله وروسته د ځينو روسيى پلويانو له خوا په نورو هيوادو حتى افغانستان كى هم په وياړ سره استعماليده.

په هر صورت د دوهمى جگړي وروسته په جرمنى او نورو هيوادو كى

د فاشیزم نه دفاع کولو په نوم کوم گوند ته اجازه نه ورکول کیده. خو په جرمنی کی نوی نازی ډلی Neo- Nazi groups د ملی دیموکرتیک گوند National Democratic Party (NDP) په نوم په ۱۹٦٤ م کی له سره یو ځای شول. برسیره پدی چې کمونیزم په ضد دی ډلی سخت او شدید موقف نیولی اود نړیوال قانون په هکله هم بی علاقی او حتی مخالف دی ځکه هغه د امپریلیزم ځانگړی پالیسیو او گټو مولود گڼي او هم د غربی لویو قدرتو سیاست د خپل نژاد په ضرر وینی. دا ډله (NDP) د جرمنی ویستل له ټولو لویو سازمانو لکه اروپایی مارکیټ او ملگرو ملتو څخه غواړي.

زیـــاتره افـــراطی ښی اړخیزه اروپایی گوندونه چې د دوهمی نړیوالی جگړی وروسته د متحدینو بریالیتوب څخه وروسته ویجاړ شوی وو، په شپیمتی ( ۱۹٦۰ ) او ( ۱۹۷۰ ) اویایمی لسیزی کی بیرته سرونه راپورته کړل، خـــو بیا هم دی گـــوندو پخوا پـــه شـــان مسلط قـــدرت حاصل نه که پرته له هسپانیی چې دوهمی جگړی کی بیطرفـــی اخـــتیار کړه. هغه فاشیستی گوند چې نسبتاً زیات نفوذ درلود په ایتالیی کی د Movimento Sociale Italiano Destra Nazionale (MSI-ND) په نوم یادیده چې د دوی گوند غړیتوب څو سوه زره تنو ته رسیده او په انتخاباتو کی ٤،٥ ٪ څخه تر ۸،٥ ٪ پوری رأی گټلی.

په ( ۱۹۸۰ ) نونسوه ایتاومی لســیزو کـــی دی گـــوندونو په څو غربی اروپایی هیوادو کی وده وکړه. په فرانسی کی دا گوند د ملی جبهه Front National (FN)، په ایتالیی کی د MSI، جرمنی کی Republikaner

او Deutsch volksunion ، انګلستان کی لې نفود سره د انګلستان ملی ګوند British National Party ، بلجیم کی څو سیمه ایزو بانفوذه ګروپونه Flemish Block او ایتالیی کی Italian Leagues په نوم یادیږي.

## ۱۳- امپریلیزم Imperialism

امپریلیزم تیرو ذکر شوُ سیستمو سره څه توپیر لري. څکه نن ورځ هیڅ هیواد دي ته غاړه نه ږدی او یا هم هیڅ دول علاقه نه ښکاره کوي چې د خپل هیواد پالیسی او یا سیستم د امپریلیزم په بنا اطلاق کي. برعکس دا لغت زیاتره د مخالفینو لخوا یوه بل په ضد اکثراً په درسته توګه استعمالیږی. د مثال په توګه سوشلستی بلاک د امریکی په مشری غربی اروپایی هیوادو ته امپریلیستی هیوادونه -یا په ګډه او یا هم په ځانګړی توګه- خطاب کاوه. کله چې د مائو چین اړیکی د پخوانی شوروی اتحاد سره په (۱۹۵۰-۱۹۶۰) نونسوه شپیتمی لسیزی کی بحرانی او بالآخره په سرحدی جګړو سره پای ته ورسیدی د چین مائو شوروی اتحاد سوشل امپریلیزم Social imperialism په نوم یادوه. سره ددی چې هیڅ هیواد ددی نوم (امپریلیزم) منلو پاره چمتو ندی خو په نړی کی ددی سیستم اهمیت او رول او په نړی باندې د هغه اثراتو له کبله ئې د سیاسي پوهانو او متفکرینو پاملرنه ځانته ګرځولی دی.

د امپریلیزم پالیسی اوږد تاریخ لری. پخوا ددی کلمی مفهوم او استعمال، تحلیل، او تعریف روښانه او واضح ښکاریده. هری هغی

امپراطوری به چې په مستقیم ډول نظامی او سیاسي حیثه ځینی سیمی کنترولولی، امپریلیزم پالیسی ګڼل کیده. امپریم Imperium لاتین لغت ...دی چې رومیانو هغو ماتی خوړولو سیمو خلکو ته چې د دوی کنترول لاندی راغلی وو او د دوی امپراطوری برخه ګرځیدلی وه استعمالوه. انګریزی او فرانسوی ژبو هم پورتنی مفهوم (Empire) سره شریک که او هغه ئی سیاسي او پوځي لوړ او مافوق Supreme حکومت ته نسبت ورکاوه چې اکثرو مفتوحه او نیول شؤ سیمو مالیه او یا باج مرکزی حکومت ته وراندی کاوه. اروپایانو په تیره انګریزانو او فرانسویانو د خپل استعماری دوران په اعتلأ کی (۱۸۷۵-۱۹۲۵م) امپریلیزم د دوی هغی مبارزی ته نسبت ورکول کیده چې غوښتل ئی خپلو امپراطوریو سیمه او ساحه نوره هم پراخه او د هغو ساتنه وکي.

د سیاسی متفکرینو لخوا د امپریلیزم اصطلاح د سیاسی بهرنی پالیسی بیل مفهومونه رسوي. پخوا پوهانو دا مسئله یوه تاریخي پدیده ګڼله او زیاتره هغو ځواکو لپاره چه له مطلقه قدرت نه ئی خونداخیستی ؤ استعمالیده خوله ۱۸۷۰م وروسته امپریلیزم د کلونیلزم سره مساوی استعمالیده، په دی عصر کی دی کلمی پراختیاومونده، او د کلمی د اقتصادی نفوذ او کنترول د مارکیټونو تسلط د تهیه کولو او پانګی اچونی منفذونو لپاره هم په کار اجول کیږي. د بارات برون Barrott Brown په نظر امپریلیزم «د اقتصادي، سیاسي او نظامي اړیکو {وضع ده} چې اقتصادي پلوه پرمختللې سیمې دشته مندو سیمو لخوا تابع شوي دي.» د بیرډ

C.A.Beard په نظر امپریلیزم د حکومت او د ډیپلماسي ماشین دي چې لږي پر مختللې سیمې، تحت الحمایوي ځلیونه، او یا د نفوذ برخې لاس ته راوړي او یا په کامله توګه د نورو نژادونو او یا خلکو په واسطې اشغال شوي وي تر څو خپلې صنعتي، تجارتي او پانګې اچولو فرصتونه پرمخ یوسي. مارګنتا وائي: «دامپریلیزم د خپلو پولو څخه د یوه هیواد قدرت ته باندي پراختیا ورکونه» دي. چارلس هاجز C.Hodges امپریلیزم هغه طرح بولي چې یوملت خپل اقتصادي، سیاسي، او کلتوري قدرت په بل بهرني سیاسي، اقتصادي، او کلتوري قدرت باندې یا په بل هیواد او د پردیو (او غیر متجانس) خلکو په کورنیو چارو کې د خیل کړي. دا عملیه سبب کیږي چې په نورو خلکو باندې په ښکاره او یا په پټه، په متقیمه یا غیر مستقیمه توګه خیل اقتصادي ، سیاسي، او کلتوري چارې په پردیو خلکو تحمیل کړي. پرکنیز Parkins او پالمر Palmer امپریلیزم د دوه ملتونو په منځ کې د مسلط کولو او مسلط کیدو اړیکې چې بې له اخلاقي مسئولیتونو سرته رسیږي ګڼي.

وروسته له هغې چې مارکس کپیتلیزم تحلیل کړ د امپریلیزم مفهوم نور هم پراخه شو. ځکه پخوا هیوادو ترمنځ د اجباري اړیکو په هکله بحث کیده، خو د مارکس په تحلیل سره د اقتصادي اړیکو استعمار موضوع هم رابرسیره شوه. اقتصادي امپریلیزم یو قدم مخ ته ځي او دا اړیکې د تهدید او تسلیم په اساس ګوري.

د عصري امپریلیزم کلمې مفهوم انګلیسي ژورنالست او لیکوال

جان هابسن John A. Hobson (۱۹۵۸-۱۹٤۰م) ابداع که. نوموړی سوشلیست او صلح غوښتونکی "Pacifist" ؤ. د امپرېلېزم لغت فرانسویانو هم د نورو ملتو متمدن کېدو پاره استعمالوه، انګرېزانو هم چې د نړۍ زیاتی مستعمری په تسلط کی درلودی په ویاړ سره دا لغت د مستعمرو متمدن کولو پاره په کار اچوه. خو هابسن دی لغت سره بی علاقه ګی ونبوده. د هابسن په عقیده امپرېلېزم د کپتلیزم غلط او نادرسته maladjustment سیستم نه منځ ته راغلی ځکه د سمندر هغی (پوری) خوا (Over seas) ماړه او شتمند اقلیتونه چې په لویو او بی شتو اکثریتو د انګرېزانو په مرستی حکومتونه کول د منورو د کرکی سبب وګرځیده. حتی پخپله انګلستان کی هم کېنی اړخیزه متفکرین لکه هابسن د خپل حکومت پالیسی سره په داخل او د نورو ملکو مقابل کی غیر موافق حتی مخالف وو.

د هابسن Hobson په نظر د کپتلیزم منفی اړخ له کبله د سمندر په پوری خوا کی لوړ او شته مند اقلیت -له حده- زیات شته ذخیره کوي پداسی حال کې چې بیوزلې په ګیډه ژوندی او یا یواځی ژوندی "bone sub-sistence" د محصولاتو اخیستو توان ځځه چې نوی صنعت ئی وړاندی کوی محروم شوی دی. نو کپتلیزم تولنیز مشکل انتخاب سره اخته شوی دی ځکه له یوی خوا تولیدات له حده زیات "Overproduction" دی او له بلی خوا ئی مصرف کم دی "Underconsumption" . که چېری پانګه لرونکی خپلی اضافی پیسی په عام المنفعه او خیریه برخو کی توزیع کي نو په تولنی کی به جدی ساختمانی ستونځی پیدا نشی. برعکس پانګه وال

پدی لته کی دي چې خپلې اضافي پانګې په نورو هیوادو کی په هغه سکتورو او برخو کی په کار واچوی چې نوره هم اضافی شته لاس ته راوړي. په نتیجه کی امپریلیزم چې خپل صنعتی کنترول ته پراختیا ورکوي باید خارجي مارکیټونه ځانو ته پیدا کي تر څو هغه اضافی اموال چې دوی په خپل هیواد کی نشی خرڅولی په نورو هیوادو کي خرڅ کي او همداسی خپلی اضافی پانګی هم نورو هیوادو ته د ګټو لاس ته راوړلو پاره یوسی. هابسن د انګلستان امپریلستي پالیسي غیر عقلی ګڼله. هابسن پدی خبرۇ چې د نولسمی پیړی امپریلیزم پراختیا پاره اقتصادی عواملو پرته نوره فکتورونه -لکه سیاسي، نظامي، سیکالوجیکي، دیني، او انسان غوښتونکي- هم شامل وو. خو اصلی عامل ئی د پانګو برابرول او تولول شمیرلي دي.

## د لینین نظر امپریلیزم په هکله

د امپریلیزم ډیره مشهوره او مدرنه نظریه د لینین په واسطی څرګنده شوی؛ دی امپریلیزم د کپتلیزم پرمختللی او عالی مرحله بولی. نوموړی انحصاری کپتلیزم چې امپریلیزم سره مساوی ګنی له څلورو عاملو څخه مشتق بولی:

۱- تولیدی تمرکز چې په کارتل Cartel (تجارتی انجمن او سازمان چې بیمی او قیمتونه، تولیدات کنترولوی) او سندیکیت Syndicate (د شرکتو اتحادیه) او لوی تجارتی او مالی کمپنی کی یو ځای کیږي.

۲- خامو موادو پاره رقابتی هلی ځلی.

۳- بانکی الیګارشی (نفوذ لرونکی ډلو) پرمختګ او تقویه.

٤- د کلونیلیزم او مستعمرو زړی پالیسی پر ځای د سیمه ایزو اقتصادی ګټو پاره هځی تر څو ماړه او قدرت لرونکی هیوادونه وکړای شي ضعیف او کمزوري ملکونه نور هم وزبیخي.

کینې اړخیزه سیاسی پوهان او متفکرین پدی نظر دي چې د امریکی حکومت د امریکایی کار پورشنو -چې د نړی کارپورشنوعمده برخه جوړوي- ګټو ساتلو او پرمخ بیولو پاره خپله پالیسی عیاروي. او که چیری امریکی دولت د خپل هیواد کور پورشنو ګټی بل هیواد کی خطر او یا تهدید سره مخامخ ووینې نو د کورپورشنو مرستی ته وردانګي او په اصطلاح د «متخاصمه حکومت» په اصلاح کولو او د امکان نه درلودو په صورت کی د هغه هیواد رژیم رانسکورولو پاره نقشی طرح کوي. دوی پدی هکله د (١٩٧٠) نونسوه اویایمی لسیزی مؤفقه او بریالی توطئه چې نکسن او کسینجر د International telephon & telegraph (ITT) (لویه پانګه لرونکی کمپنی) سره په چیلی کی طرح کړه د هغه حکومت قانونی او انتخابی جمهور رئیس آلندی S. Allende د جنرال پینو چیت Pinochet په واسطی رانسکور او ووژه، ځکه چې نوموړی جمهور رئیس د امریکی «امپریلستی» پالیسی سره موافقه نه درلوده.

د یادولو وړ دی چې د امریکی په مشری د غربی ټولنی ټولو پالیسیو تعقیب او ادامه ممکن امپریلستی انګیزی ونلري. د هغو څخه د راګ فیلر خیرنی او پلټنی انستیتوت دی چې د شنه انقلاب "Green Revolution" منځ ته راوړلو سره د کرهنی په حاصلاتو کی مهم او د پاملرنی وړ بدلون په

نړۍ کی راؤست او په نتيجه کې ځينی وروسته پاتی هيوادونه لکه هند دغلی محصولاتو حيثه په ځان متکی کړل. نو پدی توګه ئی په وروسته پاتی (دريمی نړی) کی د ډيرو لوږو انسانانو ګيډی مړي کړې. البته وروستنی نتايجو ددی ګټور انقلاب منفی اړخونه هم رابرسيره کړل چی له هغو جملی څخه يو هم نباتاتو کمزوري ځينو نباتی امراضو مقابل کی دی؛ او بل هم د ځمکو تدريجی کمزوری دی؛ او اقتصادی حيثه هم د هر هيواد اقتصادی پاليسی پوری تړلی دی. خو په مجموع کی ددی انستيټوت هڅو مثبت نتايج مخ په زياتيدونکو انسانانو پاره زراعتی ستونځو حل کيدو نسبی اميد وريه برخه که.

## مارګنتا د امپريلستی نظريی ردولو په لټه کی

مارګنتا Hans J. Morgenthau چې د هابسن – لينين له نامتو منقدينو څخه شميرل کيږي د امپريليزم اصطلاح تنګ نظره او دا اصطلاح د ايديالوجيکی ملحوظاتو په اساس ولاړه بولي. مارګنتا مرکنتليست او رياليست Marcantalist & Realist –دا اصطلاح ځينو سياسی پوهانو لخوا په پسيميست pacimist يا بدبينه تعبير شوی– سياسی پوهانو او متفکرينو په ډله پسی تړلی دی. نوموړی پيشنهاد کوي چی د دوهمی نړيوالی جګړې وروسته د سياسی علومو مکتب زده کونکی نسل بايد معقول او واقعي او اخلاقاً بيطرفه تعريف پدی هکله ولتوي. يعنی امپريليزم د هغه هيواد پاليسی ته ووايي چې د دؤ جګړو وروسته د نړيوال

موجوده تولنیز انډول له منځه وړو په لته کی وی. او د دوُ لویو قدرتو یعنی امریکی متحدو ایالتو او پخوانی شوروی اتحاد د جګړی وروسته حالت معکوسی اړیکی منځ ته راوړي. یعنی باید د پخوانی شوروی اتحاد په ګټه او د امریکی په ضرر وضعی ته تغیر ورکول امپریلیزم وګڼی. نوموړی دا نظر ردوی چې که چیری د یوه هیواد قدرت او پیاوړتیا په نړیواله سطحه کی مخ په زیاتیدو وي نو حتماً امپریلستی اړخ لري او یا هرومرو په امپریلیستی پالیسی او اساس ولاړ دی. د ده په نظر د اشتباه نه ډک مطلب د امپریلیزم تعریفونه اقتصادی حیثه پدی کی دي چې دوی غواړی د تاریخ نړیوال قانون چې په څو محدودو تجربو او څو بی رابطه پیښو بنا وي جوړکي. د مثال په توګه د امپریلیزم تیوری د سرمایه داری نه مخکي امپریلستي دوری ته چې په لرغوني مصریانو، آسوریانو، رومیانو، او اعرابو تیری کړی بی توجه او غافل شوي دي.

مارګنتا د څو نورو پوهانو لکه فرانسوی سیاسی تولن پوه ریمونډ ارون Raymond Aron، اتریشی اقتصاد پوه جوزف شومپیتر J. A. schumpeter (۱۸۸۳-۱۹۵۰) د هارورد پوهنتون استاد، د امریکی دیلپماسی تاریخ پوه ویلیم لنګر W. L. Langer او امریکایی اقتصاد پوه جالوک واینر Viner .ر (۱۸۹۲-۱۹۷۰)، او همدا راز یو شمیر نورو غربی نامتو پوهانو نظر د هابسن - لینین امپریلیزم تیوری ردولو پاره ذکروي او پدی لته کی دي چې ددی فرضی اړخ په څو لاندینو مواردو کی عجیب او نامناسبه ثابت کی.

1- د مارکس، هابسن، او لینین پیروان یوی خاصی تاریخی دوری امپریلستی جنبش او تحریک او اثرات له څو بُعدی سیاسی -ټولنیزی پدیدی چې بیل اړخونه لری سره ګډوي. د امپریلیزم اقتصادی تیوری چې نړیوال سیاست بین المللی اقتصاد ته تابع بولي په حقیقت کی د دی قضیی تحریفول دی. هغه څوک چې د بین المللی سیاست په عصری تاریخ کی تخصص او مهارت لري پدی اعتراف کوي چې اکثره وخت سیاسی انګیزی نسبت اقتصادی انګیزو ته قوي دي.

2- شومپیتر Schumpeter پدی ټینګار کوي چې امپریلیزم یواځی اقتصادی ګټو ته نشی محدود یدلی. نوموړی پدی هکله د تاریخ زیات مثالونه او شواهد وړاندی کوی چې ځینی ټولنی پراختیا یواځی د توسعی غوښتنی، جګړه د جنګ غوښتولو، بریالیتوب د وړلو او ګټلو، او تسلط د حکومت کولو پاره لټوي. شومپیټر په نظر نشنلیزم چې په غیر شعوري او غیر ارادي توګه مهمی غریزی په ماضي کی ګوري، امپریلیزم هم خپل شته والی د نیکونو په ټولنیز کلتور کې ګوري. او امپریلیزم په ټولنیز کلچر کې زیاتره نیکونو ته شبیه کیدل او رجعت ورکول ښکاري. دا درسته بولی چې په یوی ټولنی کی واکمنه طبقه بلی ټولنې سره د جګړی تصمیم نیسي خو بورژاوزی طبقه د یوی ټولنې اصلي پالیسی نه ټاکی او جګړی په هکله تصمیم نه نیسي. هغه څوک چې په ټولنه کی تصمیم نیسي په حقیقت کی د اشرافو یو څه پاتی شوی طبقی دي چی تراوسه حکومتي، سیاسي، او دیپلماتیکي مهم پوستونه د کوي.

3-د جګړې شیطانی نظریه "Devil theory" دی چې د جګړې قربانیانو عامل سلاح جوړنکی بولی چې په جګړې جوړولو او سلاح خرڅولو سره پیسی او شته لاس ته راوړي. پدی نظریی کی د کپتیلیزم جګړه مار اړخ ندی ګڼل شوی، ځکه جګړه غیر عقلی او نا اټکل شوی حالت دی پداسی حال کی چې کپتیلیزم په عقلی نقشی، پلان، او تدبیر حالت کی د نړیوال آرام او ثابت محیط او چاپیریال کی وده کوي. د شومپیتر په نظر رقابتی تجارت په یوه کپیتلستی سیستم کی د انسان زیاته انرژی او قوت جذبوي، نو دی کبله انسان پاره ډیر لږ وخت پاتی کیږي چې جګړې په هکله فکر وکي خپله جګړه خولا پریږده.

4- د هابسن اقتصادی امپریلیزم بنیادی فرضیه غلطه دی. دا چې امپریلستی هیوادونه د بحر نه پوری خوا Overslas لکه جنوبی افریقی او چین کی پانګی اچوي او پدی باندی نړیوال اقتصادی نظریه بنا او جوړه کی نا ثابته ښکاری او څو مهمه موضوعات تری پاتې کیږي. ددی نظریی په اساس ډیر پرمختللی کپتلیستي هیوادونه باید ډیر پراختیا موندونکي او مستعمره غوښتونکي مرحلی کی وي. پداسی حال کی چې د اروپا مستعمرو لاس ته راوړلو اشتیاق په شملې پیړې کی نسبت له نونسمې (۱۹) او شپاړسمې (۱٦) پیړی ته کم شوی وو. د شومپیتر په نظر امریکه چې د نولسمی پیړی نیمیایی کی په چټکتیا سره پرمختګ کاوه باید خپل ضعیف ګاونډی هیوادونه لکه مکسیکو او کاناډا نیولی وی؛ حال دا چې دا کار ئی ونه که.

5- په اقتصادی اړخ کی د هابسن او لینین کم خرڅول او زیات ساتل Underconsumption - oversavings نظریه ځکه درسته ندی چې د اضافي پیسو صادرول د هیواد ودی پاره په مطلقه ډول ضروری ندی. د هابسن لینن د کارګرو ژوند مخ په خرابیدو نظریه تاریخي واقعیتو او پیښو برعکس ښودلی.

6- د لینین دا نظر چې امپریلیزم د جګړو مسبب او عامل دی هم بی اساسه ګڼی. له ۱۸۷۰ م راپدی خوا د عمده جګړو عوامل اقتصادي انګیزي ندی. د جنوبی افریقی بوور جګړه Boer War، د بولیویا Bolivia او پراګوی Paraguay منځ کی د چکو جګړه "Chaco war"اقتصادی علت درلوده، خو دفرانسی -جرمنی جګړه، امریکی- هسپانیی، روس- جاپان، ترکیی- ایتالیی، اعرابو- یهودو، نړیوالی دوې جګړو، کوریا، هند- پاکستان، او بنګله دیش- پاکستان جګړو اصلی عوامل اقتصادي نه شمیري.

## ۱٤- تفوق یا هیجیمونی Hegemony

دا اصطلاح غربی ښی او منځ اړخی سیاسی پوهانو او متفکرینو په منځ کی استعمالیږي او د امپریلیزم کلمی پر ځای تر یوه حده لدی لغت څخه کار اخلی. له ۱۹٤٥ - ۱۹٦۰ م پوری دوه اړخیزه قطبی شخړه د خپل وخت دوې لویو قدرتو یعنی پخوانی شوروی اتحاد (ننني روسیه) او امریکی متحدو ایالاتو ترمنځ روانه وه. ددی ډلی متفکرینو په نظر امریکه متفوقه او برتره یعنی Hegemon ځواک او پخوانی شوروی اتحاد اعلان ورکونکی

یا Challenger قدرت وٌ. خو د شوروی سقوط وښوده چې سره جګړه هیڅ وخت د دوٌ مساوي ملکو ترمنځ نه وه موجوده په حقیقت کې امریکه یوائینی نړیوال لوی قدرت وٌ.

خو د امریکې هیواد برتر Hegemon بلل دا مفهوم نلري چې امریکه د پخوانیو برترو قدرتو په تیره د انګلستان د ۱۹ پیړی امپراطوری وارث ندی بلکه امریکه له برتانیې هم ډیر برتر او مسلط هیواد ګڼل کیږي. نو دی کبله د امریکې نننی تفوق له نورو پخوانیو قدرتو څخه دا هیواد مشخصوي، ځکه امریکه یوائینی تاریخی هیواد دی چې د نورو ملکو په اقتصادي، نظامی، او دولتی، سیستم State-systems باندی استیلا پیدا کړه او دا جریان ۱۹۵۷-۱۹۶۷م پوری خپل اوج ته ورسیده. خو د شوروی تجزیې سره یو ځل بیا د امریکې د سلطې لمر نور په نړی کی لوړ ښکاری او له پخوا څخه په آسانتیا سره خپله اراده او غوښتنې په نورو هیوادو -په تیره دریمې نړی- باندی تحمیلوي.

کله چې د دوهمې جګړی وروسته نوره رقیب امپریلستی قدرتونه مخ په کمزوری شول، او امریکې د شوروی اتحاد په مقابل کې د مخ نیولو او ایسارولو "containment" پالیسی د یوه نړیوال لوی قدرت په توګه پیل کړه وئی غوښتل چې نړیوال نظم او قانون پخپله خوښه او ګټه جوړ او نړی ته معرفی کی او د هغه په اجرا کولو او عملی کولو نه یوائې د صلحی له لاری بلکه ګه ضرورت احساس وکی په نورو هیوادو باندی په زور تحمیل او قبول کی. نو لوی هیجمون Hegemon قدرت لکه امریکه باید نه یوائې نړیواله

پوځی پیاوړتیا ولري تر څو خپلې غوښتنې او نظریات د نړۍ په نورو هیوادو ومني بلکه نړیوال اقتصادي او کلتوري تفوق هم ولري چې د نړۍ نوره هیوادونه -د تشویق او ترغیب او یا تهدید له لارې- د امریکې منل شوې او متداولو ټولنیزو ارزښتو او اصولو، او اخلاقیاتو اقتصادي پالیسو، او سیاسي بهیرو ته غاړه کښیږدي، او که نه نظامي تهدیدو او یا اقلاً نړیوال اقتصادي تحریمو او کرکو سره به مخامخ کیږي. د امریکې ځینې نړیوال نظم پیشنهادول نورو هیوادو ته عبارت دي له: په نړیواله سطحه د غربي اولیبرالي دیموکرسۍ (بورژوازي دیموکرسۍ) په خط باندې د تولیدي، مصرفي، او ضعتي سازمانو جوړول، محدوده دولتي عام المنفعه پالیسي، انتخابي او رأی ورکولو دیموکرسي، او د حکومت اقتصادي پالیسي چې د خصوصي او ځانګړې پانګو ودې پاره عیار شوي وي. دا د هغو پالیسو نمونه دي چې امریکې کې د دوو پیړیو راپدې خوا جریان او دوام لري.

په ۱۹۹۱م کال کې په عراق باندې د امریکې او دهغې پلوي هیوادو یرغل د امریکې هیجمونې نړیوال سیستم باندې خپله اعاده و ښوده. پدې یرغل کې د امریکې متحده ایالاتو د ملګرو ملتو صلاحیت څخه ګام باندې کیښود او دلویو قدرتو لکه چین او پخواني شوروي اتحاد ته بې له کومې پاملرنې خپله پوځي پیاوړتیا وښوده او بې له کومې اعتنا انړیوالو اذهانو ته څه ډول چې امریکایانو غوښتل خپله اراده په نړیوالو اذهانو ومنله.

د سیاسي متفکرینو په نظر امریکې د دوولسیزو نسبي نزول څخه چې

د خپل هیواد هیجمونی موقف بیا تینگ که. په ۱۹۷۰ (اروپاومی لسیزی) کی دنورو هیوادو لخوا چیلنج حاصل که. جاپان او غربی اروپا د صنعتی او تکنالوجیکی قدرتونو په توگه او پخوانی شوروی اتحاد د پوځي حیثه امریکې سره ځانونه رقیبان گڼل. د دواړو لویو قدرتونو (شوروی اتحاد او امریکی) د اتومي او نورو پرمختللو او مخربو اسلحو محدودولو په برخه کې سره خبری پیل کړي. پدې توگه شوروی اتحاد د دوهم لوی نړیوال قدرت او رقیب په توگه د امریکی لخوا وپیژندل شو. په نړۍ کې پرته له امریکې څخه بل هیواد نشته چې دټولو امکاناتو یعنې د اقتصادی، پوځي، سیاسی، او کلتوري قدرت څخه تر ډی حده بهره مند وي او په دومره پراخه توگه وکړای شي خپلې سیاسي، اقتصادي، کلتوري هیلی او غوښتنې په نړۍ باندې تحمیل کړي.

د امریکی باندنیو چارو وزیر جمیز بیر نیس James F. Byrnes چې خپل وخت کی د امریکی باندی پالیسی لارښودنه په غاړه درلوده وویل چې: زموږ بین المللي اړیکي نورو هیواد سره په ناچاره توگه د امریکی په کار، استخدام په شتمنی او بیوزلی باندی اثرات لري. یعنی دا چې امریکی ته لازمی ښکاري چې په نورو هیوادو باندی خپل سیستم تحمیل او عملی کړي او د نورو هیوادو دروازی خپلو صادراتو ته پرانیزي. نو امریکی ددی مجبوریت احساس کاوه چې د انگریزانو نړیوال پولیس او څارنوال دنده په غاړه واخلي.

## ۱۵-کلونیلیزم Colonialism

مستعمرو پیداکونه او نیونه Colonialism تقریباً دری(۳) پیړي پخوا اروپایانو پیل کړه. دی اقدام بیلی انگیزی له مسیحی کیدو نیولی آشنایی نورو خلکو او کلتور سره، خپل مخ په زیاتیدو نفوس میشته کولو ته، تر ماجر اجویی پوری بلل شوي؛ خو مهم علت ئی د امکان حده پوری اقتصادی گټو حاصلول گڼل کیدلی شي.

د ځینو غربی پوهانو په عقیده د مستعمرو نیولو مفکورهٔ له یوه پردي او واړه اقلیت او ملیت څخه عبارت دی چې په بل لوی اکثریت ملت باندي د نژادي او کلتوري تفوق عملیه اجرا کوي. دا متفوق خلک په مسیلحی تمدن سره مزین شوي دي چې د اقتصادي پیاوړتیا او ژوند له چټک فعالیت څخه مستفید دي. پدې توگه د مستعمره چیانو تمدن په تابع تمدنونو باندې مسلط کیږي. د کینې اړخیزه پوهانو په نظر هم کلونیلزم هغه ناوړه او شیطانی سلوک دې چې دهر هیواد اقتصادي اتکا او یا پوځي مربه توب په څنگ کی لري. نو موړي پوهان داکړه وړه بومي خلکو له منځه تلو او حیواني استثمار سره مساوي گڼي.

آسیائي او افریقایي سیاسي پوهان هم د کلونیلیزم په تعریف کي دکینې اړخیزه سیاسي متفکرینو سره موافق ښکاري. داندونیز یا جمهور رئیس سوکارنو Sukarno د باندونگ په کنفرانس (۱۹۵۵م) کی کلونیلیزم د زړې پیژندل شوې پالیسی تر څنگ دهغه نوی څیره چې دیوه

اجنبي او پردي واړه ملت اقتصادي فکري او جسمي واقعي کنترول څخه عبارت وياله مجلس ته معرفي که.

د پنځلسمي پیړی په آخرو کی اروپایانو سمندری سفرونه پیل کړل، او د نورو وچو کشفولو سره -په شپاړسمه (۱۶) پیړی کی- دوی د دی سیمو خلکو او ځمکو تسخیرولو او فتح کولو نور هم دوی پدی لته کی کړل چې د اروپایانو ترمنځ د سیمو نیولو او اصلی خلکو باندی حکومت کولو پاره رقابت پراخه شي. له سویډن څخه نیولی تر هالند او بلجیم، پرتگال، هسپانیی، روسی، فرانسی، انگلستان، او بالاخره جرمنی او ایتالیی هم پدی رقابتو کی برخه واخیسته. امریکی متحده ایالات زیاتره د امریکی براعظم په وچه کی د مستقیمو او یا غیر مستقیمو ځمکو او سیمو په نیولو او یا اقلاً د خپل نفوذ په پراخولو کی.

لدی دوری وروسته د دریمی نړی اکثرو هیوادو راتلونکی مقدرات وتاکل شول. یعنی په حقیقت کی تر ډیره حده د اروپا پرمختگ چې د دریمی نړی په مستعمره کولو کی نغښتی او د اروپایانو ځانگړی او خپل منځی گتې او انگیزې سبب شوی چې خپلو منځو کی رقابتونه نور هم زیات کی او په هری، مادی برخه کی علم او صنعت نه د ځان قوی کیدو پاه مرسته واخلی تر څو له خپلو اروپایی رقیبانو څخه د مستعمرو په نیولو مسابقی کی مخکی شي. برعکس دریمی نړی هیوادونه په ارادی او شعوری توگه د غفلت او بی خبری خوب ته تشویق شول. مثلاً انگریزانو خپلو آسیایی مستعمرو کی تریاک کرل او محصولات ئی چین ته لیږل او وروسته له هغه

چې څینې چینایان پرې معتاد شول د تریاکو تبادله حتی طلاوۇ سره پیل شوه. انګریزانو لدې کار څخه دوې انګیزې درلودې: لمړی اقتصادی ګټه وه چې په داسې لاس ته راوړلو شتو سره د خپلې امپراطورې بنسټ نور هم پیاوړی کې، او دوهم علت ئې دا ؤ چې چینایان تنبل، وروسته پاتې، غافله، او جاهله وساتې تر څو پردوی باندې هم خپل تسلط ټینګ او هغه ته ادامه ورکي.

کلونیلزم هم په دوۇ مشخصو برخو ویشل شوی دی چې هر یو ئې د خاصې استعماری قدرت دورې او په هر براعظم پورې تړلی دی. د امریکې وچه شته منده او په آسانې سره فتح شوه؛ د آسیا مړه وچه خو ګرانه وه چې تسخیر او کنترول شي؛ د افریقې زیاته برخه بې شتو او د مستعمره چیانو په نظر د نیولو ارزښت ئې په سختې سره درلود (Napham, 1985,13) .

د مستعمرو نیونه په درې لویو وچو کې

د لاتینې امریکې او کارابیین Caribbean استعماری تاریخ ظالمانه ګڼل شوی دی څکه په هغه کې ډیر اصلی خلک او تولنې له منځه وړل شوی دی. د کارابین په ټاپوګانو کې د کروندو حاصلات د هغو مریو په واسطې سرته رسیدل کوم چې افریقې وچې نه په زور د غلامانو په توګه وړل شوی وو. د کارابیین هیوادو ټولنې ډیر ژر په دوۇ برخو وویشل شوې (Dual society/dual economy) چې په سر کې ئې اروپایی مهاجر او د ځمکو خاوندان وو. په دوهمې یا لاندې طبقې کې افریقې څخه راوړل شوي مریه او د کرهنې کارګر او د هغوی کورنې وې او همداسې د ژوندیو پاتې

شؤ اصلي خلکو گروپونه وو.

په اسیا کی وضعه لاتیني امریکی او کارابیین سره توپیر درلود. د انگریزانو شرق الهند English East Indian Company چې تقریباً په ۱٦۰۰م کی مدغم شوه، د اروپایانو علاقه لدی نیتی وروسته مخ په زیاتیدو شوه.

په اتلسمی (۱۸) او نولسمی (۱۹) پیړیو کی انگریزانو د هند سمندر په سیمو کی پرتگال او فرانسی ته له ماتی ورکولو وروسته. د هند لوی وچی په زیاتې برخی کنترول حاصل کړ سره ددی هم انگلستان پدی بریالی نشو چې ټوله هند نیمه وچه ونیسي. د انگلستان هلې ځلې چې انگریزی مهاجر پدی سیمه کی میشته کړی د دې خلکو مقاومت او مبارزی له کبله د انگلستان حکومت هڅو کوم ځای ونه نیو. خو انگریزانو د محلی نوابانو، راجه گانو او د ټولنو توروو مشرانو لکه ځمکو خاوندانو او ټکس ټولونکو قدرت تائید که او د دوی په پیژندلو سره ئی متقابلی اړیکی پیدا او ټینیگی او پدی دول ئی خپل قدرت ریښې پراخه کړی. ځینی آسیایي هیوادونه لکه افغانستان، ایران، جاپان، چین، او تایلند د انگلستان مستقیم کنترول کی نه وو، خو بیا هم پدی گروپ کی یوائینی هیواد چې د کاملی آزادی څخه نصیب درلود جاپان وو.

خو د افریقی تسخیر د اسیا او امریکی شکل او حالت سره توپیر درلود. افریقه د نه پیژندل شوی توری وچی "Dark Continent" په توگه د نولسمی پیړی (۱۹) تر آخرو پوری پاتې شوه. سره ددی چې د افریقې

ختیځو او لویدیځو ساحلی سیمو د نړی اقتصاد پاره څو پیړی مهم تجارتی پوستونه تهیه کړل، خو د افریقی ساحل نه لرې سیمو په هکله اروپایانو کافی معلومات نه درلود. وروسته له همدی ساحلی سیمو څخه ژ چې تقریباً لس (۱۰) میلیونه افریقایان د مریو په توګه تړل شوي په اجبار سره اروپایی مستعمره چیانو په واسطی امریکی وچې ته ولیږل شول. هغه غلامان به چې پدی اوږده او ستړی کوونکی سفر کی درمان کوونکی خو نسبتاً اوږدی ناروغتیا سره لاس په ګریوان شول د دوی لخوا به ژوندی سمندر ته شړل کیدل لدی کبله چې د درمان او دوړدی ورکولو ارزښت ئی دوی ته نه درلود ځکه کپتلیزم او استعمار ګری دا ایجابول چې اجناس او تولیدی وسایل -انسانی او غیر انسانی- دوی پاره ارزان تمام شي.

د همدې وچې بشري انرژي او توان او طبیعی خام مواد -د نورو وچو په شان- وو چې د اروپا او امریکی اقتصاد ئی پیاوړی که. د همدی دری وچو ملیتو اصلی اوسیدونکی یعنی افریقی تور پټکی، د امریکی اصلی اوسیدونکي (اندین)، او د آسیا اوسیدونکي وو چې د غربی تمدن پښستې په تینګولو او پراخولو کی د کارګرو او مریو په توګه یې رول لوبوه. د کروندی کارونه لکه د کنیو، زیتون، او نور تولیدات د تورپټکو او د ځمکو اصلی خاوندانو په واسطی سرته رسیدلی. ۱٦ ساعته ملیاری کار به چې ځینې کارګر تیینتی ته مجبور کړل د سپینو پوټکو ښکاری سپیو په واسطی نیول کیدل او وروسته تونی تونی کیدل تر څو نورو د هغلانو او کارګرو ته عبرت شي او له تیدول ګناه ارتکاب څخه ځانونه وساتي.

خو په مقابل کی اروپایانو خپل وخت په عملی څیړنو، تحقیقاتی پروژو، تجارتی ادارو، تخنیکی هلو ځلو کی تیروه. دوی د خپل تجارتی او اقتصادی سیستم، او علمی څیړنو نتایج لیدلی وو چې د همدې امتیازاتو په درلودو سره دوی د نړی په نورو خلکو حکومت کوی. دا انگیزې سبب شوی چې اروپایانو دشتو، علم، تخنیک، او صنعت لاس ته راوړلو پاره نوره تحریک او تحریص شي. یو مهم علت همدا ؤ چې اروپایان او امریکایان لمړی نړی په توگه د دنیا اقتصادی، علمی، سیاسی، نبض په لاس کی ونیسي او د نړی دری برخو نه زیات انسانان دوی پاره عادی او تیټ کارونه سرته ورسوي. دوی خپلو لابراتوارو، پروژو کی نوی کشفیات وکي او خپل قدرت نور هم پیاوړی کي؛ په مقابل کې د دریمی نړی خلک په کروندو، فابریکو، او کورو کی د خادمانو او مریو په توگه کار وکي. پدی ډول سره په نړی کی د کپتلیستی، امپریلستی، او کلو نیلیزم ناخواله کیسی -دریمی نړی ته- پیل شوي چې اثرات ئی شاید پیړی ونیسي. او ددی تاریخي کړی جوړولو طلسم چې څو پیړی پخوا چوکاټ بندی شوی په نړدی راتلونکی کی هغو ماتول د امکان څخه لری ښکاری او پدی ډول به د دریمی نړی زیاتره هیوادونه ددی خاورینی کُری دوهمی درجی اوسیدونکو په توگه ژوند کوي.

## ۱۶- نشنلیزم Nationalism

نشنلیزم د ملي او نړیوالو په اړیکو کی له پیاوړي انګیزی او محرک څخه شمیرل کیږي. نشنلیزم او ملي احساسات ځو پیړی مخکی په اروپا کی د دی سبب شول چې عصری دولتونه رامنځ ته شي. د فرانسی انقلاب او د ناپلیون قدرت اخیستنی د دی جریان په منځ ته راوستو او ودی کی مهمه برخه واخیسته. د لمړی په تیره دوهمی نړیوالې جګوی وروسته په دریمه نړی کی د نشنلیزم احساسات سبب شول چې دا هیوادونه له اروپایی استعمار او امپریلیزم څخه خپلو آزادیو غوښتنه وکي. د نړی د جدایی ریښو باندی پوهید نه دا ایجابوی چې پدی هکله څلورو مفهومو یعنی؛ لمړی دولت State، دوهم ملت Nation، دریم ملت -دولت Nation-state، او څلورم نشنلیزم Nationalism سره نسبی پیژندنه ولرو.

### لمړی دولت State

هیواد یو محسوس هویت ګڼل کیږی ځکه له خپل ځانه سیمه، خلک، سازمان، او داسی نور عینی او لیدلو وړ خصوصیات لري. چین، افغانستان، سعودی د هیوادو مثالونه دي. ټول ملکونه سره ددی چې سیمی، نفوس، او اقتصاد حیثه سره ډیر توپیر لري خو په عمومی ډول شپږو (٦) مواردو کی ګډی وجهی لري.

### ۱- خپلواکی Sovereinty

خپلواکي د دولت لمړنی او ډیر مهم خصوصیت دی یعنی له هری لوری صلاحیت لرونکی او باقدرته مرجع څخه آزاد دی. او آزادی دی ته هم وائي چې که یو هیواد وړکی او کمزوری هم وی خو بیا هم د نورو هیوادو په

شان مساوي قانوني حق لري.

الف- واکمني د خپلواکی مرکزی عنصر بلل کیږی. وروسته له هغه چې د روم مقدسه دینی امپراطوری او د پاپ دینی صلاحیت مخ په کمزوری شو په منځنی پیړیو کی ځینی توتی او سیمی د مستقلو او عالی صلاحیت لرونکو قوأو په توګه چې له ځانه ئی خپله سیمه او اتباع لرل بیل او د هیوادو او مستقلو هویتو په توګه څرګند شول.

باید وویل شي چې استقلال په مطلق ډول وجود نلري. ځینی وخت واړه هیوادونه د لویو ګاونډیو ملکو په واسطي دومره کنترول شوي چې د وړو هیوادو آزادی عملی حالت نلری بلکه یوازی قانونی نوم لري. البته د ځینو نورو وړو هیوادو استقلال د سیمو او یا نړی لویو پیاوړو دولتو په واسطی هم محدود شوي او یا کله خطر لاندی راغلي. لمړی مثال به د هند پالیسی نیپال په هکله، دوهم مثال به بیا هم د هند پالیسی یوه سیمه ایز قدرت په توګه، او دریم مثال کی امریکه د نړیوال لمړی پیاوړي او بانفوذه ملک په ډول ذکر کیدلی شي. سره ددی ځینی هیوادونه پخپلو کورنیو چارو کی د لویو او ګاونډیو هیوادو مداخلی غیر قانونی بولي. او خپلو هیوادو کی د خلکو مخ په زیاتیدو سیاسي مخالفتونه د خپلو دولتو په ضد باندنی لاس وهنې او نامشروع توطئی بولي چې ممکن اکثراً د دوی ادعاوی صائبی وی او یا کله هم تبلیغاتی خدمت پاره په کار اچول کیږي.

البته غربی پیاوړی ملکونه چې نسبت نورو نړیوالو هیوادو ته خپلو منځو کی یو څه نږدی سیاسی، تولنیز، کلتوري، او اقتصادي ارزښتونه

لري په زیاتو مواردو کی د دریمې نړۍ هیوادو مقابل کې ګډ دریغ نیسي. او د دریمې نړۍ زیاتره رژیمو صلاحیت لرونکې Authoratarian او دیکتاتوری Dictatorship چال چلند خپلو خلکو مقابل کی د بین المللی معیارو او موازینو، او بشری حقوقو خلاف او نه منونکي بولي. مثلاً د پیکینک (بیجینګ) په تیانمینن واټ کی د محصیلینو مخ په زیاتیدو مظاهری چې بالاخره عسکری مداخلې او د یو شمیر محصیلینو په مړکیدو پای ته ورسیدی د غربي هیوادو لخوا د امریکی په مشری وغندل شوی او د چین حکومت دا عمل ئی د بشر د حقوقو اصولو پښو لاندی کول و بلل. او غربی هیوادو د امریکی په مشری د اقتصادي تعذیراتو ګډ اقدام غوښتنه ددی عمل مقابل کی وکړه. خو له هغه ځایه چې چین غربی هیوادو او کمپنیو پاره د نړیوال تجارت یوه ښه منبع بلل کیږي دا تعذیرات ډیر وخته پوری پاتی نشول خو نوره هیوادو لکه لیبیا، ایران، او عراق اقتصادي ستنو ته ئی جدي او ژوره صدمه رسولی دی.

په هر صورت د خپلواکی مفهوم دا دی چې یو هیواد د نورو هیوادو په منځ کی د ملګرو ملتو په عمومي غونډه کی قانونی برابر حق لري. پدې معنی چې هر هیواد د یوی رأی حق ولري. د سان مرینو باندینو چارو وزیر San Marino چې د نړی وړو او ډیر لرغونی هیوادو څخه دی چې د ایتالیی په منځ کی ژوند کوی د ۱۹۹۲م کال کی د ملګرو ملتو په عمومي غونډه کی وویل: «دا چې د نړی مهمو هیوادو باندینو چارو وزیرانو سره په یوه میز باندی {ناست یم} په حقیقت کی زما هیواد خپلواکی، تائید ښیي».

### ب- سیمه Territory

د هیواد دوهم خصوصیت هم د سیمی او فزیکی پولو درلودل دي چې د ډیرو هیوادو سرحدونه (په رسمی توگه) پیژندل شوی دی. خو د سیمی موضوع لدی یو څه مغلقه ښکاري: د نړیوالو سرحدو او پولو په هکله بې شمیره مناقشی د ډیرو ملکونو ترمنځ موجودی دي؛ سرحدی سیمی په جدی او ناڅاپه توگه پراخیدلی او یا وړی کیدلی شي؛ تر هغه ځایه چې امکان لري حتی یو دولت بې د سیمی درلودو هم موجود گڼل کیږی. د مثال په توگه تر څو کالو مخکی پوری فلسطین ځمکه نلرله چې کنترول ئی کي خو د نړی زیاتو هیوادو لخوا د خپلواکه دولت په توگه په رسمیت پیژندل شوی ؤ، پداسی حال کی چې فلسطنیان د نړی په نورو هیوادو کی مهاجرو په توگه خپاره شوی وو. د فلسطین دولت تعبیر د هیوادو او خلکو نظر او احساسات پوری هم تړلی دی. ځینی هیوادونه لکه امریکه او پلویان ئی فلسطنیان بې هیواده خلک بلل، پداسی حال کی چې نورو هیوادو فلسطینیان له خپلو ځمکو او وطن څخه شړل شوي خلک گڼل.

### ت- نفوس Population

نفوس د دولت د شتوالی له مهمو ایجاباتو څخه شمیرل کیږی. دولتونه د نفوس له حیثه توپیر لری، یعنی له څو زرو څخه نیولی تر (۱۲۰۰) دوولس سوه ملیونو پوری (چین) رسیږی.

ج- سیاسي رسمیت پیژندنه Diplomatic Recongnition

سوال پیدا کیږي چې که چیری یو مملکت د نورو هیوادو لخوا په رسمي توگه ونه پیژندل شی، آیا نه پیژندل شوی ملک به ډیر وخته پوری خپل دولتی ژوند ته ادامه ورکي؟ او هغه ته د هیواد خطاب کولی شوو؟ ځواب به دا وي چې نه. یو هیله لرونکی هیواد رسمیت پیژندلو پاره په اوړدی مودی کی خپل ژوند ته اقتصادی روابطو نه درلودو کبله نورو ملکو سره ستونځو سره مخامخ کیږي. مثلاً د یوه هیواد اقتصادی رکود یو مهم علت هم نورو مملکتو سره د تجارت نشتوالی بلل کیدلی شي.

بیا هم بل سوال پیدا کیږي چې څومره ملکونه باید یو هیواد په رسمیت وپیژنی چې خپل دولتی هلی ځلی په بریالی توگه پرمخ یوسي؟ ځواب به دا وی چې دا وضع د پیژندونکو هیوادو قدرت پسی تړلی دی. کله چې په ۱۹٤۸م کال کی یهودو د اسرائیلو حکومت جوړ که د لویو قدرتو لخوا سم د لاسه په رسمیت وپیژندل شو. امریکی له هغه مودی څخه تر نن ورځی پورې خپل تغیر نه خوړونکی او نه ستړیدونکی ملاتړ د اسرائیلو دولت شاته ساتلی. سره د دی چې د نړی زیاتو هیوادو تر څو کاله مخکی پوری د یهودو دولت په رسمیت نه پیژنده خو دی دولت خپل سیاسی ژوند او هویت ته د امریکی په مرسته په بریالی توگه ادامه ورکړه. نو پدی توگه د رسمیت پیژندونکی هیواد یا هیوادو نړیوال موقف د بل مملکت په هویت او بقا کی موثر رول لوبوي.

خو د سیاسي رسمیت پیژندنه کله مسئله نوره هم پیچلې کوي. په ۱۹۹۱م کال کې د پخواني یوگو سلاویا تجزیه پیل شوه. د اروپا تولنې (EC) دوه ایالته کرووېشیا Croatia او سلووېنیا Slovenia د جنوري میاشت په ۱۹۹۲م کال کې په رسمیت وپیژندل. په اپریل میاشت کې اروپایي تولنې EC او څو نورو هیوادو بل اسلامي جدا شوی ایالت یعنې بازنیا Bosnia-Hergegovina په رسمیت وپیژانده. خو د عیسوی صربیانو او کرووشیا اقلیتونه چې خپلو پیاوړو دیني او نژادي پلویانو مرستو څخه نصیب درلود د څو میاشتو په موده کې له مسلمانانو څخه خپلې سیمې ونیوې او په تدریج سره ئې خبره دې حد ته ورسوله چې مسلمانانو ۷۰٪ خپله خاوره له لاسه ورکړه. ددې جګړو نتیجې د اروپایي تولنې رسمیت پیژندنې اعتبار ته هم یو څه صدمه ورسوله. د یوگوسلاویې بل ایالت مَسدَوینا -یا مقدونیه- Macedonia هم خپله آزادي اعلان کړې او ځینې هیوادو لخوا په رسمیت پیژندلی شوی خو یونان د اروپایي اتحاد غړی ددې ایالت استقلال او هم ددې ایالت اروپایي اتحاد غړیتوب سره مخالفت کوي ځکه یونان- ددې ایالت جنوبي گاونډی- لدې ویرېږي چې ددې لرغوني نوم ایښودو سره چې یو ایالت ئې په یونان کې دې ممکن په راتلونکې کې له یونان څخه بیل او له آزادي اعلان شوي مقدونیې سره یو ځای شي. د یونان باندینو چارو وزیر په ډاګه کړې چې «ددې واړه لمسونکې ته ورته جمهوریت» په رسمیت پیژندنه باید متوقف شي.

## د- کورنی سازمان Internal Organization

یو هیواد په عادی توګه باید سیاسی او اقتصادی ودانی ولري. اکثر هیوادونه ځان پاره دولتونه او حکومتونه لري، خو کله یو ملک په داسی شرایطو کی خپل موجودیت ته ادامه ورکوي چې پدی هیواد کی کورنۍ جګړی او ګډوډي او انار کي وي. پدي هکله یو ښه مثال سومالیه دی. سره ددی چې سومالیه څو کاله د بیلو پوځی ډلو کبله په ګډوډی حالت کی لاس او پښی وهلې خو قانونی حیثه خپل ژوند ته بیا هم ادامه ورکوله.

پداسی حالتو کی حتی امکان لری چې د حکومت رقیبان ادعاو کی چې دوی د هیواد اصلی استازي دي. کله جګړی او انقلابونه ددی سبب کیږی چې ځینی د هیواد نه باندی په تبعید کی دولتونه تأسیس کي او د علاقه لرونکو او مرسته کونکو هیواد لخوا په رسمیت وپیژندل شي. مثلاً طالبان د هیواد له دوْ برخو زیاته حصه د کابل په ګډون په لاس کی لری خو د ځینو مرسته کونکو هیوادو لکه روسیه، تاجیکستان، هند، او ایران لخوا د ربانی- مسعود نسکور شوی حکومت رسمیت پیژندو ته ادامه ورکوي. پدی توګه پورتنیو هیوادو د طالبانو سیاسی پیژندنې غوښتنی ته صدمه رسولی. البته د دوی پالیسو هم اکثر نور هیوادونه د طالبانو حکومت په رسیمت پیژندلو کی ځنډ مند کړی دي. کله چې نشنلستو په چین کی د کمونستو لخوا ماتی وخوړه دوی د امریکې په مرستی په تایوان کی خپل دولت اعلان که او هری ډلی ادعا کوله چې دوی د چین خلکو نمایندګی

کوي. له هغه ځایه چې د نړۍ مقتدر هیواد یعنی امریکی له نشنلیستو سره مرسته کوله د نړۍ ډیرو هیوادو د نشنلیستو بی حمایی حکومت په رسمیت وپیژانده حتی د ملگرو ملتو په سازمان کی د چین کرسی د تایوان ۱۰ ملیونی نفوس ته وسپارل شوه پداسی حال کی چې اته سوه ملیونو غړو ته توجه نه کیدله.

### ذ- کورنی وفاداری Internal Loyalty

د دولت آخرنی کرکتر هم کورنی وفاداری دي. پدی معنی چې خلک خپل دولت سره نږدیتوب په هکله مثبت نظر ولري او دوی خپل دولت ته دا واک ورکي چې حکومت په قانونی توگه اجرأت پرمخ یوسي. ځکه بی د خلکو رضایت او خوښی هیڅ ډول دولت نشی کولی خپل ژوند ته ادامه ورکي که نور نه وي دولت اقلاً د خلکو غیر فعال او بی تفاوتی ته هم ضرورت لري. پخوانی شوروی اتحاد The Soviet Union او یوگوسلاویا Yugoslavia د څو ملتو تجزیی ښکاره مثالونه دی ځکه دی ملتونود تجزیی احساسات او هیلی په زړو کی ساتلی پداسې حال کی چې ختیځ المان د لویدیځ المان دولت سره د یو ځای کیدنی ښه مثال وړاندی کوي. د شوروی اتحاد په انحلال سره د ختیځ جرمنی رژیم مشروعیت خلکو منځ کی په چټکتیا ضعیف او له منځه لاړ.

## دوهم- ملتونه Nations

ملت د دولت په نسبت لږه محسوسیدونکی پدیده دی. یو سیاسي

یوه جمیز کیلاس James Kellas (۲: ۱۹۹۱) د خلکو هغه گروپ ته ملت وائی چې د تاریخی، کلتوری، او ګډو اسلافو رشتی په واسطی سره پیوند خوړلی وي. لدی تعریف څخه داسی نتیجه اخستلی شو: الف- هغه ډلی چې ځانو ته یو ملت خطاب کوي باید ګډ دیموګرفیکی شباهتونه Similarities -چې عبارت له ژبی، نژاد، او یا هم دین څخه وي- سره ولری. خو امکان لري چې دا ورته والی په لږ علني او لږو محسوسو برخو لکه عمومی تاریخی تجربو، سیاسي، اقتصادي، او ټولنیزو منظمو عکس العملو او همکاریو او عمومی ارزښتونو کی سره شریک وي. دا وروستنی عوامل اکثراً غیر متجانس خلک لکه امریکه دیوه ملت په توګه سره یو ځای کوي. ځینی پدی عقیدی دي چې د پورتنیو عواملو ترڅنګ د امریکی ملت جوړیدنه د نړۍ ډوډۍ خوړلو لویه کمپنی مکدانالد Mcdonald، د CBS تلویزیون نړیواله لویه کمپني، Valley , Forge. د امریکی ایالتو ترمنځ تجارت، د سوپر بول "The Super Bowl" لوبه، همر کمپني Hamer، او دا ډول نورو کمپینو او عواملو محصول دی.

ب- دوهم مثال چې یو ملت جوړوي د ټولنی ګډو احساساتو درلودل دي. که چیری یوه ټولنه ټوله مشترک خصوصیات ولري خو د یوی ټولنې او یووالی احساس ونلري ملت نشی شمیرل کیدلی "It is not a nation unless it Feels like one" د مثال په توګه د افغانستان او پاکستان پښتنو د یوه ملت او یووالی احساس ندی روزلی، نو دی پاره د دوی د یو ځای کیدلو امکانات ډیر ګران ښکاري. پښتنو ترمنځ دومره لری توب لیدل کیږي

چې حتی دننه په افغانستان کی ځیني پښتانه قومونه -کله په نامعلومه او بی تاریخه اتکا او ځیني وخت په معلومه او تاریخي استناد- له نورو پښتنو ځانونه جلا او مشخص شمیري تر څو د پښتو او د افغانستان تاریخي ویاړ ځانو ته محدود او منحصر کړي. ځکه د پښتنو په تیره د ځینو منورینو په منځ کی د پښتنو ملیت احساس ضعیف دی او نسبت قومي عواطفو ته د ملت احساس دوهم ځای نیولی دی. مثلاً په دراني قوم پسی منسوب یو پښتون یا په تیره محمد زی ترجیح ورکوي محمد زی یاد شي نسبت دی ته چې د پښتون نسبت ورکړل شي؛ په دوهم گام کی دا فرضي وګړی ځان د دراني څانګي یو تن بولي؛ او بالاخره په دریم پړاؤ کی نوموړی د پښتنوالی احساس په هکله اندیښنه څرګندوي.

په هر صورت په اروپا کی یوه پیړی پخوا یو نامتو فرانسوی پوه رِنان (Renon, 1964:9) ملت «روح، (اویا) معنوی کیفیت» و باله. دده مطلب دا ؤ چې په یوه ډله یا ټولنه کی خلک باید شباهتونو کی سره ګډون ولري او هغه خلک چې شباهتونه خپلو منځو کی درکوي باید د یوی ګډې ټولنې احساس لور ته ورسیږي او هغه وروزي. او زموږ ډله "We-group" یوی پیاوړی ذهني احساس "Subjective" حالت دی خو بیا هم د سلو ک ټولنیزو پوهانو لخوا اندازه او تخمین کیدلی شي.

ج- د یوه ملت موجودیت پاره دریم ضروری عامل هم تر یوه حده پوری جذایی ته ډله ایزه تمایل ذکر شوی "Some desire to be separate" چې خپله محلی حکومت کول او یا اقلاً محدوده داخلی آزادی او

هویت درلودل دي. په متحده ایالاتو کی بیلی ډلی لکه ایټالوی امریکایان، افریقایی امریکایان، او مکسکیویی امریکایان چې په عمومی توګه تولهد ګډ کلتور درلودو احساس لری په پورتنی کته ګوری کی ځانونه تشخیصوی. پدی ډول دوی په نهایت کی سره جلا ندي بلکه هر یوه ډله ځانګړی قومی Ethnic او یا فرعی کلتور Subculture تشکیلوي. امریکی کی دا توپیر زیاتره دیموکرافیګی حالت لري، پداسی حال کی چې په ځینو ملکونو لکه قبرس، سیریلنکا، او افغانستان کی -ځینی نور هیوادونه هم دی خوا ته روان دي- دا احساس د ملی جلا والی سبب شوی دی. پدی هیوادو کی ملی اقلیتونه د اکثریتو قانونی او مشروع (Legitimate) حکومت کولو ته غاړه نه ږدی (Hall & Ikenberry, 1989).

## دریم - ملت- دولتونه Nation - states

ملت -دولت Nation-state د یوه هیواد دریم عنصر جوړوي. ملت-دولت Nation- state په تیوریکی توګه دی ته وایی چې په طبیعي ډول د یوه ملت هیله او غوښتنه دا وی چې خپل دولت خاوندوي او په مستقله توګه خپلو پولو کی حکومت وکی او ملت- دولت Nation-state په بیلو سمبولونو لکه بیرغ، ملی سرود، او ځناورو (لکه باز، زمری، اژدها) په واسطی ښودل شوی دی. دا د وطن دوستی او وفاداری لوړ هدف ګڼل شوی او اکثر خلک دا د سیاسی واک لوړ مقام بولی (Brass 1992).

په عملي ډول ملت- دولت Nation- State په دری موردو کی له ایډیالی مفهوم څخه عدول کوي. ځینی سیاسی پوهان ملی دولت -Nation al state تسمیی ته ترجیح ورکوي تر څو ښکاره کی چې دولت State له وطن دوستی Nationalism څخه چینه اخستی دی. د ملت- دولت Nation-state مفهوم لمړنی توافق نشتوالی دا دی چې اکثر هیوادونه خپلو پولو کی ډول ډول ملتونه لري. دوهم دا چې ځینی ملتونه د یوه هیواد له پولو باندی گاونډی هیوادو کی هم ژوند کوي او دا کار نړیوالی نا آرامی او کله شخړو سبب شوی. دریم دا چې دولتونه او ملتونه هرومرو په یوه وخت کی وده ندی کړی څنگه چې دوؤ سیاسی پوهانو (این لو Enlow او ریجایی Rejai) په اویاومی لسیزی کی دا وضع تشریح کړی. په اروپا کی په عمومی ډول لمړی ملتونه سره یو ځای شول او بیا یی دولتونه جوړ کړل. په آسیا او افریقا کی برعکس مستعمراتی Colonialism پالیسو په اساس لمړی د هیوادو سرحدونه ټاکل شوي نو ځکه زیاتره دا هیوادونه د قومی او نژادی اړوند او تمایل په اساس تشکیل نشول. نو قبیلوی، نژادی، او قومی توپیر د دی هیوادو خلکو په منځ کی د نږدی کونکی او سریښ په ډول وظیفه سرته ونشوه رسولی. ځکه دا جدایی سبب شوی چې رژیمونه بی دوامه او ملی بی ثباتی -نسبت غربی هیوادو ته- نړیوال کړکیچ او نا آرامی منځ ته راوړي. البته کله پیاوړو گاونډیو هیوادو، او یا سیمه ایزو قوي ملکو، او یا هم نړیوالو زور لرونکو لویو ځواکو خپل منځی رقابتونه او لاس وهنۍ خپلو گټو خوندی ساتلو پاره کمزورو ممالکو یووالی ته عملی چنلج پیدا کړی دی.

## ځلورم- هیواد مینه Natiomlism

ځلورم او آخرنی پدیده چې نړی ئی ویشلی دی وطن پالنه "Nationalism" دی. نشنلیزم هم له ایډیا Idea او هم سلوک Behavior څخه عبارت دی. یو سیاسی پوه کیلاس Kellas(۱۹۹۱م) په نظر نشنلیزم د یوی ایدیالوجی په توګه د افرادو څخه د ملت پاره فوق العاده او عالی وفاداری غوښتنه کوی. نو دی کبله د بل سیاسی پوه برچ Birch) (1989 په نظر نشنلیزم د ملت، دولت، او ملت -دولت مفهومونه سره نږدی کوی- نشنلیزم د عمل تجویز او غوښتنه کوی. بلوم Bloom (۱۹۹۵م) د هویت نظریه "Identification theory" وړاندی کوي او وايي چې خلک ځکه ملتونه جوړوی چې په هغه کی روحی امنیت نشتوالی د موږ ګروپ "We-group" په توګه حاصل کی. ددی ډلی (ملت) غړو یو ځای کیدنه سبب کیږی چې د خپلو ګټو خوندی ساتلو او پرمخ بیولو پاره یو ځای هځی وکی. دا ګډی ملی ګټی د یوه هیواد جوړول، پراخول، اود سیمی پیاوړی کولو سبب کیږی.

نشنلیزم جلا کونکی او یو ځای کونکی قوه بلل کیدی شي. ځکه د وړو او محدودو هویتونو -چی په غرب کی یو وخت موجود ؤ او په شرقی خصوصاً عنعنوی تولنو کی اوس هم لیدل کیږي- لکه قبیلوی، کلیوالی، قومي، فیوډالۍ وفاداری په ځای لوی سیاسی موجودیت منځ ته راوړی. پدی ډول په یوه ملی دولت کی اکثراً په وګړو باندی فشار راځي چې که د

هیواد ځینی ډلی حتی وفاداری ولري باید بیا هم خپل ملت پاره د وفاداری لوړه وکي. نژادی او قومی ډلی کله په شدت سره تکول کیږي. مثلاً په ترکیه کی کُردان او ایران کی عربو، کوردو، بلوڅو ته دنژادي اوقومي "Ethnic" حق غوښتنی مقابل کی شدید کله ظالمانه ځواب ورکول کیږي. د نشنلیزم احساس ته وده ورکول کله ددی باعث کیږي چې د یوه ملت خلک له نورو ملتونو څخه ځانونه بیل -حتی کله لوړ- وبولي. بیا هم زموږ گاونډی هیواد ایران ئی روښانه مثال دی د دوی زیاتی ادعاوی -تاریخی، کلتوری، اقتصادی- سبب کیږي چې خپلو -حتی ناروا- غوښتنو ته قانونی او شرعی بڼه ورکي. او پدی ډول د ایران یا بل هر هیواد ملت غوښتنی احساس او ملی گټو پرمخ بیونه سبب کیږي چې داسی هیواد لمړی له گاونډیو ملکو بیا لری هیوادو سره د دوه اړخیزه تفاهم په هکله ستونځو سره مخامخ او یا حتی لری پاتی شي.

## ۱۷- کیڼ، منځ، او ښی اړخ Left, Center and Right

سره ددی چې ایدیالوژی Ideology یو منظم او دقیق بیلونکی خط او سرحد نلري څو اکثره سیاسی ناظرین په لاندی تشخیص باندی توافق لري.

| Left کیڼ اړخ | | Center منځنی خوا | | Right ښی اړخ | |
|---|---|---|---|---|---|
| Communism | Social Democrary | Reform Liberalism | Classical Liberalism | Conservatism | Fascism |
| کمونیزم | سوشل دیموکرسی | اصلاح غوښتونکی لیبرلیزم | کلسیک لیبرلیزم | محافظه کاری | فاشیزم |

پورتنی رسم ته په کتلو سره څرگندیږي چې د خط په یوی خوا کې افراطی کیڼ اړخیزه ایدیالوژی او د ښی خوا په بل پای کی ښی اړخیز

افراطي ایدیالوژۍ ځای په ځای شوي. د لیکۍ په منځ کې منځنۍ ایدیالوژۍ ګوندونه ځای لري. د هر ګوند ایدیالوژۍ د نږدې ګوند سره ائتلاف کولو امکانات نسبت لرې ګوند ته اسان ښکاري خو دا مفهوم نه رسوي چې لرې ګوندو ایالوژۍ حکومت جوړولو پاره خپلو منځو کې سره ائتلاف نه کوي.

په ۱۷۸۹ م کې د فرانسې په ملي عمومي اسامبلۍ کې د ښي او کیڼ اړخ کلمو استعمال پیل او وروسته ددې کلمو ذکرونې متداولې شوې. هغه ډلې چې د پادشاه اصلي قدرت ساتلو ملاتړ کونکې وې د غونډو په وخت کې د اسامبلۍ مشر ښې خوا ته کیناستلې. برعکس هغو ډلو او خلکو چې غوښتل چې د پادشاه قدرت محدود شي د شورا مشر کینې خوا کرسی اشغالولې. افراطي ښې او افراطي کیڼ د دؤ خواؤ په آخرو چوکیو کې ځای نیؤ.

د دوې په منځ کې سیاسي اختلاف ډیر ژر اقتصادي او ټولنیزو مسایلو ته هم وغزیده. کیڼ اړخیزه اطلاق هغو ډلو ته پیل شو چې د ملکیت تساوي غوښتنه ئې د سیاسي اجرأتو له لارې کوله تر دې حده چې سوشلیستو د شخصي او ځانګړو مارکیټو پر ځای د ملي او عامه مارکیټو منځ ته راتلو پیشنهادونه کول چې دا پلان شوی سیستم باید سیاسي کنترول لاندې واشي.

نو سوشلیستان پدې لټه کې وو چې عامه آزادي "Popular sovereignty" له سیاسي ډګر څخه اقتصادي چاپیریال ته پراخه کي.

د کیڼ او ښی اړخ اصطلاحي مفهوم له همدی دوه گونی ابهام څخه منځ ته راځی. د عامیانه آزادی Popular sovereignty ملاتړ کونکی په نهایت کی او په ناچاره توگه سوشلیستی او تولنیز پلان غوښتنه کوی. د کیڼ اصطلاح هغه مطلب افاده کاوه چې له سیاسی لاری د ملکیت برابری غوښتنه کوله. لدی هم جدی دا دی چې سوشلیستان غواړی کپتلیزم او آزاد مارکیټ پر ځای پلان شوی مارکیټ مستقر کي. پدی ډول سوشلیستان پدی لټه کی دی چې عامه آزادی Popular sovereignty له سیاسی ډگر څخه اقتصادی صحنی ته پراخه کي.

د ښی -کیڼ اصطلاح کی ابهامات لدی دوه گوني تعبیر څخه راجگیږی. د عامه آزادی پلویان (چې یوازې سیاسی آزادی ته عقیده لري) د تولنیز او عامه پلان پیشنهاد سره موافق ندي. دوی شاید د زړه له کومی معتقد وي چې په اوږده موده کی کپیتلیزم او آزاد مارکیټ عادی کارگرو مالی وضع ته هم گټور وي.

پدی عصر کی ددی کلمو استعمال زیاتره او په عمده ډول اقتصادی جنبه تر لاسه کړی دی خو د سیاسی مفهوم په کار اچونه هم ددی شاته موجوده دی. نو ښه به وی چې د کیڼ او ښی اړخ ایدیالوژیو ته په کتنی سره د دوی تخمینې تعبیر او تساوی او نابرابریو ادعا مفهومونه د خط په ترسیم سره روښانه کړو.




کمونیست د اوږدې مودې شرایطو برابرۍ غوښتنه کوي پدې معنی چې رضایت او خوشحالي به د دوی نامتو شعار «له هر چا د خپل وس په اندازې او هر چا ته خپل ضرورت په اندازې» به پلې او عملي شي. سوشل دیموکرات او اصلاح غوښتونکي لیبرالان د شرایطو تساوی په استثنایي او جدي توګه نه غواړي بلکه د هغه پر ځای د مترقي او پرمختللي مالیي پیشنهاد کوي او نظر لري چې پدې ډول به د شرایطو تساوي تر ډیره حده احیا شي. د کلسیک لیبرلیزم تعهد حق او تساوي ته یو څه روښانه ښکاري پدې معنی چې هر څوک باید بې د دولت له مداخلې آزاد پرېښودل شي چې د ګټې او تجارت پاره خصوصي تشبث وکي. د محافظه کار Conservative موقف کې پدې هکله یو څه ابهام لیدل کیږي. د مثال په توګه محافظه کارو لکه بورک E. Burke میراثي اشرافیت Hereditary aristoracy ټولنیزه حیثه یو ګټور سازمان باله. د شلمې پیړۍ محافظه کاران د میراثي اصولو ملاتړ نه کوي اما شتمن ځیني ګټور ټولنیز کارونه لکه انسان دوستي،

دولتی خدمات (په تیره لوړ مقامات) او نور داسی ډول لکه چې ارتی اشرافیت پخوا په غاړه درلودل، نن ورځ شتمند خلک هم په غاړه نیولی شي. دا نظر د کلسیک لیبرلیزم سره سمون خوري.

فاشیـــزم د حاکمه مراتبو سلسلی ته بیولوژیکی او نژادی حیثه معتقد دی. دی کبله هتلر A. Hitler د جرمنی نژاد لوړ او واکمن نژاد "Master race" او یا "Herrenvolk" باله.

د حق او تساوی غوښتنی ارزښتو ادعا دېوی اوږدې پاره په مطلقه توگه کومی خاصی ایدیالوجی پوری نښی تړلی کیدلی، خو کیڼ اړخ په نظری توگه –نه تل په عملی ډول- ځانته دا ادعا انحصاروي چې دوی د عامو خلکو حقوقو اصلی مدافعین او پلویان دي. ښی اړخ ایدیالوجی هم په ځینو مواردو کی او هم ددی پیړی عامه سیاسی شعور بیداریدو په علت ځانونه د عامو خلکو غوښتنو خوا خوږي گڼي. په (۱۹) نولسمه پیړی کی د پروس صدراعظم بیسمارک چې ښی اړخی (محافظه کار) ؤ ځینی رفاهي عام پروگرامونه لکه مشرانو ته تقاعد ورکونه دده لخوا تجویز او وضع شوه که څه هم دده پدی اقدام کی سیاسی ملحوظات خوندی وو خو بیا هم دی لمړنی سیاستمدار ؤ چې پدی کار ئی لاس پوری که. سوشلستان او سوشل دیموکراتان لکه د انگلستان کارگر گوند Labour party د عامه خلکو په گټه ډیر عام المنفعه پروژی لکه تقاعد، بیکاری بیمی، صحی بیمي، او داسی نور اصلاحی پروگرامونه وړاندی او په عمل کی پلی کړل. همداسی په آلمان کی وروسته له لوی ائتلاف "Grand coalition" څخه کله چې سوشل

ديموکرات په مستقله توګه قدرت واګی تر لاسه کړی په مشابه پروګراموئی لاس پوری که. د کیڼ اړخي ګوندو دا ډول نور مثالونه په اروپایی هیوادو کی موجود دي.

پدی کته ګوری کی نشنلزم ځکه نشی راتللی چې نشنلزم کله لیبرلیزم یا محافظه کار، یا سوشلیزم سره د ملی مسایلو په رابرسیره کیدو او یا بل هیواد سره په جګړی وخت کی ائتلاف کړی دی. دا چې نشنلزم ملت- دولت Nation-state ته متعهد دی دا مفهوم نه رسوي چې په اتوماتیک ډول ئی د تساوی او برابری موضوعاتو ته خپل نظر په ضروري توګه وقف کړی. البته یو نشنلست دا ادعا کوي چې د دوی ګوند د اجندا په سر کی د ملی برابری او عدالت مسایل مطرح دي. خو په عمومی ډول ځینی نشنلستی رژیمونه له ځینو نورو مشابه رژیمو څخه د خپل هیواد د پولو ساتلو، د خپلو تاریخی سرحدو احیا، کلتوري او تاریخي ویاړ ساتل حفظول -ځیني مواردو کی وده ورکول- او یا باندنی تیری مقابل کي د ملت ساتنه او دفاع، ملی روحیی پیدا کول، او وحدت ساتنی ته له نورو موضوعاتو زیاته توجه کوی او د عمومي عدالت او ټولنیزی تساوی خبری دوهم ځای نیسي. داسي مثالونه هم لیدل کیږی چې ځینی کیڼ اړخی خلک له پیاوړی نشنلستی احساساتو سره مزین شوی. حتی د مائو په مشری د چین د انقلاب یوه انګیزه هم د باندینو هیوادو پرله پسی تیریو مقابل کی د ملی احساساتو را پ ل ګڼل شـ ی دی. نو هرکله چې یوه هیواد نه باندنی تیري خطر مرفوع شوی د کیـ ښی اړخو مسایل په هغه هیواد کی بیا،

رابرسیره شوی دی او په نتیجه کی ملی حکومتونه متلاشی شوی دي. لکه ایټالیی او فرانسی کی له نړیوالی دوهمی جګړی وروسته ائتلافی حکومتونه سره بیل شول.

پداسی حال کی چې ایدیالوجی څو بُعدی حالت لري، د ښی او کیڼ اړخ په یو بُعدی خط باندی له حده زیات ټینګار نشي کیدلی. یعنی دوی یواځی د تساوی او برابري نښتوالی مسئلی سره علاقه نلري بلکه یو شمیر نوره سیاسی ارزښتونو سره هم علاقه لري. د مثال پاره به د خط په ترسیم سره د ایدیالوجیو دولتی کنترول نقشه او پیشنهاد لاندی ترسیم شوی دی.

## دولتی کنترول State control

Maximum جداکثر — Minimum حداقل

| Communism | Fascism | Social Democracy | Reform Liberalism | Liberalism Classical | Conservatism | Anarchism |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کمونیزم | ناشیزم | سوشل دیموکرسی | اصلاحی لیبرلیزم | کلسیک لیبرلیزم | محافظه کاری | انارکیزم |

کمونیزم او فاشیزم د دولت او ټولنې یو ځای کِولو هویت په هکله مساعد نظر لري. سوشل دیموکرات او اصلاحی لیبرالان د حکومت تنظیمولو فعاله مداخله غواړي، خو دوی د خپل پیشنهادی دولت څخه غواړي چې د ټولنې ټول مسایل د دولت کنترول ته مطیع کي. کلسیک لیبرلیزم او محافظه کار علاقه لري چې دولت ته ځینو محدودو مواردو کی -لکه قانونې جوړونه چې د هغه په سیوری کی ټولنه پرمختګ وکي- وظیفه په غاړه ور وسپارل شی. انارشیستو دله عقیده لري چې یوه ټولنه د حکومت

په غیبت کې هم ژوند کولی شي.

د ښي –کیڼ اړخ پورتني خط هغومره ارزښت لري څومره چې عُرفي ښي- کیڼ اړخ تصنیف شوی دی، او دا خط د ایدیالوجیو بل اړخ څرګندوي. دا هم هغه وخته پورې ګټور بلل کیدلی شي چې د ایدیالوجیو حدود په نظر کې ونیول شي. ښي او کیڼ عُرفي ټاپې دي، دوی د ایدیالوجیو په جزئیاتو باندې د پوهیدلو ځای نه نیسي.

د څو تیرو سیستمو لکه هیجموني او تفوق، کلونیلزم او استعمار، او مپریلیزم او استشمار په هکله خطونه ندی رسم شوي ځکه هیڅ هیواد پدې عصر کې دی ته غاړه نه ږدي چې په ظاهر کې د مستعمرو نیولو او یا امپریلزم پالیسو پرمخ بولو کې- څنګه چې مخکې اشاره وشوه- تقریباً ټول ملکونه خپل رقیب او یا متخاصم هیوادونه د استعمار او امپریلیزم پالیسې پرمخ بیولو باندې متهموي. خو د هیجموني تسیمه د امریکایې سیاسي پوهانو لخوا هم خپل هیواد ته ورکړل شوی. نو په نړی کې امریکه یواځیني هیواد دی چې ددی نوم پاره مستعد او مستحق بلل شوی دی. داسې ښکاري چې د هیجموني اصطلاح هغه منفي مطلب نه افاده کوی ځکه غربي سیاسي پوهان ددی کلمې ردولو په لټه کې ندي. په هر صورت پورتني اصطلاحات د مشخصو ایدیالوجیو په توګه د خط په تر سیمولو سره توجه او څیړنې لاندې ندې راغلي.

★★★

| مؤلف | مأخذ |
| --- | --- |
| 1) Chand,s | International Relations (1994). |
| 2) Chander, Parkash & Prem Arora | International Relations since 1870 (1993). |
| 3) Dickerson ,O. & Theomas Flagana | An Introduction to Government & Politics (1991) |
| 4) Dahal, A. Robert | Modern Political Analysis (1984). |
| 5) Dougherty, James E. & Robert L. PPFttz graff,Jr. | Contending Theories of International Relations (1990). |
| 6) Ebenstein, william & Edwin Fogelman | Todays Isms: Communism, Fascism, Capitalism (1985). |
| 7) Hagedron, Robert | Essetials of Sociolog (1983). |
| 8) Hague, Red & Martin Harrop | Comparative Government An Introduction (1982) |
| 9) Kebschull, G. Havey | Politics in Transitional Socities (1973). |
| 10) Laver, Michael | Invitation to Politics (1983). |
| 11) Mathews, Roberto. & Arthur G. Runbinoff & Ianice Gross stein | International Conflict & conflict Managemet (1989). |
| 12) Rourke, T. Joh | International politics on the world stage (1993). |
| 13) Smith, Micael ,& Richarad little & Michael Shackleton | International politics (1991) |
| 14) Spero, Joan Edelman | The Politics of International Economic Relations (1990). |
| 15) Starvianos, L. S. | Global Rift (1981). |
| 16) Truzzi, Marcel | Sociology, the classic statesments (1971). |

B
4.40
HAZ
7327



دا کتاب چې ترېوه حده په لنډه
او ساده ژبه لیکل شوی دی هغو
درنو لوستونکوته چې سیاست
سره علاقه لري او یا غواړي د
سیاست لمړنیو مسایلو سره
پېژندګلوي حاصل کړي له
ګټې خالي نه ښکاري.

Download from:aghalibrary